# ژبه

## له بابا ادمه تر دې دمـه

ډاکټر رحمت ربي زيرکيار، ژبپوه او څېړونکی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډه پېژندنه:

دکتاب نوم : ژبـــــه له بابا ادمه تر دې دمه

ليکوال: ډاکټر رحمت ربي زيرک يار، خپلواک څېړونکی

Language: From Adam to Present

By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar, Independent Scholar, U.S.A.

December 11, 2010

۲۰ لينده (قوس)، ۱۳۸۹ لمريز

زرځېړی (تَوزند اُکس)، کليفورنيا، امريکا

انلاين چاري: مختاراحمد احسان – لراوبر کتابتون – http://larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لـړلیـــــــک


- ډالۍ ----------------------------------------
- مننه----------------------------------------
- ننتوځ----------------------------------------
- ۱—ژبه له کومه راغله؟----------------------------------
- ۲—د ځواب کاریکاتور:د ژبې د منشابحث ولې تم شو ؟-----------------
- ۳—د احمدشاه بابا بې کماله لمسیان---------------------------
- ۴—ژبه په تولنه کې، وینه په لابراتوار کې--------------------------
- ۵—پښتو په ارګ،جومات او اساسي قانون کې-----------------------
- ۶—پښتو په ګوانتانامو کې او فارسي په ارګ کې---------------------
- ۷—ژب سیاست او ژب پلان-----------------------------------
- ۸—د ژبې سیاسي اقتصاد:«په اردو یې ګټم او په پښتو یې ښتم»-------------
- پـــا یلـــــه-----------------------------------------
- دوه ملـونـــــه----------------------------------------
- الف-هغه هېوادونه چې اساسي قوانین یې د ژبې په اکله مقررات لري---------------
- ب-هغه هیوادونه چې اساسي قوانین یې د ژبې په اکله مقررات نه لري ----------------
- د کتاب پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالــۍ

یوناني فیلسوف اپلاتون د غوره ټولنې (کمال مطلوب ټولنې) لپاره په فیلسوف واکمنانو را چاپیر و: په دې ډول چې یا دې پاچاهان فیلسوفان شي یا دې فیلسوفان پاچاهان شي. اپلاتون په خپل ژوند کې فیلسوف واکمن یا واکمن فیلسوف مینده نکړ. خو ما خپل فیلسوف واکمن مینده کړ: زما په زړه کې جناب ډاکتر صاحب عبدالصمد حامد هم پوه مشر دی او هم مشر پوه (سینیر سکالر) دی. زه دا کتاب خپل پوه مشر او مشر پوه منلي ډاکتر عبد الصمد حامد ته ډالۍ کوم ځکه چې خپله پوهه، خپله عقیده او خپل هیواد یې په هیڅ نه دي پلورلي، په علمي موضوعګانو کې یې زما سره نیغ بحث کړی دی او په خپلو سازونکو نیوکو او پوښتنو یې زما څیړنې غښتلې کړې دي. د بیلګې په ډول، زما په دې کتاب ګوتې کې د ده دوه پوښتنو زه لا زیاتې څیړنې ته وهڅولم: لومړی، په دولتونو کې د رسمی ژبې او ملي ژبې د توپیر مثالونه به کوم وي؟(د دې کتاب اووم فصل). دوهم، په نولسمه پیړۍ کې په فرانسه کې د ژبپوهنې ټولنې ولې د ژبې د منشا بحث منع کړ؟ (د دې کتاب دوهم فصل). دغه شان د پوه مشر او مشر پوه ډاکتر عبد الصمد حامد مفکورو زما په یوه بله انګریزي لیکنه کې هم ګټور رول لوبولی و، په دې سرلیک

Zirakyar, Relocate United Nations to Jerusalem to Harmonize Civilizations, 2008. Electronic Version

منلی او سپین سپیڅلی سړی ډاکتر عبد الصمد حامد یو پوهنتون دی چې سړی پکې د دین او دنیا منځګړتیا زده کولی شي. افغانستان دا سې چاته کلکه اړتیا لري چې د دین او دنیا په منځ کې منځګړی (واسطه) شي. ډاکتر رحمت ربی زیرکیار

۵/د سمبر/۲۰۱۰=۱۴/لیندۍ (قوس)/۱۳۸۹ المریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننــــــــــه

ښاغلي ورور ابراهيم نعيمي دېته ملا تړلې ده چې د ژبې د اهميت په اکله زما خورې ورې پرتې ليکنې د کتاب په بڼه ټايپ او خپرې کړي. له دې امله چې د پښتو ټايپ مې نه و زده کړی، د ژبې د اهميت په اکله زما د ليکنو ستره برخه ناچاپه پاتې وه. په ډيری (دوسيه، فايل) کې غلې شوې وه (يوائې دوه ليکنې مې په دې سرليکونو خپرې شوې وې: «د احمد شاه بابا بې کماله لمسيان په ارګ کې»، او «پښتو په ارګ، جومات او اساسي قانون کې»). پاتې شپږ فصلونه، ننتوځ او پايله نوې او ناچاپه دي. زه د زړه له کومې د محترم ورور ابراهيم نعيمي د تخنيکي، کلتوري او پوهنيزو هڅو مننده وی يم او د ملي احساس او علمي خدمت ستاينه يې کوم. تو ده دې وي د دې ښاغلي او مبتکر ورور خپلواکه کلتوري دېره!

ډاکټر رحمت ربی زيرکيار

**۵**/ د سمبر/۲۰۱۰=۱۴/ليندی (قوس)/**۱۳۸۹**المريز

زرخېړی (تَوزند اُکس)، کليفورنيا، امريکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نــــــــتـوځ

نن د پوهاوي راپوهاوي د لوښي (وسيلې) په ډول د ژبې وظيفه اسانه شوې ده، خو خبره د ژبې په هويتي- احساسي وظيفه کې ده او په يوه مشخصه سياسي ټولنه(دولت) کې د ژبې د سياسي اقتصاد په ساحه کې ده .

دا کـتاب د ژبې بـېلا بـېلې ديـني، ازلـي(ذاتي)،تاريـخي-پرمختيايي، ،هويتي، ارتباطي (مراوده وي)، سياسي-ملي او اقـتصادي څنډې څيړي، په بـشري ټـولنـو کې د ژبـې اهميت را سپړي، او هغې مشکلې پوښتنې ته د ځواب په ميندلو رڼا اچوي چې ژبه له کـومـه راغـله. بله غـټه پوښتنه داده چې که د ژبـې تکاملي پرمخـتيا (اِيوليوشنري ډيولپمينټ) واقعـيت وي، دغـه عـملـيه به نوره په کومه خـوا روانـه وي او پـخپله زموږ انسانانو تکاملي پرمختيا به کـوم پړاو ته ورسيږي؟! دې پوښتنې ته ځواب به د راتلونکو پوهانو په مغزو کې خاپوړې وکړي

ژبه نړدې يوه «معجزه» ده چې په وينا کې نه ځايـيږي، تو پير نه لري چې له کومې څنډې ورته وګورو. که ژبه نه واى، دينونه به ناشونى واى، انسانان به يو بل ته پرديان واى، ...بې له ژبې به استعدادونه پټ واى او فکرونه به شړ واى. کمپيوټرنيټ (کمپيوټري جال) نن يوه اريانوونکې پرمختيا ده، خو د پخواني بې جسمه واقعيت(ژبې) سيورى دى. په دې کتاب کى به لوستونکې د ژبې د بحث د ژورتيا خوند وڅکي، د ژبې د مرموزو څنډو ننداره به وکړي، او د امريکايي کمياګر او ژبپوه بن جمين لي وورف د فرضيې(هيپاتيزيس) سره به اشـنا شـي.

په دې کتاب کى سربيره په ډالۍ،مننې، ننتوځ، پايلې (نتيجې) او دوه ملونو اته پړکي (فصلونه) خوندي شوي دي. لومړى پـړکى د ژبې په منشا راڅرخي. دوهم پړکى د ې پوښتنې ته ځواب لټوي چې په نولسمه پيړۍ کې په فرانسه کى د ژبپوهنې ټولنې ولې د ژبې د منشا په اکله بحث منع کړى و. دريم څپرکى زما په خوب ليدلو (۱۳۷۵-۸-۱۸ لمريز=۹ نومبر۱۹۹۲ زييز) را چاپير دى چې په صحنه کى يې احمد شاه بابا ،پښتو بابا محمد ګل مومند، ويداند (علامه) سيد جمال الدين افغان،رام چند، او محمد څرګند لوبغاړي دي. په څلورم پړکي کى د افغانستان د يوه کړکيچ په هغه توپير ګړيـږم چې د سياسي هېوادوال(سياسي تبعه) او کلتوري هيوادوال ترمنځ عملا په دولتي رسمي اداروکې ليدل کيږي. په پنځم پړکي کى په ارګ(دولتي مرکز)، جومات، او اساسي قانون کى د پـښتو په چلن رڼا اچول شوى ده. په دى پړکي کې اروا ښاد وزير محمد ګل مومند په شلمه پيړۍ کې د لومړي او هغه جدي مفکر په څير معـرفي شوى دى چې د ژبـې په سياسي اقـتصـاد پوهـيده. په شپـږم پـړکي کې دوه هيواد دوست پښتون ساپوهان( پوهاند سيد بهاالدين مجروح او ډاکټر کبير ستورى) معرفي شوى دي او په څنګ کى يې د طنز په ډول په ګوانتانمو کې د پښتو رسمي کېدنې ته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلالت چېن حامد کرزي په ارګ کې د پخوا په شان د فارسي رسمي کيدنې ته ګوته نيول شوې ده. او وم پړکی د ژبې او عقل په اکله په يوه مهمه عربي مقوله پيل کېږي چې د ژبپوهنې ډاکټر نيکولس اُستلر پرې د خپل پنهه کتاب سريزه پيل کړې ده. په دې تر ټولو اوږده پړکي کې د رسمي او ملي ژبو پولې ښودل شوې دي، د ژبني ټکرونو لاملونه ښودل شوي دي، او د ژب سياست (د ژبې د معياري کولو) او د ژب پلان اساسات او بېلګې په کې انځور شوي. په اتم پړکي کې په برتانوي پاکستان کې چې د افغانستان په خاوره يې خېټه اچولې ده او د پښتونخوا سره استعماري چلن کوي، د پښتو ژبې سياسي اقتصاد راسپړل شوی دی. استعماري اسلامي پاکستان د دې مخه نيولې ده چې په پښتونخوا يانې افغانيه کې دې پښتو ژبه د پښتنو په هويت سازۍ کې اغيزمن رول ولوبوي. په هند کې د مغلو د واکمنۍ له برکته اردو ژبه چې په برتانوي پاکستان کې د اووه عشاريه درې سلنو (۷،۳٪) وګړو (مهاجرو) ژبه ده په دغه هېواد کې ملي او اسلامي ژبې ته جګه شوې ده. خو په برتانوي پاکستان کې پښتو ژبې د دې وس و نه مېنده چې د قدرت په قلمرو کې د برخې خاونده شي. په پايله کی مې د بحث تنسته رالنډه کړې ده او په ښکېل شوي افغانستان کې د ژبې د کړکېچ د حل لپاره مې خپلې ماتې ګوډې سپا رښتنې وړاندې کړې دي.

ګوندې زما دا کتاب ګوتې په افغانستان کې د ژبې د احساسي مسلې منطقي بحث ته لار پرانيزي او په دې ډول د علمي بحث په رڼا کې د حل لار ولټوله شي. وروري به کوو، حساب تر منځ. «له کورا او کلي ووځه، خو له نرخه مه وځه!» افغانان بايد د نورو ملي ټولنو له واقعيتونو نه نوکې زده کړه وکړي. نږدې لس کلونه وړاندې د ۲۰۰۰ زيييز کال په پسرلي کې د اسلامي ايران ولسمشر محمد خاتمي د ايران په شمال کې د ګورګيانو غونډې ته په وينا کې په دې ټکي ټينګار وکړ چې: «درين دنيا نمی توان از کثرت صرف نظر کرد.» ولـولئ: رحمت ربی زيرکيار، ملي ستم، مليت او خراسان. خپروونکی: د پښتـني کلتـور د ودې ټولنه-جرمني، د خپرونو لړۍ ۱۲. چـاپخـي: ملت پريس، لاهـور. د چـاپ کـال: ۱۳۸۰المريز/۲۰۰۰ زيـيز، ۱۱۹ مـخـونه، دلـته ۲مـخ

دسمبر /۱۲/ ۲۰۱۰=۲۰ ليندۍ(قوس)/۱۳۸۹ زرغېږۍ،کليفورنيا، امريکا

ډاکټر زيرکيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبه له کومه راغله؟

له فرعونه تردی دمه «په علم کی خوراکلک مشکل» دی پوښتنی ته دځواب میندل دی چی ژبه دکومه راغله؟ تراوسه انسانان یواځینی ژوی دی چی دوینا پیرزوینه پری شوی ده. که له یوی خوا ژبه لوښی «وسیله» ده دپوهاوی راپوهاوی(افهام وتفهیم) لپاره، نوله بلی خوا ژبه تړون اوغوټه ده دپیژاند (هویت) لپاره. دوسیلی په ډول د ژبی وظیفه اسانه شوی ده. نن ناشونی نه ده چی دامریکی له راکی غرنه یو امریکایی په انګریزی ژبه د سپین غر دیو پښتون سره په پښتو ژبه دهمزمان الکترونیک ژباړی په برکت مفاهمه وکړی بی له دی چی دواړو د یو بل ژبی زده کړی وی.

خوخبره د ژبی په هویتی–احساسی وظیفه کی ده ، او په یوه مشخصه سیمه کی د ژبی د سیاسی اقتصاد په ساحه[1] کی ده. هغه ولس چی خپل دولت یی نه وی جوړکړی، رسمی ژبه نلری خوملی ژبه لری.عموماً ملی ژبه دولتونه زیږوی، او بیا دولتونه رسمی ژبه ټاکی.

«قوة الانسان فی عقله ولسانه.» دډاکټر اولستر[2] دپنډ کتاب سریزه په دغه عربی مقوله پیل شوی ده. (اوستلر، دلفظ امپراتوری: د ژبی یو تاریخ، نیویارک اولندن: هارپر ۲۰۰۲)

یو سل ودوه څلویښت(۱۴۲) کلونه وړاندی په (۱۸۸۲ز) کال کی، په پاریس کی د ژبپوهنی ټولنی د ژبی دمنشأ په اکله بحثونه منع کړل. له دی نه شپږ کلونه وروسته په(۱۸۷۲ز) کال، په لندن کی دلغت پوهنی ټولنی(فیلولوجیکل سوسایټی) عینی لارغوره کړه. د یوی پیړی لپاره د ژبی دپرمختیا په اکله بحثونو ته پاټک اچول شوی و. په (۱۹۷۰ز) کلونوکی، د ژبی دمنشأ (پیل) اوپرمختیا به اکله غلی شان بحثونه پیل شول، او ډیرځلی به ورسره یوه بښنه هم مل شوی وه. پایله دا شوه چی دغه غلی بحثونه غلی پاتی نشول، بلکه دیوه درانه اواوږده وربښت په شان یی په تیرو(۳۰) کـلونوکی دمضمونو، کتابونو اوغونډو خوړونه راوویستل. اوسني په بحثونو ډک اومنډلي حالت څه ناڅه انارشی (ګډوډی اوخپل سری) رامنځته کړی ده چی په پایله کی یی ښایی ځینی خلک دپخوانی حالت خوبونه ووینی، اود ژبی د منشأ او پرمختیا په اکله دبحثونو بندیز غوره وګڼی؟!

دچـارپوهانو ډیره کـیان په دی اند دی چی ژبـه اساساً یوځانګړی بشری استعداد دی. خو په وراثت پوهنه[3]، لرغون پوهنه(ارکیالوجی)، عصبی تن پوهنه(نویروفیزیالوجی) او په کمپیوټری ماډلونو کی پرمختګونو غښتلي او کله ناکله

---

[1] - political economy of language

[2] . Dr.Nicholas Ostler, Empires of the word: A language History. New York and London: Harper perennial, 2006,xix

[3] - genetics

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړکیچنو علاموا ولاربنودنوته لارپرانیستلې ده. کریستن کینیلي[4] په خپل وتلې کتاب کې د ژبې د منشأ په اکله اوسنۍ بحثونه راغونډ کړي دي.
لیکواله دعلوموتجربه کاره ژورنالسته ده اوله کمبریج پوهنتون نه یې په ژبپوهنه[5] کې ډاکترې ترلاسه کړې ده. ددې کفایتونوپه مټ لیکواله ددې لایقه ده چې خپل کتاب (نن په علم کې دخوراکلک مشکل) په حل راوڅرخوي[6]
ژبه نژدې یو «غیرې قابل بیان معجزه» ده، تو پیرنلري چې له کومې څنډې نه ورته وکسو. ژبه هغه لوښې(وسیله) ده چې انسانان یې له سپیره ډاګ نه راوویستل تاریخ یې هسک کړ، اوموږته یې ددې وس راکړچې فکروکړو، دغه ډول څیزونه په تصورکې انځورکړواوخپل مجرد[7] فکرونه په خورالیرې واټنونوکې د یوبل په پوهاوې راپوهاوې(افهام اوتفهیم) کې وکاروو. خوکوټلې پوښتنه داده چې پخپله ژبه له کومه راغله؟!! په دې اکله دوه نظریې شته
لومړې نظریه هغه یوه ده چې دامریکې دوتلې ژبپوه نوام چامسکي[8] له خواراوتلې ده اولـه کلونوراهیسې برلاسې ده. په ساده وینـا، د پوهاند چامسـکې په انـد:
۱ـ ژبه یو ځانګړې بشرې استعداددی
۲ـ ژبې دانسانانوپه پیدا ایښت[9] کې کلک سیمونه غځولې دي.[10]
۳ـ ژبه دخپلواجرأتولپاره مخکې له مخکې ټاکل شوې(ازلي) ګرامري قواعد لري. په بله وینا، ماشومان دګرامرې جوړښت په اکله ذاتي یا ازلي پوهه لري، اودغه ګرامري قواعد په ټولو بشري ژبوکې خوندي شوي دي. دغې ذاتي یافطري[11] پوهې ته جهاني ګرامر[12] وایي. دنړې د ژبوتوپیرونه دانسانانوپه مغزوکې دنصب شوو مشخصاتو[13] په څیرپراته دي. دپوهاندچامسکي په اند، دانسانانوماغزه د شعوري اوادراکي فکرچینه ده. دلته ادراکي عملیې[14] رواني دي چې په فکر[15](تعبیر، احساس)، تفسیراوتحلیل، حافظه.... اوتصورراڅرخي. خوکیدای شي چې انسانان

---

[4] - Dr.Christine Kenneally, the First word: The Search for the origins of language. New York: Viking/Penguin Group, 2007, x+357 pages
[5] - Linguistics
[6] - The hardest problem in science today.
[7] - abstract
[8] - Noam Chomsky
[9] - genes
[10] - Hardwired into our genes
[11] - innate
[12] - Universal grammar
[13] - Parameter settings in the brain
[14] - Cognitive processes
[15] - Perception

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته متوجه نه وي. د پوهاند چامسکي له دغه ډول نظره سړی داسي پوهيږي چي د ژبي تکاملي مفکوره لږترلږه دشک لاندی ده. دليل يي دادی چي د ژبی دتکاملي پرمختيالپاره لاتراوسه داسي کلکي نښي نښانی[16] نه دی ميندل شوی چي دډيرو زمانوپه اوږدو کی د ژبی منشأوښيي. په بله وينا ، مشکل دادی چي پخوانۍ وينا(لومړی لفظونه يا لومړۍوينا ) جسمي نښې نښانې (فوسيلونه ) نلري.

د ژبې په اکله دوهم نظر د ژبې په تکاملي پر مختيا (ايولوشنري ډيولپمنټ)راڅرخي.

د ژبې د منشا د ميندلو لپاره دادراک پوهانو ، ژوندپوهانو ، وراثت پوهانو ،او ژوپوهانو[17]څيړنې د سړی هيله غښتلي کوی چي د ژبی تکاملي پرمختيابه يووخت راجوته(برسيره ) شي. په دی اړوندکی دکريستين کينيلی کتاب[18](لومړی ټکی: د ژبی دمنشأګانولپاره څيړنه، نيويارک ۲۰۰۷ ) ګټورمعلومات وړاندی کوی. په دی کتاب کی ليکوالې کلکه هڅه کړی ده چي د ژبی دتکاملي پرمختياتنسته راوسپړی، اوپه دی رڼاواچوی چي څنګه د دغی پټينې (قشری ) عمليی په اوږدو کی يوغږيدونکی ژوی[19] راوتلی دی. بيلابيلی تجربی(لکه داشاروپواسطه دبيزوګانووينا ، دتوتيانوادراک، په بيزوګانوکی دشميرنی اوګرامراستعداد ، اوپه دولفين[20]کی ځان پيژندنه)[21] موږديته رابلی چي د ژبی درامنځته کيدلو په اکله په خپل نظرکی بدلون ته چمتوشو. داسی معلوميږی چي ژبه زموږ په جينونو[22]کی دنناخاپی، اريانونکی اوښتون له لاری نه ده زيږيدلی بلکی ديوی تدريجی عمليی په اوږدوکی رامنځته شوی ده چي جسمی، عصبی او کلتوری نوښتونه پکی شامل دی.

اوس انسانان کولای شی چي دکمپيوترونونړيوال جال ته ورننوځی، اوديوڅوتڼيو په ټومبلوسره دمعلوماتوپه نړی کی وګرځی، اودنااشناخلکوسره په يوه داسی کچه راشه درشه(مراوده ) کی اخته شی چي يوڅه وړاندی يي چاتصورنشوکولای. دبريښنا ييزجال(کمپيوترنيټ ) راويستل په تخنيکی پرمختياکی يومحيرالعقول ټوپ و. خوپه عينی حال کی دغه اريانوونکی پرمختياديوغټ اوپخوانی څه سيوری و.د هغه څه سيوری چي موږورته ژبه وايو. په واقيعيت کی ژبه ترهرڅه دمخه او سټره معلوماتی شاهراه[23]ده يانی ژبه(نړدی لومړی واقعی نړی)[24]ده. ژبه

[16] - Fossils

[17] - Animal researcher

[18] - The First word

[19] - Talking animal

[20] - Dolphins

[21] - Self-awareness

[22] - Genes

[23] - Information highway

[24] - The first virtual world

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعي جهانشمول جال[25] دي چې هرڅوک ورته لارلري (مخ ۳).
ليکل يوډول فوسيل(نښه، علامه) ده. ليک موږته دهغو ژبو په اکله يوڅه ويلی شي چې پخپله ليک کی ثبت شوی وی. پخپله ليکل شپږزره(۲۰۰۰) کلنه مخنيه(سابقه) لري(مخ ۵). ژبه غيری جسمی، معنوی موجودده، له دی امله الفاظ ډبرين، کلک موجوديت نشی لرلی. خود انسانانو په وجود کی د ژبی سره اړوند جسمی غړی د ژبی په تکاملی عمليه رڼا اچولی شی. ماغزه، ژبه، مری، سږی، پزه او وړه ژبه (الکی ژبه) ټول«دقيقاً د غږ په توليد کی شامل دی»[26]:
دانسان په وجود کی پاسته نسجونه[27] زرله منځه درومی. وروسته له اوږدی زمانی، انسان په دی بريالی شوی دی چی د ژبی سره داړوند وفوسيلونو چاپونه(اثرونه)[28] پيدا کړی. هغه چاپونه چی دلري پخوانيانو هډوکو پريښی دی.
خود انسان د ککری کچه(اندازه) يا د ورون هډوکی د ژبی د پرمختيا په اکله زموږ پوهه همدومره غښتلی کولی شی.
دانسان دلري پخوانيانو دهډوکودفوسيلونو دچاپونو(اثرونو) اندازه موږته نشی ويلای چی لومړی غږ[29] کله ويستل شوی و. دغه چاپونه يا اثرونه موږته نشی ويلای چی لومړی ټکی يونوم و(لکه خرمن، زمری، تيږه)، يوصفت و(لکه ګلالی، غوريالی، توريالی)، يوفعل و(لکه ښنبل، خوړل، وهل، ښملاستل، ځغاستل).... اوکه يو امرو(لکه ودانګه، وښنبه، وخوره). زموږد پخوانيانو هډوکی موږته نشی ويلای چی لومړی غږچاويستلی ويا چا اوريدلی و.
ايا ژبه د ځان سره په غږيدلو[30] پيل شوه، اوکه د ژبی اساسی فطرت دا دی چی اړيکمنه[31] يانی ارتباطی وی؟
خبری(محاوره، صحبت) لږترلږه دوه انسانانو ته اړتيالری. سړی څنګه يو داسی ژبه خلق کولای او راويستلی شي چی په عينی وخت کی يې بل سړی په مطلب پوه شی؟ په بله وينا، که يو سړي ژبه(لومړی وينا) راوويستله، هغه دخپلی وينا په مطلب پوهيده. هغه دوهم سړی چی لومړی اوريدونکی و، دلومړی وينا کوونکی په مطلب څنګه پوه شو؟ په ساده ژبه: وينا خود شفر(رمز) په شان وه. (هغه رمزو چی پخپله ويونکی يې کيلی لرله او پری پوهيده)، هغه اوريدونکی د شفر کيلی څنګه ميندہ کړه. هغه کيلی چی د وينا ډکون(متن، مطلب) راوسپړی[32]؟ فوسيلونه[33] دغه

[25] - Real worldwide web

[26] - Are all intimately involved in speech production

[27] - Tissues

[28] - impressions

[29] - first word

[30] - Soliloquy

[31] - communicative

[32] - decode

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې ته ځواب نشي ویلای. کوم آینشتاین[34] به هم پیدا نشي چې د ژبې تکاملي پرمختیا ته یو اځنې ارت او برلاسي نظر واچوي. دلغتونو او جملو ډېرې پخوانې منشأګانې را برسیره کول دیته اړتیا لري چې یو شمیر بیلابیل علوم، په سلګونو ژمنوال(متعهد ) او زیرک چارپوهان، او یو شمیر سترګوراو اوږدفکره وګړي[35] ګډ کارته ملاوتړي.اوګډ معلومات راوباسي. په دې پوهیدل چې ژبه څنګه پیل شوه، هغې تکنالوجۍ ته اړتیا لري چې «تیره اونۍ راوتلې وي، او هغو تجربوته اړتیا لري چې پرون اجرأشوې وي.»[36]

دلته وینو چې دشفرکیلي ژباړې ته ورته ده. که ښه زیرشو، دیته به موپام را وګرځي چې ښایي بیله ژبې به انسانان یووبل ته پردیان وای: بې له ژبې به انسانان دیوبل په احساس نه پوهیدلای، بیله ژبې به دیوبل په ګټه نه پوهیدلای، بې له ژبې به یې استعدادونه پټ وای، بې له ژبې به یې فکرونه شړوای، بې له ژبې به انسانان بې برکته وای، بې له ژبې به دینونه ناشوني وای، بې له ژبې به تاریخونه ورک وای!

یوه غټه پوښتنه داده چې که د ژبې تکاملي پرمختیاواقعیت وي، دغه عملیه به نوره په کومه خوا روانه وي، او پخپله زموږ انسانانو تکاملي پرمختیا به کوم پړاوته ورسیږي؟[37]

دډاکټرکریستین کینیلي «لومړی وینا»[38] په نوم کتاب وروستنی وینا نه ده. په دغه سرلیک هغه چارپوهان بې برخې پاتې شوې دي چې په علامت ژبه[39] کې یې نوم ویستلی دی[40]. داسې بریښي چې د «لومړی وینا» په نوم کتاب کې، ژبې ته یواځې د وینا ژبې[41] په سترګه کتل شوي دي. پخپله دکتاب لیکواله ډاکتر کریستین کینیلي کاږي چې وینا د ژبې لپاره «حیاتي» یانې زښته ډیره مهمه[42] ده. سره له دې هم، ژبه دلاسونو په خوځولو او دمخ په څیره کولو[43] کې

[33] - Fossils

[34] - Einstein

[35] - Visionary individuals

[36] - Finding out how language started requires technology that was invented last week and experiments that were conducted yesterday. Pp.5 - 6

[37] - (If language has evolved, where will it head next? And where, for that matter, will we?) (P.11).

[38] - The first word

[39] - sign language

[40] - Ursula Bellugi, Karen Emmorey David F. Armstrong, Sherman willcox, and the late William C. stokoe

[41] - speech language

[42] - crucial to language

[43] - expressions

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شان غځېدلې ده لکه په غړونو[44] کې چې خوندي شوې ده. بنا یې ژبه به په لومړي پړاو کې د علامت ژبې په څېر رامنځته شوې وي ، او وروسته به یې د غږ ژبې او ویناژبې په څېر پرمختیا کړې وي. اوس هم وینو چې لاسي حرکتونه زموږ په ویناکې اوبدل شوي دي. د زیاتو معلوماتو لپاره ولولې د امریکې په اوکلند پوهنتون کې د ساه پوهنې د پوهاند کتاب:[45]

د مغزو او ژبې اړیکې په هغو انسانانو کې هم لیدل کیږي چې حمله(سکته) پرې راغلې وي، یانې(ستروک ویکټمز)[46] وي. سکته وهلي انسانان د ویناقدرت له لاسه ورکوي چې افوزیا[47] ورته ویل کیږي. په دغسې حالت کې هغوی نه یوازې داچې په راشه درشه( مراوده، کمونیکیشن) کې مشکلات لري، بلکه دا هم ورته ډېره سخته وي چې معلومات رده بندي[48] کړي، په یادکې یې وساتي او تنظیم یې کړي. د ډاکټرې کریستي کینیلي په کتاب(لومړي وینا ) کې یو پام وړ پوښتنه خوندي شوې ده: څه به پیښ شي چې که یو بیزو چې علامت ژبه[49] یې زده کړې وي لومړي ځل یو بل بیزو ووینې چې په عین اندازه یې علامت ژبه زده کړې وي؟ د دغه مخامخې پایله دا شوه چې په علامت ژبه کې د دواړو همسویه بیزوګانو ترمنځ راشه درشه(مراوده ) ونشوه، بلکه پرځای یې د دواړو ترمنځ د «علامت چغوجګړه» راپورته شوه.[50]

دا تجربه یو ځل بیا په سړي کې دا فکر غښتلی کوي چې ژبه یوه انساني ځانګړتیا ده.

یوناني تاریخ پوه هیرودت[51] لومړی انسان بریښي چې نژدې دوه نیم زره کلونه وړاندې به یې د ژبپوهنې[52] یو غټ تکی ته ګوته نیولې وي. دغه شان مصري واکمن، فرعون سمیتیکاس[53] (۶۶۴ تر۶۱۰ قبل المیلاد ) لومړی سړی بریښي چې څه د پاسه دوه نیم زره کلونه وړاندې به یې د ژبپوهنې ډېره ترخه تجربه بشپړه کړې وي. هیرودوت(۴۸۵ تر۴۲۵ قبل

---

44 - vocalizations

45 - Michael C. Corballis, From Hand to mouth: The Origins of language. Princeton university press,2002

46 - stroke victims

47 - aphasia

48 - categories

49 - sign language

50 - "What resulted was a sign-shouting match,neither ape was willing to(isten), Dr.Kennaeally reports.

51 - Herodotus

52 - Linguistics

53 - Psammeticus

(c) ketabton.com: The Digital Library

المیلاد ) په مصر کی دخپل سفرپه اوږدو کی په یوه اریانونکی تجربه خبرشو. په هغه تجربه چی دفرعون سمیتیکاس په امر بشپړه شوی وه. هیرودوت کاږی چی دغه فرعون په دوه(۲) ماشوم هلکانو په یوه لرې اوپټ ځاي کی دیوالونه راتاوکړل اوپه دی ډول یی له بهرنی تماس نه ګوښی اوبیل کړل. فرعون سمیتیکاس په دی اند وه چی هرڅه د دغو هلکانو له خولی را ووځی دانسان د ژبی پیل(منشأ ) به وی اودنوروژبولپاره به کیلی وی. دتاریخپوه هیرودوت په وینا په انزواکی ساتل شوو هلکانو په فریګیان[54] ژبه کی دډوډی لپاره لفظ (بیکس)[55] راوویست.

فریګیاداوسنی ترکیی په منځ کی یوه پاچهی وه. مسیدونیا(مکدونیا ) دجنوب ختیز یوروپ هغه سیمه وه چی دیونان، بلغاریا اویوګوسلاویا ځینی برخی پکی شاملی وی. مکدونیا دیونان په شمال کی دیوی لرغونی پاچهی نوم هم و. فریګیانو[56] په لرغونو وختونو کی په مکدونیاکی ژوند کاوه. هغوی په پیل کی دبروګیس[57] یا بریګیس[58] په نوم نومول کیدل. وروسته دفروګیس[59] اوبیا د فریګیس[60] په نوم نومول شول. دا هغه مهال وچی په لرغونی یونان کی یونانی ژبه ملی(هیوادنی ) مقام ته نوه رسیدلی. دتروی[61] دښاری دولت په مهال ځینی فریګیان دتروجانو په ملګرتیا[62] اوحمایت سره اناتولیا(اوسنی ترکیی ) ته لاړل. تروی[63] په شمال لویدیزه کوچنی اسیاکی د داردانیلس په شاوخواکی لرغونی ښاروااود تروجن جګړی[64] سیمه وه. پخپله تروجن ژبی دمړینې خوند وڅاکه. له دې امله سخته ده چې په ډاډ سره د تروجن ژبې اوفریګی ژبی اړیکی راوسپړل شی. لاتراوسه داهم نه ده جوته شوی چی فریګیان به کله په ترکیه کی هتیت امپراتوری[65] ته ورغلی وی اوددغی واکمنی سره به یی څه ډول اړیکی ساتلی وی. معمولاً

---

[54] - Phrygian

[55] - Bekos

[56] - Phrygian people

[57] - Bruges

[58] - Bryges

[59] - Phruges

[60] - Phryges

[61] - Troy

[62] - Trojan allies

[63] - troy

[64] - Trojan war

[65] - Hattite

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سی اټکل کیږي چې هتیت وا کمنی به له نن نه دري زره دوه سوه(۳۲۰۰ ) کلونه وړاندې ددولس سوه(۱۲۰۰) قبل المیلاد په شاوخوا کې خوبیالي شوي او مرګوني شوي. هو ، په دا ډ سره ویل کیږي چې فریګیا[66] د هتیت په خاوره کې رامنځته شوي وه ، او دفریګیا دولت په اتمه(۸ ) قبل المیلاد پیړۍ کې راجګ شوی و. فریګۍ ژبه دشپږمې زیږی پیړي پوري یاني نږدې دد یارلس سوه(۱۳۰۰ ) کلونو لپاره ژوندي پاتې شوي وه. په بالکان کې فریګیا ن په یوناني مکدونیا کې مدغم شوي وو. د یونان لرغوني حماسي شاعر هومر[67] (اتمه یا اووه مه قبل المیلاد پیړۍ ) په خپل ایلیاد[68] نومې اثر کې تروجن جګړې ته ګوته نیولې ده. تاریخپوهان وایي چې هومرشاعرو ، نه مورخ. له دې امله دنوموړي له خوا وړاندې شوي تاریخي معلومات باید په احتیاط سره وکارول شي ، که څه هم ځینې تفصیلات یې دلرغون پوهانو (ارکیالوجستانو ) له خوا منل شوي دي. فریګیانو یوه اینډو- اروپایي[69] ژبه ویله، او هغه پټې(الفبا ) یې منلې وه چې اصلاً فونیشیانو[70] راویستلې وه. پخپله فونیشي پټې دوه ویشت(۲۲ ) توري لرل چې له کنعاني وزمه یا سینایي وزمه ژبې[71] نه راوتلې وه. د کنعاني وزمه ژبې پټې لومړنۍ غلې(صامت ، بې غږه ) الفبا وه. کنعان یا سینا په اتلسمه(۱۸ ) یا اووه لسمه (۱۷ ) قبل المیلاد پیړۍ کې د مصریانو لخوا نیول شوي وه. که د کنعاني وزمه یاني مخکنۍ کنعاني ژبې پټې ته یو ځغلنده نظر واچوو ، وبه وینو چې په اصل کې له مصري تصویرلیک[72] نه راوتلې ده. په لنډه وینا: د مصري اغیز په مخکنۍ کنعاني ژبه[73] پریوتلی و ، مخکنۍ کنعاني ژبې په فونیشي ژبې اغیز اچولی وا و فونیشي ژبې په خپل وار سره فریګۍ ژبه[74] تر اغیز لاندې نیولې وه.

د فرعون سمیتیکاس ربړونکې او غوني زیګوونکې تجربې وښودله چې که څه هم ماشومان ځانله(منزوي ) پریښودل شي ، هغوی کولی شي چې په خپل منځ کې ژبه راوباسي. یوناني تاریخپوه هیرودوت له دغې تجربې نه دې پایلې ته ورسید چې انسانان د خبرو استعداد سره زیږیدلي دي. د فرعون سمیتیکاس له تجربې راهیسې ،

---

[66] - Phrygia

[67] - Homer

[68] - Iliad

[69] - Indo - European

[70] - Phoenicians

[71] - Proto-canaanite or proto – sinaite

[72] - hieroglyphic signs

[73] - Proto – Canaanite

[74] - Phrygian

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیلسوفان د ژبې د منشأ په لټه کې لګیاه شول او په دې ارمان وو چې که دفرعون سمیتیکاس تجربه تکرار کړای شي. خو اخلاقي معیارونو دې اجازه نه ورکوله چې ماشومان په یوه لرې او ځانله جزیره کې په خپل منځ کې پرېږدي او وګوري چې د کومې اصلي ژبې په راویستلو به بریالي شي؟ بله پوښتنه دا وه چې که په انزوا کې ساتل شوي ماشومان اصلي (لومړنۍ) ژبه را وباسي، موجودو ژبو ته به څو مره ورته وي؟ له نن نه نژدې پنځه ویشت کلونه (**۲۵**) وړاندې په نولس سوه اتیا (**۱۹۸۰**) کلونو کې، ژبپوهانو یوه وړه خزانه ومیندله:

دفرعون سمیتیکاس تجربه بیله کوم پلان نه په مصر کې نه، بلکې داخل دلاتین امریکې په نیکاراګوا کې تکرار شوه. اته ویشت (۲۸) کلونه وړاندې په (**۱۹۷۹** ز) کال کې په نیکاراګوا کې انقلاب رامنځته شو:

نوی رامنځته شوی واکمنی په خپل هیواد کې د لومړي ځل لپاره د کڼو[75] ماشومانو د روزلو پروژه پرانیستله. په سلونو ماشومان په ماناګوا کې په ښوونځیو کې ومنل شول. کاڼه زده کوونکي د نړۍ له څه د پاسه دوه سوه علامت ژبو[76] نه بې برخې پاتې شوي وو. هغوی په خپلو کورونو کې د خوراک او څښاک لپاره بیلا بیلې او ډیرې ماتې ګوډې ژب وزمه څیرې پیښې[77] زده کړې وې، خو خپل منځه پوهاوی ناشونی و. کله چې کاڼه ماشومان په ښوونځی کې راټول شول، د یوبل په محدودو اشارو او څیرو پیښو یې ژبنی ودانی پیل کړه او په خپل منځ کې یې ګډه علامت ژبه رامنځته کړه.

په دغه نوي علامت ژبه کې چې د نیکاراګوا یې علامت ژبې په نوم مشهوره شوه، بهرنیو ژبپوهانو هغه څه ولیدل چې د امریکې نامتو ژبپوه پوهاند نوام چامسکي[78] ورته نړیوال ګرامر[79] ویلی و. په دې ډول ژبپوهانو ولیدل چې ژبه پخپله د ماشومانو له خوا رامنځته شوه، نه د لویانو په واسطه. د کڼو زده کوونکو نوې ژبې د مروجې هسپانوي ژبې سره یعنې د ښوونکو له ژبې سره توپیر لاره. ښوونکي وايي چې په ښوونځي کې د دوی موجودیت د کڼو زده کوونکو په نوې ژبه باندې اغیز نه لاره. د ساندینیستاس[80] تعلیمي مامورین په پیل کې د شوروي اتحاد د چار پوهانو د مشورې په واسطه تیروتل. شوروي چارپوهانو ورته ویلي وو چې «ګوت املا» (فینګر سپیلینګ)[81] دې

75 - deaf

76 - sign language

77 - mimics

78 - Noam Chomsky

79 - universal grammar

80 - Sandinistas

81 - Finger spelling

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکڼو ماشو په ښوونځی کی وکارول شی. ګوت املا د ویناژبې پټی یانی الفباد ساده اشاروپواسطه انځوروی. ګوت املا په واقعیت کی لاس پټې ده چی د لاس دګوتو د اشارو له لاری د ټکی(لفظ) توری(حرفونه) ښیي. د بیلګی په ډول:
توری تمثیلوی، خورلاس(دلاس تلی اوټولی ګوتیAد لاس موټی یا سوک د
توری ښیی، د اشاری ګوته او منځنی ګوته چیB ولاړی او دیوبل په څنګ کی) د
توری معرفی کوی، بی له غټی او کوچنی Vولاړی او له یو بل نه لری وی د
توری په ښه کوی[82]Wګوتی نه دری نوری ګوتی ولاړی او له یوبل نه لری د

دپخوانی شوروی اتحاد د چارپوهانو سپارښتنه چی د نیکاراګوا دکڼو ماشومانو په ښوونځی کی دی ګوت املا وکارول شی، ګټوره نشوه. دلیل یی دا وچی کڼو ماشومانو چی د الفاظو فکر نه لاره[83]، څنګه به په پټی(الفبا) پوه شوی وای. دتدریس ناکامی ستراتیجی کانه ماشومان دی ته اړ کړل چی پخپله لاروباسی او دخپلی ژبی ابادی[84] په خپلو لاسونو او مخونو هسکه کړی. دماناګوا ښوونکی په دی پوه شول چی کڼو ماشومانو خپله ګډه ژبنی راشه درشه راوویستله –هغسی راشه درشه(مراوده) چی پخپله ښوونکی پری نه پوهیدل. دا نو څه وو؟!

له نن نه دوه ویشت(۲۲) کلونه وړاندی د(۱۹۸۲ز) کال په نیمایی کی، د نیکاراګوا د پوهنی وزارت دامریکایی پوهاندی جودی کیګل[85] سره تماس ونیوچی په شمال ختیزپوهنتون کی د ژبپوهنی چارپوهه وه او په نیکاراګوا کی رامنځته شوی انقلاب(۱۹۷۹ز) ورته څه ناڅه خوندورکاوه. هغی ته بلنه ورکړل شوه چی د نیکاراګوا په مرکزمناګوا کی د کڼو ماشومانو دښوونځی معما راوسپړی. پوهانده جودی کیګل هلته لاړه او وروسته له نږدی دری اونیو یی د لس کلنو او تنکو ماشومانو د علامت ژبی د شفرکیلی ومینده. هغی سوکه سوکه د نوی علامت ژبی ګرامری نظام هم راوسپړه او په دی ډول یی دامریکی د نامتو ژبپوه پوهاند نوام چامسکی نظریه لاپسی راجوته(څرګنده) کړه چی«د ګرامربیالوجی»[86] ورته ویل کیږی او په مغزو کی پرته ده. دامریکی په رود ایلیند کی په براون پوهنتون کی د فلسفی پوهاندې فیلیشا اکرمن[87] د ژبپوهنی په پوهاندی جودی کیګل باندی نیوکه کوی او په

---

[82] - " The American Finger spelled Alphabet consists of 22 hand shapes that – when held in certain positions and/or produced with certain movements – represent the 26 letters of the American Alphabet." American sign Language: Finger spelling. Electronic version. ( Maj 15,2008)
http://www.lifeprint.com/asl101/finger spelling.htm

[83] - Concept of words

[84] - Linguistic structure

[85] - Judy Kegel

[86] - biology of Grammar

[87] - Felicia Ackerman

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اړوندکی دامریکایي لیکوال لاورینس اسبورن[88] مضمون ته ګوته نیسی (اسبورن خپل مضمون د ۱۹۹۹ زییز کال د اکتوبر په میاشت په نیویارک ټایمزکی خپورکړی و ، او په هغه کی یې د نیکاراګوا د کڼو ماشومانو په علامت ژبه رڼا اچولی وه). لاورینس اسبورن کاږی چی د ژبې د اصالت لپاره په ماشومانو باندی د فرعون سمیتیکاس[89] بوګونکی تجربه ، نن سبا یوازی هغه څوک زغملای شی چی « دجوزیف مینګیلی ضمیر» ولری:[90]

" Yet only someone with the conscience of a Josef Mengele would carry out such an experiment." ( Lawrence Osborne, "A Linguistic Big Bang", New York Times, October 24, 1999, Sunday, Late Edition. Electronic version ( May 5, 2008), http//www.indiana.edu/~langacq/E/05/Nicaragua.htm

ډاکټر جوزیف مینګیلی(۱۹۱۱ – ۱۹۷۹) په جرمنی کی د ادولف هیټلر په مهال د اوشویتخ په اجبارتون کی[91] په بندیانو ، په ځانګړی توګه په غبرګونو[92] طبی تجربی کولی. پوهانده فیلیشا اکرمن په لیکوال لاورینس اسبورن هم ټونګه وهی چی متأسفانه د پوهاندی جودی کیګل په ضمیریی نیوکه نه ده کړی.

دفلسفی پوهانده فیلیشا اکرمن لیکی چی که د ژبپوهنی پوهاندی جودی کیګل[93] په نیکاراګوا کی د خپل تجربوی ښوونځی کڼو ماشومانو او تنکو ځوانانو ته د امریکی علامت ژبه[94] ورښودلی وای، هغوی به د نورو کڼو سره د راشی درشی یانی مراودی وسیله درلودلای. په دی ډول.د پوهاندی فیلیشا اکرمن په وینا.ژبپوهاندی جودی کیګل لکه چی «ښکاری»د ذکرشو وکڼو «دبریالیتوب امکانونه شنډ کړل». [95]

ژبپوهاندې جودی کیګل[96] نه غوښتل چی د نیکاراګوا په تجربوی ښوونځی[97] کی « اصلی بومی ژبه شنډه » کړی. [98]

د امریکی نامتو ژبپوهاند نوام چامسکی[99] هم د نیکاراګوا تجربه یوه اتثتنایی«طبیعی» تجربه وګڼله.[100]

---

88 - Osborne

89 - Psammeticus

90 - Nazi concentration Camp Auschwitz

91- twins

91 - Kegel

94 - American sign language

95 - «Evidently, She(linguist judy kegel) would rather kill the life prospects of these (deaf) children, by leaving them unable to communicate with the outside world.» Brown university philosophy professor, Felicia Ackerman. « A linguistic Big Bang» pubished November 28, 1999(New York times, Thursday, May 8, 2008).

96 - Kegel

97 - Bluefields

98 - « we do not want to kill indigenous language.» quoted in Lawrence Osborne, op.cit.,p.5 of 8.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوهاندی جودی کیګل په وینا کی(چی د «اصلی بومی ژبې» وژل یی نه غوښتل) مور اتکلو وچی د راشی د راشی په کچه ژبه په پیژاند (هویت) کی هم غټ اهمیت لری؟ ! ۳۱ می ۲۰۰۸ زکال زیرکیار د زرخیرپیو ښار، کلیفورنیا، امریکا

---

99 - Chomsky

100 - ( a remarkable natural experiment), quoted in ibid., p.7 of 8

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځواب کاریکاتور: د ژبې د منشا بحث ولې تم شو؟

ما (زیرکیار) یوه میاشت وړاندې (۳۱ می ۲۰۰۸ زییز) د خپلې یوې لیکنې («ژبه له کومه راغله؟») لاسي نسخه بشپړه کړه او په همغه شپه مې جناب ډاکتر عبدالصمد حامد ته ورفکس کړه. په دغه لیکنه کې مې لیکلي ووچې له نن نه یو سل دوه څلویښت (۱۴۲) کلونه وړاندې په (۱۸۶۶ زکال) کې، په پاریس کې
د ژبپوهنې ټولنې د ژبې د منشأ په اکله بحثونه منع کړل. مشرپوه ډاکټر حامد رانه دجون په لومړۍ نیټه پوښتنه وکړه چې ذکرشوې ټولنې ولې د ژبې د مشأ په اکله د بحثونو دره وتړله؟ دغې پوښتنې ته ځواب د همدې لیکنې چورلیز (محور) جوړکړی دی.
یو امریکایي ټولنپوه لیکلي ووچې څېړونکې (محقق، ریسرچر) او جنایي پولیس د خپلو پلټنو لپاره لږ وډېر یو شان ګامونه پورته کوي. ما د ځواب د میندلو لپاره د اسې لار غوره کړه چې د نولسمې (۱۹) پېړۍ په ګاونډیو پېړیو کې د ژبې د منشأ په اکله بحثونو ته غوړ ونیسم او بیا پخپله په نولسمه پیړۍ کې فکري اوښتنو ته راوګرځم.
«ډیر پخوا انسانانو، ژوو او پیریانو[101] ټولو به یو شان راشه دارشه کوله. بیا یو څه پیښ شول. وروسته له دې انسانان مجبورشول چې د یو بل سره په بیلا بیلو ژبو وغږیږي. خو هغوی هغه «پخوانی ژبه» په خوبونو کې او د پیریانو او ژوو سره په راشه دارشه کې وساتله.»[102]

داهغه افسانه ده چې د چایینی[103] په نوم امریکایي سورپوټکو له یوې قبیلې نه راپاتې ده، او لوستونکو ته د دې مجال ورکوي چې د ژبې د بحث د ژورتیا خوند وڅکي او د ژبې د مرموزو څنډو په کتارو کې پاپې واخلي. چایینی سورپوټکی اصلا د امریکې په هغو سیمو کې استوګن وو استوګن وو چې اوس ورته کالرادو او ویامینګ ویل کیږي. وروسته له دې چې هغوی له خپل اصلي ټاټوبي نه په نولسمه (۱۹) پیړۍ کې وشړل شول، په مونتانا او

---

101 - spirits

102 - Long ago, men and animals and spirits all communicated in same way. Then something happened. After That, men had to speak to each other in different languages. But they retained ( The old language) in dreams, and in communicating with spirits and animals.» Quoted in Danny K. Alford, «The origin of speech in a Deep Structure of Psi», phoenix: Ne Directions in the study of man, volume 2, No.2,fall/Winter 1978, electronic version, pages, ( June 2, 2008)

103 - Cheynne

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکلاهوما ایالتونوکې یې واړول. لیکوال الفورد[104] په خپله پورتنۍ لیکنه کې کاږي چې دغه افسانه یې له جې ینګ بلډ هیندرسن[105] نه اورېدلې وه چې په برکلي کې د کلفورنیا په پوهنتون(یو.سي.بي) کې د بومي امریکایي مطالعاتو پوهندوی و. پخپله الفورد چې په پورتنۍ پوهنتون کې په ژبپوهنه کې نږدې ډاکټر پوهیدونکی[106] و، د ډاکټرۍ څه د پاسه درې کلن تیزس یې په شعورکې د وینا او واټن پوهنې[107] (ذهني ارتباط، دوراګاهي) په ژوروا ړیکیوراڅرخیده. واټن پوهنه یا ذهني ارتباط ته د مانا جریان[108] ویلې شو چې بې له وینا چلیږي. یانې واټن پوهنه هغه مفاهمه ده یا هغه ذهني اړیکتیا ده چې واټن(فاصله) او وینا[109] پکې نه دې شامل.

د سورپوټکو په قبیلوي پوهه کې د هغه واقعیت تصور غلې شوې دې چې لوستونکي د بن جمین لي وورف[110] ګنني(فرضیې، هیپا تیزس) ته بدرګه کولې شي او هغوی ته له «عدن باغ» نه د لومړي انسان(ادم بابا) د ویستلو او «د بابل برج» د ناکامید لو انجیلي کیسې ورپه زړه کولای شي؟! بن جمین لي وورف(۱۸۹۷-۱۹۴۱ زکال)[111] د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې هغه وتلی امریکایي ژبپوه وچې ګنني(فرضیې) یې په شلمه پیړۍ کې د ژبپوهنې د بحثونو د یره توده ساتلې وه. د بن جمین وورف په اند، هغه ډول چې انسانان غږیږي د هغه په فکر اغیزې اچوي، یعنې د ژبې جوړښت[112] د انسان پوهه(ادراک)[113] د اغیزې لاندې نیسي.

په بله وینا په یوه کلتورکې د ژبې جوړښت تاکي چې همهغه کلتور د ی نړۍ څنګه ویني. په ساده وینا، د انسان نړۍ لید[114] د هغه د ژبې په جوړښت کې غلې شوې دی. د بن جمین وورف مهم اثر د هغه له مړینې(۱۹۴۱ زکال) نه وروسته په (۱۹۵۲ زکال) کې په دې سرلیک خپور شو: ژبه، فکر او واقعیت(۱۹۵۲ او بیا ۱۹۲۴ زکال)[115]:

پوهاند جان بیسل کارول(۱۹۱۲ تر ۲۰۰۳ زکال) امریکایي تربیوي ساه پوه، څیړونکی او ژبپوه وه. د غه شان و لولی د پوهاند پیټررالینس اثر:[116]

---

[104] - Alford
[105] - J. Youngblood Henderson
[106] - pre – doctor student
[107] - telepathy
[108] - flow of meaning
[109] - Speech
[110] - whorf
[111] - Benjamin Lee Whorf
[112] - Structure
[113] - cognition
[114] - world view
[115] - John Bissel Carrol(ed), (1956), Language,Thought and Reality: Selected Writing of Benjamin Lee Whorf . Combridge, Mass.: Massachusetts Institute of Technology, paperback, 1964
[116] - Peter c. Rollins, Benjamin Lee whorf: Lost Gen eration theories of mind, language, and religion. Ann Arbor, Mich.: Popular Culture Association, university microfilm international, 1980, pp. X+91

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیټرر الینس د انګریزی او امریکایی فلمی مطالعاتو پوهاند ، اوفلم جوړوونکی و. اوس متقاعد پوهاند دی.
بن جمین لی وو روف دخپلی مړینی پوری(۱۹۴۱ زکال ) هغه تکرکړولی وچی په (۱۹۲۰لسیزه او ۱۹۳۰ لسیزه ) کی دعلم او دین ترمنځ چلیده. د اسی بریښی چی دغه عالم به د دین او علم په همسا زی او انډولتوب کی لګیا وه.
لو یدیزدخپلو ژبود جوړښت په مټ په علم او ټکنالوجی(دعلم په استعمال ) کی سترګامونه پورته کړی دی. ددی په مقابل کی امریکایی سورپوټکود واقعیت د روحیی عناصرو سره راشه درشه(کمونیکشن ) لرله ځکه چی هغوی په خپلو ژبو کی دځانګړی غیرلو یدیز استعداد خاوندان وو. نوموړی عالم په دی عقیده وچی هسک ښښتن په کایناتو کی ځانګړی مقام لری. بن جمین لی وو روف په خپل فکر کی پروت تشنج په دی ډول ارام کړچی دلو یدیزفکرپه محدودیت رڼا واچوی.
بن جمین لی وو روف دفیلسوفانو په هغه اوږده لړی کی ولاړدی چی له جرمنی ایمانو یل کنټ[117] (۱۷۲۴ تر۱۸۰۴ زکلونه ) نه ترامریکایی رالف والدوایمرسن[118] (۱۸۰۳تر۱۸۸۲ ) .... ترامریکایی ویلیم جیمس[119] (۱۸۴۲تر۱۹۱۰زکلونو )پورې ټولو سا ، الهام(شهود )[120] ته اهمیت ورکاوه.
په بن جمین لی وو روف باندی په غټه کچه دوه خدای پوهیدونکو اوعارفانو[121] اغیزکړی و: یو یی فرانسوی انتوان فبری دی اولیویت[122] (۱۷۴۷تر۱۸۲۵) و ، اودوهم یی جرمنی مکس میولر [123] (۱۸۲۳تر۱۹۰۰)و. مکس میولر هغه نامتوختیزپوه وچی د سانسکریت، لغت پوهنی(فیلالوجی) ، اوهندی دینونوسره یی ځانګړی علاقمندی لرله.دی په مقایسوی ژبه، دین او افسانه پوهنه[124] کی دغټ لاس خاوندو. فرانسوی فبرې دې اولیویت لیکوال، شاعراوغږساز(کمپوزر)و. دهغه انجیلی اوفلسفوی تفسیرپوهنی[125] په ډیروپټ ګرانو[126] (مخفی ګرانو ، سری ګرانو )اغیزلاره. هغه هڅه وکړه چی د زاړه انجیل(تورات) لومړی سپاره[127] (پیل، خلقت، منشا ) په یو بل ډول تفسیر کړی. دغه تفسیرپه دې مفکوره ولاړوچی دعبری(یهودی) ژبی پټی(الفبا ) اود لرغونی مصرتصویری حروف[128] دیو بل سره اړیکمن دی.

---

117 - kant
118 - Emerson
119 - James
120 - Spirat and intuition
121 - theosophists
122 - Antoine Fabre d`Olivet
123 - Friedrich Max Muller
124 - mythology
125 - hermeneutics
126 - Occutltists
127 - Genesis
128 - hieroglyphs

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښایی له دی امله به فابرېدې او لیویت دفرانسوی و اکمن ناپلیون بوناپارت (۱۷۶۹تر۱۸۲۱زکلونو ) له خوا «غیری شخص»(خوشی سړی )[129]کنډل شوی وی او دعیسویانو مشرپاپ[130] به هم محکوم کړی وي. دجرمن فیلسوف ایمانویل کنټ[131] غټه پوښتنه دا وه چی«موږ په څه پوهیدلی شو ؟» ساده ځواب یی دا دی چی زموږ پوهه د ریاضیاتو او د طبیعی تجربوی نړی په پوهه لنډه شوی ده. کنټ وایی چی دا ناشونی ده چی خپله پوهه د حد سی ماورای طبیعت علومو[132] خورا حساس قلمروته وروغځوو او غیر تجربی ، شهودی پوهی ته وروروسیږو. دایمانول کنټ دالهیات-متمرکزی مفکوری دخیړنی لپاره وګوری:[133]

کنټ «د ختیز سپیڅلی کتابونه» راوویستلی وو چی بیلا بیلو ختیزو عالمانو ژباړلی وو ، او بیا فرید ریښ مکس میولر رویستلی وو.[134]

پوهاند بیمال کریشنا ماتیلال(۱۹۳۵تر۱۹۹۱زکلونو ) دلرغونې هندي-ساسکریتي فلسفې او معرفت پوهنی(ایپیستیمالوجی ) یو وتلی علمی کوپړی وه ، او لیکنی یی «زړی نړی ته نوی سفرونه» وو. دهغه وروستنی خپور شوی اثردا و: (لفظ او نړی ).[135]

دا تلسمی پیړی په پای کی ، دایمانویل کنټ لاندینی لیکنه را ووتله:«دین یوازې دعقل دبریدونو په دننه کی» ، ۱۷۹۳زکال.[136]

ددی لیکنی له امله یو حکومتی فرمان راووت چی ددین په اکله دی له نوروخپرونو لاس واخیستل شی.

په دی سرلیک«ژبه، فکراو واقعیت»[137] دبن جمین وروستنی لیکنه[138] په (تیوسوفیست )نومې خپرونه کې خپره شوه. هلته یی هڅه کړی وه چی د ژبپوهنی الفاظ دهندی درویش ګری(تصوف ، عرفان ) دمقولو سره پیوند کړی(رالینس ،

---

129 -non - person

130 -Pope

131 - Kant

132 - speculative metaphysics

133 -«kant`s theocentric metaphysics», by Stephen palmquist. <stevepq@hkbu.edu.hk>, (june 19, 2008)

134 -Sacred Books of the East. Traslated by various oriental scholars and edited by Max Mueller(Oxford: Clarenden Press, 1879 – 1910), 50 volumes.

135 - Bimal K.Matilal, the word and the world.
Delhi and New York: Oxford university press, 1990, pp,ix+189. The collected Esays of Bimal Krishna Matilal. Two volumes. Edited by Jonardon Ganer, New Delhi: Oxford university press, 2002

136 -Religion innerhalb der Grenze der blossen Vernunft, 1793, translation Religion within the Limits of Reason Alone.

137 - language, mind and Reality

138 - Theosophist

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۸۰ زکال، مخ۸۱ ). د بن جمین وو روف په اند یوګا[139] شعور ارتولي او روڼ کولی شي. که څه هم علم د بن جمین وو روف لپاره یو لوښی(وسیله ) وه، نوموړی په هغو تکاملي نظریو کې شک لاره چې مروجو دیني ارزښتونو ته یې بلنه(چلنج ) ورکوله. په بله وینا: بن جمین وورف همسا زي او غبرګون لټاوه، نه بیلتون. د پوهاند پیټر رالینس[140] په اند، اصلاً کمیاګر بن جمین وو روف ژبپوهنی ته کډوال شو په دې هڅه چې که د محرمانه او عارفانه پوهنو[141] له کړکې نه د کایناتو قواعد وويني (رالینس، ۱۹۸۰، مخ ۸۳ ). دغه شان ولولی:[142]

د شلمې پیړې په لومړې نیمایې کې وتلی کمیاګر ژبپوه بن جمین لی وو روف، د ژبپوهنی سره د (۱۹ ) پیړې د مفکرینو د اثارو له لارې مخامخ شوی و، او د ژبې سره پخپله د دغو مفکرینو علاقه مندی «واضحاً» په دین راتاوید له.[143]

خو په نولسمه پیړی کې کینړ ګرو انقلابي مفکورو هم زور و مېند. د «کمونیزم»[144] ټکی له نن نه یو سل اته شپیته(۱۶۸ ) کلونه وړاندې په(۱۸۴۰ زکال ) کې د اروپا په سیاسي اصطلاحاتو کې ور ننوت. د ری- څلور کلونه وروسته کارل مارکس (۱۸۱۸- ۱۸۸۳ زکلونه)[145] دین «د خلکو اپین»[146] وګاڼه:[147]

فرانسوی پیری جوزیف پرودو[148] (۱۸۰۹تر۱۸۶۵ زکلونه ) چې انارشیست[149] او یوتوپیان[150] سوشلیست و، هیڅ ډول قدرت، نظام او ملکیت یې نشو زغملای. هغه هم په دین ډیر کلکې ټونګې ووهلې او د ډیرو سپوروستو غوغشی یې پری وورول: « خدای حماقت دی او ډارنتوب، خدای دوه مختوب(تزویر ) دی او دروغجني، خدای استبداد دی او غربت، خدای شر یر دی، تر هغه چې انسان محرابونو ته سرونه ټیټوی، بشریت به لعنتي پاتې وی.

[139] -yoga
[140] - Rollins
[141] - Esoteric Knowledge
[142] - (Peter C. Rollins, «The Whorf Hypothesis as a critique of western science and Technology» in American Quarterly, vol.24, No. 5, December 1972, pp.563-583. Pulished by the Johns Hopkins university press, electronic version, ( June 12, 2008) , http://www.jstor.org/pss/2711660
[143] - Whorf`s first exposure to the study of language was through works of 19th century theorists whose interests in language were patently religious. Throughout his subsequent work in linguistics, Whorf may have refined-but he never repudiated-the ideas of the 19th century pioneer linguists who introduced him to the subject.) Peter C. Rolling, 1980, quoted by Danny K.H. Alford, op.cit,p.4.
[144] - Communism
[145] - karl Marx
[146] - The opium of the people
[147] - Karl Marx, critique of Hegel`s philosophy of law(1843-1844), Introduction.

[148] - Proudhon
[149] - Anarchist
[150] - Utopian

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاچاهانو او روحانیانو مریي به وي.»[151]
په روم کې پاپ( د عیسویانو دیني مشر ) په ګړندي او کلک ډول کمونیزم«ملعون» وګانه ځکه چې ټول نظام «په بل مخ اړوي»:[152]
د نولسمې زېیزي پیړۍ په نیمایي کې د(۱۸۴۸ زکال ) په فبورۍ کې کارل مارکس او دهغه پانګه وال او فکري ملګري فریدریښ اینګلز[153](۱۸۲۰تر۱۸۹۵ زکلونه ) «کمونیستي اعلامیه»[154] خپره کړه چې د سریزې لومړۍ جمله یې داسې پیل شوې ده: « دکمیونیزم واهمې» یورپ نیولی دی. په دوهمه جمله کې یې راغلي دي: «زاړه یورپ ټولو قدرتونو یوه سپیڅلې ټلواله جوړه کړې ده چې دغه واهمه[155] ورنه وباسي: پاپ او تزار ، میتونیښ او ګیزو ، فرانسوي افراطیان او جرمني پولیسي مخبران.» شهزاده میترنیښ[156] ( ۱۷۷۳ـ ۱۸۵۹ ) د اتریش واګیالی(دولتمدار ) او دیپلومات وه. دهغه کورد(۱۸۴۸ ) په پاڅون کې وسوځیده ، او پخپله وتښتید ه. فرانسوا ګیزو[157] (۱۷۸۷ـ۱۸۷۴ ) فرانسوي مورخ او کلک ښیګیری[158] واګیالي و ، او هغه مهال چې دفرانس دبهرنیو چارو وزیرو ، کارل مارکس یې په زیږکال ۱۸۴۵ کې دفرانسې څخه وشاړه.
دکمونیستي مانیفیست(اعلامیې ) نه یولس(۱۱) کلونه وروسته په زیږکال ۱۸۵۹ کې د برتانوي عالم چارلز ډاروین[159] (۱۸۰۹–۱۸۸۲ ) کتاب راووت، په دې سرلیک :[160](دنوع پیل).
په دې کتاب کې ډاروین طبعي نړۍ داسې انځور کړې ده چې په بې پای مبارزه کې لګیا ده.په هغه مبارزه کې چې قوي پکې ژوندي پاتې کیږي، [161]. دې کتاب ته د کارل مارکس خوله ګوړې ګوړې شوه. کارل مارکس خپل یو ملګري فردینانت لاسال[162] (۱۸۲۵ـ ۱۸۲۴ ) ته د(۱۸۶۱ ) په جنورۍ کې لیکي: « د ډاروین کتاب ډېر مهم دی او د طبعي علوم د یو بنسټ په څیر په تاریخ کې د طبقاتي پرځنګ[163] لپاره ګټور دی.» دډاروین د کتاب دلوستلو سره جوخت،

---

[151] - ...The slave of kings and priests pierre-Joseph Proudhon, Economic contradictions(1846), vol.1, p.384.
[152] - " The execrable doctrine called communism....is wholly contrary to natural law itself; nor could it establish itself without turning upside – down all rights, all interests, the essence of property, and society itself." Pope Pius IX, Qui Pluribus(encyclical), 9 Nov. 1864. For the above three quotations see: History of quotations. M.S. Cohen and John Major – London: Cassell/Orion 2006, p.549, no. 4 - 6
[153] - Friedrich Engels
[154] - Communist Manifesto
[155] - Spectre
[156] - Metternich
[157] - Guizot
[158] - Right - Wing
[159] - Darwin
[160] - The Origin of species
[161] - survival of the fittest
[162] - Lassalle
[163] - Class struggle

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارل مارکس خپل غټ علمي ملګری فرید ریښ اینګلز[164] ته هم دچارلزډاروین دلیاقت په اکله ولیکل: « دا دکلک پام وړده[165] چې ډاروین دنباتاتو او ژووپه منځ کې څنګه خپله انګریزي ټولنه پیژني چې دکارپه ویش، سیالۍ، دنوو بازارونوپه رامنځته کولو ، اختراعونو اود ژوند لپاره په ملتوزي مبارزه چلیږي.» دتامس رابرټ ملتوز[166] (۱۷۶۶تر۱۸۳۴ ) برتانوي اقتصادپوه وه. مالتوزخپل مهم اثرپه دې سرلیک راوویست:[167]
په دې کتاب کې مالتوزپه اقتصادي پرمختیاباندې دنفوسودګړندي زیاتیدلو اغیزد بحث لاندې نیولې دی.
دچالزډاروین دکتاب په اکله دکارل مارکس دا اقتباساتولپاره ولولې(هیسټري آف کووټیشنز )[168]. په نیولیفت رویو[169] کې د والنتینوګیراتانا[170] دوینا له مخې چې دمارکس او اینګلزپه غورواثارو(لندن ۱۹۷۸، ۴۳۵مخ ) یې حواله ورکړې ده، فرید ریښ اینګلز«دلومړي ځل لپاره د خپل سترمتوفي ملګري(کارل مارکس ) نوم دچارلزډاروین دنوم سره ورغبرګ کړ.» فرید ریښ اینګلزخپل ملګري مارکس د ډاروین سره داسې پرتله کړی و: « لکه څنګه چې ډاروین دعضوي طبعیت د پرمختیا قوانین وميندل، همهغسې مارکس دبشري تاریخ دپرمختیا قوانین ومیندل.» ولولی:[171]
فرید ریښ اینګلزدغه مطلب په خپله هغه سریزه کې هم تکرارکړی دی چې په ۱۸۸۸کې یې د«کمونیستي مانیفیست» (اعلامیې ) په انګریزه ژباړه لیکلې وه. چارلزډاروین دا نسان دوینا اودمرغیو اوبیزوګانو دغږونوورته والی ته هم ګوته نیولې وه، اوداسې فکریې کاوه چې ژبې « په سوکه اوغیري شعوري ډول دډیروګامونوپواسطه پرمختیاکړې ده»[172]
چارلزډاروین، دانسان نژاد ، امهیرست، نیویارک، ۱۹۹۸. ډاروین خپل دغه کتاب په زیږکال۱۸۷۱ کې راویستلی واوپه هغه کې یې دخپل لومړي کتاب(۱۸۵۹ ) په کچه ژبې ته ډیرزیات پام کړی و. دډاروین په اند ، دانسانانواونوروژووترمنځ توپیردانسان په دې ظرفیت کې پروت دی چې غږونه په مفکوري سره ترکیبولی شي، اودغه غښتلتیا یې دلوړفکرښکارندوی ده.

---

164 - Engels
165 - Remarkable
166 - Malthus
167 - Thomas Malthus, Essay on the principle of population(1798).
168 - History in Quotations, p.565, no.4
169 - New left Review
170 - Gerratana
171 -Leon P. Baradet, Political Ideologies: Their Origin and impact. Prentice- Hall, 1979, p. 151, Alfred de Grazia, «The Burning of troy», Marx, Engels< and Darwin, electronic version, 10 pages, ( June 2, 2008)
172 - « Slowly and uncounsciously…..by many steps » quoted by Christine Kenneauy, the first word: Search for origins of language New York: Viking, 2007, p.21
from the Chales Darwin, the Descent of Man. Amherst, New York: Prometheus Books, 1998, p.89

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکترمارتین لوترکینګ[173] (۱۹۲۹-۱۹۶۸) په امریکه کې هغه روڼ اندي دیني او روحاني شخصیت وچې له بل هرچانه زیات یې خپل دین دخپلې ټولنې د سمولو لپاره وکاراوه. ډاکټرکینګ په امریکه کې د تورپوټکو مشر، روښان ضمیره مبلغ، او د مدني حقوقو د بې تشدده پرځنګ وتلی لاربنود و. ډاکټرکینګ شپږپنځوس(۵۶) کاله وړاندې په خپله تحصیلي دوره کې یوه لنډه لیکنه کښلې وه(مي –جولای ۱۹۵۲)، په دې سرلیک: دازمویني ځوابونه، دنوي فلسفي تاریخ[174]

ددغې لیکنې د سرلیک دوهمه برخه(دنوي فلسفي تاریخ) د درسي کورس موضوع وه. ډاکټرکینګ کاږي: «لکه څنګه چې هامېلټن تشریحوي، دفلسفې محدودیت د الهیاتو مشروعیت دی»:[175] محصل کینګ په کارل مارکس نیوکه کوي چې په «چابکه جبرګرې» [176] زوراچوي او په دې ډول ازادي له منځه وړي. د درسي کورس موضوع (دنوي فلسفي تاریخ)، محصل کینګ ته د دې چانس ورکړ چې د دغه کورس د پای سره جوخت، په اتلانتا ایالت کې په ایبې نیزرکلیساکې[177] خپل وعظ ته چمتو شي، په دې سرلیک: «عیسویت ته د کمونیزم بلنه»:[178]

محصل مارتین لوترکینګ څلور(۴) لاملونو ته ګوته نیسي چې ولې د چارلزډاروین نظریې د ټولنې غضب راوپاراوه:

۱- دچارلزډاروین نظریه د بشر د نوعې د ثبات په اکله د رواجي تفکر سره ټکرلري.

۲- دډاروین نظریه د هغه چا سره په ټکر کې راځي چې د انجیل په یوه تحت اللفظي کیسه باورلري(ښایي کینګ د لته په زاړه انجیل کې[179] په تورات کې لومړي سپاري ته ګوته نیسي چې جېنېزیس =پیل یا خلقت نومیږي).

۳- د ډاروین نظریه پای پوهنه[180] یاني پایان شناسي له کایناتو نه شړي.

۴- د ډاروین نظریه د انسان مقام راټیټوي. په لنډه ډول: د ډاروین نظریه د تاریخ په یوه نګه(خالصه) خاورینه مفکوره ولاړه ده او دعلوماو دین ترمنځ جګړه راپاروي، نه دعقیدې او علم په منځ کې همسازي. بریښنا یزه چینه وولوئ:[181] د دیني قدرتمندانو او مدعیانو له ویرې، فرانسوي عالم ژان ژاک روسو هم د ژبې د منشأ په اړوند کې د تکاملي پرمختیا په خواکې په زاړه انجیل(تورات) کې د ژبې د خلقت[182] بحث ته هم غوږ نیولی دی، او په دې ډول یې له دینه ډډه کړې ده چې په دغه موضوع کې د دین او علم ترمنځ تربګنې او ګوندي ته لاره پرانیزي.

---

173 - Martin Luter King
174 - Examination Answers, History of recent philosophy
175 - The Limitation of philosophy is the justification of the theology
176 - rig(g)ed determinism
177 - Ebenezer Baptist church
178 - The challenge of communism to christianity
179 - Genesis
180 Teleology
181 -< http:« www.stanford.edu/group/king/publications/papers/vo12/520705-Examination_answer> (June 2,2008)
182 - Creation

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اتلسمه زیېزه پیړۍ کې فرانسوي فیلسوف ژان ژاک روسو[183] (۱۷۱۲-۱۷۸۷) هم په خپل پیر کې د ژبې د تکاملي پرمختیا په بحث کې یو، وتلی استازی و. که څه هم هغه یو سیاسي متفکرو، ښایسته ښه اندازه وخت یې د ژبې د منشأ په لټه لګولی و، او هغه په دې فکر کې ډوب شو چې انسانان مخکې د ژبې له زده کړې نه څه ډول وو. روسو په خپله لیکنه کې چې د ژبې د منشأ په بحث راچاپیره ده، خپل دریځ څرګند کړی دی:[184]
ژان ژاک روسو یو لرغونی ځنګل انځور کړی دی چې انسانان پکې اخوا دیخوا ګرځي. کله چې نارینه او ښځې د یو بل سره مخامخ شي، خپلې جنسي اړتیاوې پوره کوي او بیا هر یو خپله لاره نیسي. میندې او زوزات ځانونه له یوه بله په ګړندي ډول خلاصوي، بیا خپله لاروهي، او یو بل نه پیژني. کله چې دغه لاروي او منزوي انسانان د یو بل سره په راشه درشه کې شول، زړې کوکې به یې ویستلې چې له ژوونه یې زده کړې وې. خیرې پیښې به یې هم کارولې. وروسته له دې چې انسانانو ډیرې کوکې (چیغې) او خیرې پیښې زده کړې، لومړی الفاظ یې راویستل.
ژان ژاک روسو په دې اند و چې ژبه اصلاً د بحران او افت په مهال راووتله[185]
د دې لپاره چې د دیني قدرتمندانو او مدعیانو له شور ماشور او تاو تریخوالي نه ځان لیرې وساتي، ژان ژاک روسو دا سې دریځ هم ومانه چې لومړۍ ژبه د هسک څښتن لخوا ادم (ع) ته ورکړل شوې وه. یانې ژان ژاک روسو د خلقت[186] او تکاملي
پرمختیا په نریو رسیو پاپې واخیستلې. ولولې د پوهاندې جین اتچیسن کتاب: دوینا زړی: د ژبې منشأ او تکامل، کیمبریج: کانتو، ۲۰۰۰، مخ ۶:[187]
د یهودانو په سپیڅلي کتاب تورات یا زاړه انجیل کې لومړی سپاره «جېنېسیز»[188] نومیږي چې په خلقت (پیل، منشأ) یې ژباړلې شو. په انجیل کې بشري ژوند داړیکیو په خیر پیل کیږي. هسک څښتن[189] انسان له خاورې نه جوړ کړ، ژوند یې پکې ورپوکه، او بیا یې د عدن باغ[190] ته ورننویست. په تورات کې د عدن باغ په زمکه کې پروت ښودل شوی دی چې څلور سیندونه پکې بهیدل: دجله، فرات او دوه نور. له دینه سړی داسې پوهیدلی شي چې عدن باغ په اوسني

---

183 - Rousseau

184 - Essay on the origin of language

185 - «Man`s first language is.....the cry of nature.... Wrested from him only by a sort of instinct on urgent occasions, to implore for help in great dangers or relief in violent ills.» Rousseau quoted by Kenneally, op. cit, pp.17 – 18, prologue, from J.J. Rousseau, victor Gourewich, The first and Second Discours together with the replies to critics and essay on the origin of languages. New York: Harper Collins, 1990.

186 - Creation

187 - Jean Aitchison, the seeds of speech: language origin and Evolution. Cambridge, England: Conto, 2000,p.6

188 - Genesis

189 - The Lord

190 - Garden of Eden

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوبی عراق کی یانی په لرغونی میزوپوتامیا[191] کی پروت و. دعدن باغ په منځ کی دوه ونی ولاړی وی: دیوی نوم و «د ژوندونه»[192] اودوهمه یی «دښه اوبد دپوهی ونه» نومیدله:[193]
هسک ښتن ادم(ع)[194] (لومړی سړی) په نړدی ټولوازادیوونازاوه، اوموظف یی کړچی عدن باغ سمبال کړی اوپه ژوواوالوتونکونومونه کیږدی. خوهسک ښتن ادم(ع) له دینه منع کړچی ددوهمی ونی، یانی «دښه اوبددپوهی له ونی» نه دی میوه وخوری. ادم(ع) ځانله و. هسک ښتن نه غوښتل چی سړی دی ځانله وی. له دی امله یی ادم(ع) خوبیالی کړ، اودهغه له اړخ(ښایی پوښتی) نه یی ښځه خلق کړه چی[195] حوا ایی نوم و. په عدم باغ کی لومړي سړي اولومړئ ښځی، یانی ادم(ع) اوبی بی حوا «دواړ ولغړ ژوند» کاوه. بی له دی چی وشرمیږی.[196]
په دی ایت کی له غوښی[197] نه سړی وجوداونفس پوهیدلی شی. دلته د
« یووجودکیدنی» یا «یوروح کیدنی»[198] مطلب دپام وړدی: که څه هم پخپله ادم(ع) اوبی بی حوامورا وپلار نلرل، له دوه و نه دیوه وجودکیدنی یاروح کیدنی مطلب په تورات کی خوندی شوی دی. د ژبپوهنی له نظره دغه ډول مجرده مفکوره[199] ارزښتمنه ده. ادم(ع) اوبی بی حوادواړه لغړوو:[200]
ادم(ع) خپله میرمن بی بی حوا[201] ګڼله ځکه چی هغه «دټول ژوند موروه»:[202]
دزاړه انجیل(تورات) په خلقت[203] نومی لومړی سپاره کی دشیطان ټکی نه دی راغلی. خوداسی بریښی چی شیطان دمار[204] په شکل بی بی حواتیرویستلی وه. اوبیاد هغی دتیروتنی له لاری یی میړه ادم(ع) هم دشیطان په لوموکی ونښت. په نوی انجیل کی، یانی دعیسویانوپه سپیڅلی کتاب[205] کی «لرغونی مار»[206] ته دشیطان اوپلید روح په نوم

---

191 - Mesopotamia
192 -The tree of life
193 - The tree of knowledge of GOOD and Evil
194 - Adam
195 - Eve
196 - « Therefore a man shall leave his father and mother and be joined to his wife, and they shall become one flesh.» ( Genesis 2: 24) .
197 - flesh
198 - Become one flesh
199 - Abstract idea
200 - «And they were both naked, the man and his wife, and were not ashamed. » (Genesis 2: 25)
201 - Eve
202 - «And Adam called his wifes name Eve, because she was the mother of all living.» ( Genesis 3: 20).
203 - Genesis
204 - Serpent
205 - New Testament
206 - Serpent

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوته نیول شوی ده. ولولی:[207] نوی انجیل، وحی، ۲۰:۲ دتورات په خلقت نومی سپاره کی دغه مار «ډیرمکار ځناور»[208] ګڼل شوی دی:[209]

په دی ډول دغه چالاک، وسوسه ګرا وغولوونکي مارته شیطان ـ مار[210] ویلی شو. شیطان – مار په ماهرانه ژبه بی بی حوا وغولوله چی دعدن باغ له دوهمی ونی نه، یانی «دښه او بد دپوهی له ونی» نه میوه وخوری. شیطان – مار بی بی حواته وویل چی که له منعه شوی ونی نه میوه وخوری، سترګی به یی بیرته شی او دهسک ښتن په شان به په ښه اوبد وپوهیږی. هغی له ذکرشوی ونی نه میوه وخوړله او ادم(ع) ته یی هم ورکړه چی ویی خوری، او په ګډه سره دنوی تجربې خوند وڅکی. ادم(ع) هم میوه وخوړله. دمیوی په خوړلو سره وضع په بل مخ شوه. ادم(ع) او بی بی حوا دلومړی ځل لپاره ولیدل چی هغوی دواړه لغړوو. دواړه بوټو اوونوته وروځغاستل او دا ینځرپه پاڼو یی ځانونه پټ کړل چی که هسک ښتن یی لغړ ونه وینی. یانی دلته وینو چی دلومړی ځل لپاره په هغوی کی دشرم او حیا احساس پیدا شو.
دهسک ښتن په وړاندی به ادم(ع) خپله ګناه په خپله میرمن بی بی حوا وراچوله، او پخپله هغی به خپله پړه په شیطان – مارورغورځوله. ددغی ګناه له امله چی دهسک ښتن امریی مات کړی وا ودښه او بد په توپیرکی ناکام شوی وو، دواړه(دبشرد استازو په ځیر) له عدن باغ نه وویستل شول. هغوی دواړه(دبشرد ممثلینو په ځیر) په عدن باغ کی له ټولو نعمتونو نه محروم شول، اود بهرنی نړی په کړاوونو اخته شول. دادم(ع) او بی بی حوا یو ځوی وزیږیده چی کین[211] نومیده. اودوهم ځوی یی ابیل[212] نومیده. مشرځوی کین په کرهڼه بوخت شو، اودده ورور ابیل دڅاروو په ساتنه کی:[213]

کین قهرجن او خپل ورور ابیل یی وواژه. هسک ښتن کین وراټه[214]
له کین او میرمنی نه یی یو ځوی پیدا شو چی اینوک[215] نومیده. له اینوک نه ایراد[216] پیدا شو، اوله ده نه میتوشایل، اوله میتوشایل نه لامیک[217] پیدا شو.
دادم(ع) بل ځوی د سیت[218] په نوم وزیږید، اوله ده نه اینوش[219] پیدا شو. دخلقت دسپاری په پنځم سورت کی راغلی

---

[207] - ( New Testament, Revelation 20:2 )
[208] - more cunning beast
[209] - Genesis 3:1
[210] - Satan - Serpent
[211] - Cain
[212]- Abel
[213] - «….. Abel was a keeper of sheep, but Cain was a tiller of the ground. » ( Genesis 4:2)
[214] - «You are cursed from the earth…… A fugitive and a vagabond you shall be on earth. » ( Genesis 4: 8 – 12)
[215] - Enoch
[216] - Irad
[217] - Lamech
[218] - Seth

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چی ادم(ع) یو سل دیرش(۱۳۰) کاله ژوند وکړ. خو په ورپسی دوه ایتونو کی(څلورم او پنځم) کی راغلی دی چی د سیت له زوکړی وروسته د ادم(ع) «ورځی اته سوه کلونه وی»:[220]

سیت یو سل پنځه(۱۰۵) کاله ژوندی و. وروسته د اینوش له زوکړی نه، سیت اته سوه اوه(۸۰۷) کلونه«ژوندو کړ». په دی ډول د سیت «ټولی ورځی» نه سوه دولس(۹۱۲) کلونه وی. (خلقت ۵:۲ تر ۸).

وروسته له ادم(ع)، بی بی حوا، کین او ابیل نه په تورات کی ورپسی مهم شخصیت نواح[221] و. د ادم(ع) ډیر لرې لامیک نومیده چی د ادم(ع) د کړوسی ایراد[222] کړوسی و. د لامیک ځوی نواح[223] نومیده چی په اسلام کی ورته نوح(ع) وایی. د نواح له زوکړی نه وروسته، لامیک نږدی شپږ سوه(۵۹۵) کلونه ژوندی و. د لامیک «ټولی ورځی» اوه سوه اوه اویا(۷۷۷) کلونو ته رسیدلی. « نواح عادل سړی و، د خپل وخت بشپړ[224] سړی و.» خو « زمکه فاسده شوی وه»[225] او «له تاوتریخوالی نه ډکه شوی وه.» هسک څښتن نواح یانی نوح(ع) ته د دغه فساد د مخنیوی لپاره وویل چی یوه بیړی په دی څنډه وجوړه کړی: او ږدوالی نږدی یو سل پنځوس ګزه، سوریانی پلنوالی پنځه ویشت ګزه، او لوړوالی پنځلس ګزه(د تورات په ژبه دری سوه کوبیته، پنځوس کوبیته، او دیرش کوبیته. هر کوبیت[226] مساوی دی په یونیم فټ، یانی اتلس اینچونو). هسک څښتن نوح(ع) ته وویل چی په بیړی کی دی د خپلی کورنی د غړو سره د هر ژوندی موجود نارینه او ښځینه جوړی ځای په ځای کړی:[227]

وروسته له جاکړ(طوفان) نه نوح(ع) دری نیم سوه کلونه ژوندی و، د هغه د ژوند «ټولی ورځی» نهه سوه کلونه وی(خلقت ۹: ۲۸تر ۲۹). د هغه دری(۳) ځامن شیم، هم او جافیت[228] له بیړی نه راووتل، او له هغوی نه یانی د هغوی له زوزات

نه ټوله نړی ډکه شوه:[229] له جاکړ نه وروسته د ادنوح(ع) د زامنو کورنی وی، او له هغوی نه «قومونه په نړی کی تیت شول»

---

[219] - Enosh
[220] - «After he begot Seth, the day of Adam were eight hundred years. So all the days that Adam lived were nine hundred and thirty years, and he died.» ( Genesis 5 : 3 – 5)

[221] - Noah
[222] - Irad
[223] - Noah
[224] - Perfect
[225] - Corrupt
[226] - Cubit
[227] - Genesis 5 : 3 – 32, Genesis 6: 9 - 15
[228] - Shem, Ham, Japhet
[229] - «and from these the whole earth was populated» , Genesis 9: 19

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مهال«ټولې زمکې(نړۍ) یوه ژبه لرله، یوه وینا»[230] له هغوی نه یو قوم په دې پسې ملا وتړله چې په بابل[231] کې یو دومره هسک برج جوړ کړي چې څوکه به یې «جنت» ته رسیږي، او له دې امله به په نړۍ کې نوموباسي:[232]
خو هسک څښتن چې د چاد نوم ویستلو او غرور ړېلوی نه و، د دغه برج د جوړولو مخه و نیوله: داځل د جاکړ(طوفان) له لارې نه، بلکې د یوې ژبې په ځای د ډیرو ژبود رامنځته کولو له لارې. د ژبو د ګڼوالي له امله خلک د یو بل په وینا نه پوهیدل. د پوهاوي د نشته والي پایله دا شوه چې د هغوی ګډه پروژه چې د هسک برج په جوړولو راچاپیره وه، ناکامه شوه. هسک څښتن وویل چې:[233]
د تورات په ورپسې ایات کې راغلي دي چې هسک څښتن[234] هغوی «د زمکې په ټول مخ تیت کړل» او د هغوی د پروژې مخه یې و نیوله. په تورات کې د «بابل برج»[235] نوم نه دی راغلی. یوازې د بابل نوم[236] پکې ذکر شوی دی. د غه ځای چې پورتنۍ پروژه پکې ناکامه شوه، بابل[237] نومیده. بابل شایي د هیبرو[238] یانې عبري ژبې یو ټکی وي چې د «مغشوش»[239] مانا لري. دغه شان د بابل[240] نوم په عبري ژبه کې بابیلون[241] ته ویل کیږي. د لرغوني بابیلونیا[242] مرکز بابیلون نومیده چې د یوفرات او دجلې سیندونو په شاوخوا کې د اوسني عراق خاوره ده. دغه ځای په انجیلي تاریخ کې مهم رول لوبولی و، لوبوی یې، او وبه یې لوبوی. له تورات نه واورئ:[243]
بابل برج له کیسې نه وروسته یوه بله نسب نامه(شجره) په زاړه انجیل(تورات) کې پیل کیږي چې په تیرا، ابراهیم(ع)، سارا، او لوت راڅرخي:[244]

[230]- Genesis 11:1
[231] - Babel
[232] - «a tower whose top is in the heavens.» ( Genesis 11:4)
[233] - «Come let us go down and there confuse their language, that they may not understand one another`s speech.» ( Genesis 11:7)
[234]- Lord
[235]- Tower of Babel
[236] - Babel
[237] - Babel
[238] - Hebrew
[239] - Confused
[240] - Babel
[241] - Babylon
[242] - Babylonia
[243] - « Therefore its name is called Bable, because there the Lord cinfused the language of all the earth, and from there the Lord scattered them abroad over the face of all the earth» ( Genesis 11:9)
[244] - Terah, Abraham, Sara, Lot

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې برېښي چې په عدن باغ کې له ګناه نه وروسته، هسک څښتن د ژوو په ژبه کې بدلون راوست، او د بابل برج په کیسه کې یې د انسانانو په ژبه کې بدلون راوست. یانې دیوې ژبې په ځای یې ګڼ شمیر ژبې راوستلې.
په عدن باغ کې شیطان مار[245] د بي بي حوا سره خبرې کولې، او هغه یې د خپلې وینا له لارې وغولوله چې هلته له منع شوې ونې نه میوه وخوري، د دغه نافرماني له امله، انسانان د عدن باغ له نعمتونو نه محروم شوا او په بهرنۍ نړۍ کې په زحمتونو واوښت.
د زاړه انجیل یانې تورات یو بله سپاره «شمیرنه»[246] نومیږي. د دغې سپارې په دوه ویشتم (۲۲) سورت کې راغلې دي چې بلام[247] نومې پیغمبر او د هغه د خره[248] ترمنځ خبرې شوې وې: بلام په خپل خر سور شو چې یو چیرې لاړ شي. خو هسک څښتن د دغه تګ سره مخالف و. یوې ملکې[249] په یو تنګ ځای کې د بلام مخه ونیوله، خر ملکه ولیدله او په خېټه څملاست چې لاربنده کړي. بلام خپل خر وواهه چې روان شي خو ور ته ګیله وکړه چې ولې یې وواهه. خرورزیاته کړه چې دی خو تل د بلام په خدمت کې وا او کوم بل وخت یې دغسې څه نه وو کړي، په دغه مهال هسک څښتن د بلام پیغمبر سترګې بیرته کړي. بلام ملکه ولیدله او په موضوع پوه شو.[250]
لرغونی یهودي مورخ جوزیفوس فلاویوس[251] (۳۷ تر۱۰۰ زیږکال) په یوه واعظه کورنۍ کې زیږیدلی وا و پخپله هم واعظ و. نوموړي په خپله لیکنه[252] کې ویلي وو چې «ټول ژوندي مخلوق یوه ژبه لرله»:[253]
جوزیفوس دی ته هم ګوته نیولې ده چې په عدن باغ کې ادم(ع)، بي بي حوا، او ژوو عیني ژبه کاروله
ادم(ع) او بي بي حوا نه خپل ماشوم متوب لیدلی و، او نه یې نور انسانان لیدلي وو چې زده کړه یې ورنه کړې کړې وای.
ایا ژبه د دوی سره غبرګه زیږیدلې وه، که له هغوی نه مخکې یا وروسته؟! ایا بي بي حوا د هغې ژبې سره زیږیدلې وه چې ادم (ع) پرې پوهیده؟ ایا هغې ژبه له ادم(ع) نه زده کړې وه؟ ایا ادم(ع) ژبه د ژوو له ژبې نه مخکې زیږیدلې وه، که سرچپه؟ ایا انسان له ژوو نه ژبه زده کړه، که سرچپه؟ ایا ادم(ع) او بي بي حوا په دې پوهیدل چې «ښه او بد»[254] څه ته وایي؟ ما په تورات کې داسې څه ونه لیدل چې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي. داعمل چې ادم(ع) او بي بي حوا او روسته له ګناه نه له عدن باغ نه وویستل شول، داسې تعبیریدلی شي چې دواړه په «ښه او بد» پوهیدل او دواړه

245 - Satan-serpent
246 - Numbers
247 - Balaam
248 - Donkey
249 - Angel
250 - Number 22: 21-35
251 - Jasephus Flavius
252 - Antiquities
253- All the living creatures had one language
254 - Good and evil

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادووچې څه وکړي اوله څه نه ځان وساتي. که نه پرې پوهيدلای اوازادنه وای، نوبيا خو به بې ګناه وای، اوله عدن باغ نه به يې ويستل سم نه وای؟!

په پنځمه قبل الميلادپيړۍ کې يوناني مورخ هيرودوت ليکي چې فرعون ساميتيکاس[255] دوه ماشومان په انزواکې وساتل چې د ژبې منشاپرې معلومه کړي. يو څه وخت وروسته دغو ماشومانو «بيکاس»[256] په غږيو لفظ راوويست چې په فريګي ژبه[257] کې د «ډوډۍ» مانالري. فرعون دې پايلې ته ورسيد چې فريګي لومړۍ يا اصلي ژبه ده.

دفرعون ساميتيکاس تجربه دوه ځلې تکرارشوه: دهوهين شتاوفين دوهم فريدريک[258] دروم سپيځلي امپراتورو. نومو ړي عسکر، ديپلومات اوعالم واوويل کيږي چې په لاتين، عربي، فرانسوي، عبري، جرمني، ايټالوي اويوناني کې د رواني ويناخاوندو. دمنځنيوپيړيو په پيل کې دغه امپراتورهم دوه ماشومان په يوځانله ځای کې پريښودل. مخکې له دې چې هغوی کوم لفظ راويستلی وی، دواړه مړه شول. له دينه دوه سوه کلونه وروسته د سکاټلنډ پاچا شپږم جميز[259] (۱۵۲۷تر۱۲۲۵) دوه سکاټلنډي ماشومان بندي کړل. د اسې بريښي چې هغوی به په نتيجه کې عبري ويلی وی.[260]

کليساد پيړيو لپاره په دې باورشوه چې عبري[261] لومړۍ ژبه وه، خوپوهانوډيرو نورو سيالو ژبوته ګوته ونيوله. په پنځلسمه زيږيزه پيړۍ کې مهندس اوعالم جان ويب[262] د چينايي ژبې په برلاستياټينګاروکړ. دجان ويب استدلال داو چې له جان کړ(طوفان) نه وروسته انجيلي نواح[263] ياني نوح(ع) په چين کې کوز شوی و. چايني ژبې ديو څوپيړيو لپاره دلومړۍژبې مقام خپل کړی و. جوزيف ايدکينس[264] په خپله ليکنه کې(۱۸۸۷) کاږي چې چايني ژبه بايد د خپل لرغونتوب په مټ د نړۍ لومړۍ ژبه وي.[265] امريکايي قاموس ليکونکی نواح وبيستر[266] چې يو بله (۱۷۵۸تر ۱۸۴۳) په زيږيز کال ۱۸۳۰ کې په دې باورشو چې يوه بله سيميټيک[267] ژبه ياني ارمايک[268] اصلي يا لومړۍ

[255] - Sammetichus
[256] - Bekos
[257] - Phrygian
[258] - Frederick 2 of Hohenstaufen
[259] - King James 6 of Scotland
[260] - «Spak very guid Ebrew»
[261] - Hebrew
[262] - John webb
[263] - Noah
[264] - Joseph Edkins
[265] - Joseph Edkins, The Evolution of the Chinese language, 1887.
[266] - Noah Webster
[267] - Semetic
[268] - Armaic

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه وه.[269] ارمیک د عیسی(ع) هیوادنۍ-اصلي ژبه وه. دنولسمی(۱۹) پیړی په دوهمه نیمایی کی دانګریزچارلزډاروین له تکاملی تحلیل نه وړاندی، داسی فکربرلاسی وچی دقبل البشر موجودیت د نشتوالی له امله قبل السان بشری[270] تجربه هم ناشونی وه. ددغه ډول فکرپایله داشوه چی د ژبی لومړی ظهورټول ټال په الهی الهام ودرید. لرغونی مصریان په دی اند ووچی د توت[271] په نوم خدای ژبه خلق کړی وه. بابیلیانو یانی لرغونو عراقیانوهم ژبه خپل نبو نومې خدای[272] ته منسوبه کړی وه. نبو «دپوهی اولیکلو» خدای و. ولولی:[273]
د نبو نوم په تورات کی هم ذکرشوی دی[274] دهندوانو په دین (هیندوییزم)[275] کی براهما[276] لومړی یا اصلی خدای دی. دخدایانواودبشرخدای دی. هغه له خپل ځان نه خپله میرمن خلق کړه چی سراسواتی[277] نومیدله. دغه شان براهماله ځان نه دخپلی میرمنی په شان، دوه خدایان هم خلق کړل: یو یی ویشنو[278] نومیده چی ساتونکی یانی محافظ خدای و. دوهم خدای سیوا[279] نومیده چی ویجاړونکی[280] خدای و. دلته دپام وړټکی دوه دی:
«یو» براهمادخپلی میرمنی په خلق کولو کی تقریباً هغسی رول لوبولی و، لکه دادم(ع) له اړخ نه چی هسک څښتن بی بی حوا خلق کړی وه.
«دوه» دبرهمااود دوه نوروخدایانو(ویشنو، اوسیوا) اړیکی څه ناڅه هغه څه ته ورته بریښی چی په عیسویت کی ورته یانی دری ګونتوب[281] ویل کیږی (پلار، ځوی، اوسپیڅلی روح). د براهما میرمنی سراسواتی بشرته ژبه لیکنه، اوهنرورکړل. دنولسمی پیړی په نیمایی کی انګریزچارلزډاروین دطبیعی تکامل نظرراووبست(دنوع منشأ). په ورته ډول، کارل مارکس اوفریدریښ انګلزدټولنیزتکامل نظرانځورکړ. په دی ډول: لومړۍ (ابتدایی) ټولنه، مرییتوب(غلامی)، فیوډالیزم، بورژوازی، اوکمونیزم
په مارکسیزم کی دین«دخلکواپین» وګڼل شو. دین دایډیالوجی، دولت، کلتور، قانون اوژبی په شان به بنسټ(اقتصاد) ولاړو. داسی جوتیږی چی دچارلزډاروین اوکارل مارکس تحلیلونو به د ژبی د منشأپه اکله مروجه

---

[269] - Kenneally, op.cit, pp.19-20.
[270] - Human experience pre- linguistic
[271] - Thoth
[272] - Nabu
[273] - « Minurita as the god of wisdom», by Amar Annus, paper presented in 47th Rencontre Assyirologique international, july 2-6, 2001, Hilsinki, Finland, electronic version,( july 1, 2008).
[274] - Isaiah 46:1, and jeremiah 48:1
[275] - Hinduism
[276] - Brahma
[277] - Sarasvati
[278] - Vishnu
[279] - Siva
[280] - Destroyer
[281] - Trinity

(c) ketabton.com: The Digital Library

دینی مفکوره لړزولی وی. له نن نه یو سل دوه څلویښت(۱۴۲) کلونه وړاندې په زیږ کال(۱۸۶۶) کې د پاریس د ژبپوهنی ټولنی[282] د ژبې د منشأ او د یوې نړیوالې ژبې د رامنځته کولو په اکله بحث حرام وګاڼه ! پخپله د دغې علمی موسیسې په وینا:[283]

پخوانی راهبه او اوسنی لیکواله کارین ارمسترانګ د علوموا و الهاتو په اړوند کې کاږی چی که الهیات د علوموخیری پیښبې وکړی «یو ائې د منطقی بحث کاریکاتور تولیدولی شی....»[284]

پای: ۱جولای ۲۰۰۸ تو زند اوکس، کلیفورنیا ، امریکا ډاکټر زیرکیار

---

[282] - Societe de Linguistique of Paris

[283] - « The society will accept no communication concerning either the origin of language or the creation of a universal language.» Quoted by Kenneally, p.22, referring to volterra, Vrigina, at al, ( Gestures and the emergence and development of language ), in eds. Michel Tomasello and Isac Slobin, beyond nature-nurture: Essays in honor of Elizabeth Bates( Mahwah, N.J.: Lawrence Earlbaum Associates publishers, 2005).

[284] - « Once theology tried to turn itself into science, it could only produce a caricature of rational discourse, because these truths are not amenable to scientific demonstration.» Karen Armstrong, The Battle for God, 2000, quoted in 100 words to make you sound great. Boston and New York: Houghton Mifflin company, 2008, p.6

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه بابا بې کماله لمسيان په ارګ کې

مخکې له دې چې د يوې حساسې ملي موضوع په اکله خپل ليدلی خوب راوسپړم، سمه به وي چې د خوب ليدنې په اکله د ساه پوهنې څېړنو ته يو ځغلند نظر واچوم.په دې(۳) دليلونو: (۱) د خپل خوب د ليدلو مسووليت د خپلو اوږو څخه لرې کړم.
(۲) د ليدلي خوب په پوهيدلو کې نوکې اسانتيا راولم، (۳) د رټې(جدي) موضوع سره د حساسيت غابښونه يو څه پڅ کړم.
د ساه څيړنې پلار جرمن ژبی زيګموند فرويډ[285] وايي:
«خوب ليدل مره وړ شعور[286] ته شاهي سړک دی.»
انسانانو له ډير پخوا راهيسې خوب ليدنې ته پام کړی دی. پخوانو انسانانو فکر کاوه چې په خوب ليدنې کې الهي الهام خوندي شوی دی او دغه الهام په رڼا کې انسانان خپل راتلونکی بدې سمولی شي. اټکل څلورزره(۴۰۰۰) کاله وړاندې، مصريانو د خوب ليدنې تعبيرونه په ليسټونو کې تنظيم کړي وو. چينايي فيلسوف ژوانګزي[287] اټکل دوه زره دری سوه(۲۳۰۰) کاله وړاندې ويلي و:« نه پوهيږم زه هغه مهال يو سړی وم چې ځان مې په خوب کې پتنګ ليدلو، او که اوس يو پتنګ يم چې ځان په خپل خوب کې سړی وينم.» يو منلي انګريزي ليکوال او نقاد ويليم هازليټ[288](۱۷۷۸ –۱۸۳۰) ليکي چې« موږ په خپل خوب کې دوه مخی نه يو.» اټکل يو سل(۱۰۰) کاله وړاندې د نولسمې(۱۹) پيړۍ په پای کې، زيګموفرويډ د لومړي ځل لپاره د خوب ليدلو منظمې او علمي څېړنې پيل کړې. د نوموړي ساه پوه دغه څېړنې په يو کتاب کې خوندي شوې چې(۹۲) کاله وړاندې په جرمنۍ ژبې[289] کې او وروسته(۱۳) کاله وروسته په انګريزي[290] ژبه کې خپور شو. د زيګموند فرويډ په فکر، په خوب ليدلو کې د خوب ليدونکی هيلې پټې شوې وي[291] دغه هيلې عموماً په اوښتلي مونې يانې بدل شکل[292]، په خوب ليدنې کې منعکسې کيږي چې«د خوب ليدنې ژبه» يې هم بولي.

---

[285] - Freud
[286] - Unconscious
[287] - Zhuangzi/ Chuangtse
[288] - William Hazlitt
[289]- Die Traumdeutung, 1900
[290] - The interpretation of dream, 1913
[291] - Latent content
[292] - disguise

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساه پوهنې څېړنې ښيي چې د اوياکلنې پورې د انسان د ټول ژوند څه د پاسه شل (۲۰) کاله په ويديدلو (خوب کولو) کې تيرېږي، او خوب ليدل د خوب کولو څلورمه برخه (۵) کاله جوړوي. خوډېرې ځلې داسې پيښېږي چې د خوب څخه د راويښيدلو سره سم، ليدلی خوب د هېر تيا سمڅې ته غورځول کېږي. په خوب ليدلو کې کله ناکله مره ورفکرونه د ويښ ژوند د واقعيتونو سره پوخلاکېږي. لکه د کمپيوتر د بڅرکي[293] په شان، په خوب ليدلو کې د انسان د ويښ ژوند پټ معلومات خوندي کېږي. د خوب ليدلو په حالت کې ډيره پټ خود الهام څخه ډکه خواله (ډيالوګ) د انسان د ويښ او مره ورفکر[294] په مينځ کې چليږي. ولولی:[295]

خوب ليدل د انسان د فکري ژوند پټه خزانه ده. بيګا (۱۸/۸/لمريز ۱۳۷۵= نوامبر ۹/ ۱۹۹۲) مې يو خوب وليده چې غتې برخې راڅخه هيرې شوې نه دي، او راسپړل يې په ټول افغانستان کې د ملي ګرتوب (نيشنليزم) د مباحثې د ژورو الی د پاره ارزښتناک بريښي. په ويده حالت کې د ويښ ژوند ليدلو ته خوب ليدل[296] ويل کېږي. له دې امله زه د خپل خوب د ليدلو مسوليت نه شم منلی.

او س به نو راشم زماليدلی خوب ته:

د مزارشريف د (تروې غونډۍ) څخه يو سترګور، زړه ورا وغوريالی شخصيت چې د روغې پوهې خاوندوه، را روان و. دی په فکرونو کې ډوب وا وځان يې کابل ته رساوه چې د احمدشاه بابا سره ووينی، په چاريکار کې دلمانځه لپاره تم شو. له جومات څخه چې راووت، نو د هغه ځای د مامورينو ګڼه ګوڼه او ښه راغلاست پيل شول. يو ځوان چې په چاريکار کې زيږيدلی او سترشوی و په هغه مجلس کې يو اځنی افغان و چې د (پښتو بابا) سره په پښتو ګړيده، او نور و شيرا ګانو، بيرا ګانو او چارا ګانو ته به يې د بابا نغوږې (نصيحتونه) ژباړلې. د خوالی په پای کې، پښتو بابا د غه ښاغلی ژباړن ته وويل: «رښتې پښتون يې، کور موو دان!» ځوان ژباړن په ډير درناوی ورغبرګه کړه چې: «بابا ډيره منننه! زه (رام چند) يم، د (کومارچند) ځوی او د (چترام چند) لمسی يم. زمانيکه چې د کابل په چند اول بازار کې غوړوله (حلوا) او وړپسې تود نیۍ (بخارۍ) خرخولې ستاسې نوم په ډير درنښت سره يادولو.»

پښتو بابا که له يوی خوا د (رام چند) په افغانيت خوښ شو، نو له بلې خوا به د ځان سره ګوريدلو: «چترام چند په ۱۹۴۷ کې په لرې خواکې (سيکوډيرې) پريښنود له او د برې خوا په کابل کې ميشت شو. په خپله چترام چند، ځوی يې او لمسی يې پښتو ټينګه وساتله. خو سرداران او همزادانو چې د پيړيو راهيسې يې په افغانستان کې خاپوړې کړې دي، د پښتو سره پښتو ونه کړه!؟»

پښتو بابا کابل ته راننوت او په پښتونستان واټ کې يې د مه وکړه. ناڅاپه يې سترګې په سيد جمال الدين افغاني

293 - Chip

294 - Conscious and unconscious mind

295 - Charles Mcphee, stop sleeping through your dreams, New York, 1995

296 - Dreaming

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولګيدلی چې په ډېرتلوار سره راروان و. ديوبل سره يې روغبړ وکړاو دواړه خنګ په خنګ د احمد شابابا د ليدنې دپاره دارګ دکيږدې په لوري وررروان شول. دارګ د کيږدې څخه يوتنکې ځوان راووت. پښتو بابا پرې ږغ وکړ: «بابکه ! نيکه موچيرې دی؟» دغه ځوان چې محمد ځرګند نوميده په منډه کې ځواب ورکړ: «قتی قومای خودشسته !» احمدشابابادخپل لمسی دځواب داوريدلو سره سم دارګ له خيمې څخه راووت، ددواړو سره يې په غاړه ستړې مشې وکړل، او ټول په ډېرتلوار سره دارګ خيمې ته ورننوتل ځکه هلته دنورو سيمو مشران دخپل تاريخ سره جرګه شوي وو. علامه سيدجماالدين افغان ډېراند يښمن معلوميده. هغه په ولاړه کې احمدشابابا ته وويل: «زه چې ژوندی وم نوځان مې (افغان) ونوماوه، خواوس چې مړيم ايرانيان مې ايرانی ګڼی ! څه وکړم؟» احمدشابابا د ستر پوه سيد جماالدين افغان په حال ډېرخواشينی شو ، اوسمدلاسه يې پښتو باباته نغوته (اشاره) وکړه چې څه نظر لري. پښتو بابالومړی دعلامه سيدجماالدين افغان سره ډېرزړه سواندی وښودا و بيا يې احمدشاباباته خپل نظرداسې جوت کړ: «بابا ! که ويداند (علامه) سيدجماالدين افغان يوځوټکې پښتو ليکلای وای ، ايرانيانوبه يې هويت نه وای يرغمل کړای. هسک څښتن دی موږټول په نياو (انصاف) غښتلي کړي ! دپښتو سره پښتو کول دهرافغان ملي هويت ټينګولی شي اود دين ښکلا يې خوندی کولی شي.»

ويداند (علامه) سيدجماالدين افغان دخپل سرپه خوځولو سره وښودل چې دخبرلوڅ غوږن (باخبره) ،

سترګوراوبانډيسې څېراند پښتوباباپه درانه ږغ وويل:

نوری ژبې زده کول که دی کمال خپله ژبه هيرول بې کمالی ده

دپښتو بابادشعرداوريدلو سره سم، احمدشابابادخپل بې کماله لمسی په لټې کې شواو زه له درانه خوبه راويښ شوم. ګورم چې په وړاندې مې دپښتو بابا (محمد ګل مومند ) په اکله دښاغلو اسماعيل يون او هميش خليل کتابونه غوړيدلي دي. له بدې مرغې وينم چې لاتراوسه پورې دميرويس نيکه کوديان او داحمدشاباباکړوسيان له همدغې بې کمالې څخه الهام اخلي اودملي ژبې دغه سپکاوی په ډېرې سپين سترګې سره د ژبنې تبعيض دنشتوالي په نامه هم خرڅوي.

هسک څښتن دې هيڅ چاته ددې وس ورنکړي چې دټول افغانستان دملي هويت د ټينګولو اغيزمن اوپوخ مورچل رنګ کړي ! پای

زيرک يار ۱۹ / ۱۱ / ۱۹۹۲

داليکنه په مجاهد ولس (ناروې) او افغان ملت (يورپ) کې خپره شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبه په ټولنه کي، وينه په لابراتوارکي !

دافغانستان ځيني سياسي هيوادوالان(سياسي اتباع) عملاً نه يواځې له دي نه ډه ډه کوي چې کلتوري هيوادوالان(کلتوري اتباع) شي، بلکي حساب هم نه مني. څوک چې حساب نه مني دمساواتو په منلو کې يې هم شک دی. دايران پخواني ولسمشر محمد خاتمي اووه(۷) کالونه وړاندې دايران په شمال کې دګرګيانو غونډې ته په خپله وينا کې په دې ټينګار وکړچې:«دراين دنيا نمي توان ازکثرت صرفنظرکرد» (ولولئ: زيرکيار، ملي ستم، مليت اوخراسان، لاهور، ملت پريس، ۱۳۸۰لمريز، اپريل۲۰۰۱ زيږ.
خپروونکی: دپښتني کولتوردودې ټولنه، جرمني).
دافغانستان مفکر، غيرتمن اوفقيرو زيرمحمد ګل مومند چې دکابل ښارپه(اندرابيو) کې زيږيدلی و اوپه اتياکلني کې دهمدغه ښارد(بريکوټ) دسيمي په يوعادي ختين کرايي کورکې په حق ورسيد(۱۳۴۳لمريز، ۱۹۶۴زيږ)، په خپل يوشعرکې د نښې منځ ويشتلی دی:
نوري ژبې زده کول که دی کمال خپله ژبه هيرول بې کمالي ده
زماپه نيمګړي اند، په وروستني شاهي اساسي قانون(تله ۱۳۴۳، اکتوبر۱۹۶۴) کې دفارسي په ځاې دري ټکې خوندي شو، ددې لپاره چې دشاهي کورنۍ لپاره اسانتيا راولي. شاهي خيل اودرباريان په پښتوکې امپړ(نالوستي، بي سواده)وو. په خپله پاچامحمد ظاهرشاه اودکورني نورغړي يې دلړزاندهويت په کړاواخته ووچې په ساپوهنه ياني سايکلوجي کې ورته[297](سرحدي سړی) وايي. بس پاچاغتې(چم) وکړاوځان يې له رسمي شرم نه په دې خلاص کړچې فارسي ته په اساسي قانون کې دري و وايي. دپاچالپاره درسمي شرم رفع کول مهم وو، نه دملي شرم. اوس خو افغانستان چې د(۹۱۱) له بخولي(فاجعي) سره جوخت پري امپرياليستي سقاوي نازله شوې ده، له ملي شرم نه محروم شوی دی. هرڅه ملي لاړل اودريمه سقاوي راغله.[298](دمسعوداورباني سړک الطوايفي ته دوهمه سقاوي ويل کيږي، اپريل ۱۹۹۲ سپټمبر۱۹۹۲. ولولئ: سمسورافغان، دويمه سقاوي. دويم چاپ. خپرندوی:د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه-جرمني ۱۳۷۹ل،۲۰۰۱ زييز).
هغه مهال چې زه دبرلين په ازادپوهنتون[299]کې دواګپوهنې(سياسي علومو) استادوم، يوانګريزچې په همدغه پوهنتون کې په کلک ګومان سره دهړپوهنې(ايتنولوجي) استاد و راته ځان راوپيژاند: ده دپروان

[297] - marginal man

[298] - everything national-out, Third Saqawi-in

[299] - FUB

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایت په یوه ځانګړې سیمه کې ښایسته ډیر وخت په ځیرنه تیر کړی و.(زه دلته د دغې سیمې نوم نه اخلم
هسې نه چې چاته د سر و مال زیان ورسیږي). دغه ځیرونکی د یوجومات د مُلا له خولې چې د بچه سقاو دوره
یې لیدلې وه، یو شعر ټیپ کړی وه. زمانه یې هیله وکړه چې که د دغه مُلا د غږ له مخې دغه شعر ولیکم
او بیا یې ورته په جرمنۍ و ژباړم. هم دغسې مې وکړل. د دغه شعر سریز بیتونه داسې وو:

سقاو نو می یوغل و جوړ کړی یې سره چل و

بسته پری کو هد امان شو پارسیوانو خوبایی وه

ځوور ځی پاچاهی وه

سرداران په تصادفي لحاظ(په وینه) پښتانه وو، خو په ارادي(کولتوري) لحاظ ورنه د احمد شا بابا بې کماله
لمسیان جوړ شوي وو. هغوی د پښتنو د کاریکاتور په څیر وو. وزیر محمدګل مومند به شلخیانو(لمبربدلو) او په
پښتو کې لټانو ته داسې نغوږه(نصیحت) کاوه: «بابکه! سردار کیږه مه! د پښتو سره پښتو کړه!» د سترګه وراو
غوږن(باخبره) محمدګل مومند په اند، باید ملي ژبه(د ملت د اکثریت ژبه او د ټول افغانستان د ملي پیژاند [هویت]
په ټینګولو کې اغیزمنه ژبه) په ښوونځي، پوهنځي، دولت او اقتصاد کې چلن پیدا کړي. د هغه د
کشرورور عبد الکریم مومند په حواله داسې راغلي دي: یوه ورځ د محمدګل مومند سره په ایبکو(سمنګان) کې، د
یو ملاقات په وخت کې د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهرشاه په فارسي غږیده. خو محمدګل مومند ور سره
پښتو ویله. پاچا ورته وویل چې«زه په پښتو پوهیږم خو ویلې یې نه شم» محمدګل مومند ورغبرګه کړه چې:«صاحبه!
زه هم په فارسي پوهیږم خو ویلې نه شم». ولولی زما د **۵۵** لیکنو ټولګه: زیرکي وینا وې. خپرندوی: پښتویون،
نیویارک، امریکا. لاهور، لاهور، ملک پرېټینګ پریس ۱۳۸۱ل، ۲۰۰۲م، **۵۲۵** مخونه، دلته **۳۴۱** مخ،
کولتوري امپرتیا(بې سوادي) د دې وس لري چې د یوه ملت د ټولنیزې تنستې مزي وشلوي. د افغانستان یوغټ
کړکیچ په هغه توپیر را څرخي چې د سیاسي هیوادوال(تبعه) او کولتوري هیوادوال ترمنځ عملاً په دولتي رسمي
ادارو کې لیدل کیږي.

د هیوادوالۍ(تابعیت)[300] مفهوم په حقوقي بریدونو کې خاپوړې کوي، په دې ډول چې څوک په سیاسي ټولنه کې
شامل دي او څوک ورنه محروم. د کال **۱۹۲۳** په اکتوبر(تله **۱۳۰۲** المریز) کې د افغانستان لومړی لیکلی اساسي
قانون(نظامنامه) را ووتله. په دغه اساسي قانون او ورپسې د افغانستان په هر لیکلي اساسي قانون کې هیوادوال
(افغان تبعه) ته د دې موقع ورکړه شوې ده چې په خپله ټولنه کې د سیاسي هیوادوال(سیاسي تبعه) مقام ته
ورسیږي. خو په افغانستان کې له بدې مرغې ټول ټال غیري پښتون سیاسي هیوادوالان کولتوري هیوادوالان نه

300 - Citizenship

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی.

په افغانستان کی کړکیچ په دی کی دی چی سیاسی هیوادوال ته حقوق خوند ورکوی خو له مسولیت نه ډه ډه کوی او په رسمی دولتی مقامونو کی په عمل کی ملی رسمی کفایت نه منی. په بله وینا ، په رسمی موسساتی ډگر(دولت) کی یوه ډله بشپړ امتیا زلری چی په دولت کی دخپلی ژبی(فارسی دری) انحصار ټینګ کړی او مقابل اړخ(اکثریت) له دی نه محروم کړی چی خپله ژبه(پښتو) عملاً لږترلږه د فارسی سره مساوی مقام ته جگه کړی.

ژبه له دی نه ډیره جگه ده چی یو اځی او یو اځی دپوهاوی(افهام وتفهیم) وسیلی ته راټیټه شی. د سپی غپل یا سونګیدل سړی په خطر یا خوښی پوهوی، خو د هغه غپلو او یا سونګیدلو ته ژبه نشو ویلای. ژبه د انسان د معنوی(غیری مادی) کولتور چینه ده، د زړه او فکر ارمانونه او رازونه په الفاظو کی رانغاړی او راتلونکو نسلونو ته یی رسوی. لکه په اینه کی چی د انسان مونه لید له کیږی، په ژبه کی د مغزو او زړه بی جسمه موجودیت(فکر او احساس) ځلیږی. هو ، ژبه دپوهاوی(افهام او تفهیم) لوښی هم دی.

د امریکی دنیواک په چاپیریال کی په افغانستان باندی په ورتپل شوی اساسی قانون(۱۳۸۲ لمریز، ۲۰۰۳ زییږ) کی «پښتو او دری د دولت رسمی ژبی دی»(ماده ۱۲)

دلته د(او)ټکی دکلک پام وړدی. د «او» ټکی مساوی په «یا» نه دی. یانی د اساسی قانون دشپاړسمی(۱۲) مادی پورتنی جمله مساوی په دی جمله نه ده: پښتو یا دری د دولت رسمی ژبه ده؟ ! خو غیر-پښتون افغانان د رسمی دولتی وظیفی په اجرأ کولو کی له سپین سترگی نه کار اخلی، د اساسی قانون دشپاړسمی مادی په ذکر شوی جمله کی د «او» له ټکی نه سترگی پټوی، او په دی ډول په خپله رسمی ملی بی کفایتی څپونی غوړوی. به کال ۲۰۰۵ کی یو پښتون افغان امریکی ته د ژورنالیستی زده کړو لپاره راغلی و. ما ټلفونی روغبړ او پیژندگلوی نه وروسته هغه وپوښته چی په کابل کی یی څه وظیفه لرله؟ راغبرگه یی کړه چی د یولوړ مقامه افغان ژباړن و ځکه هغه په پښتو نه پوهید. زما(زیرک یار) په گومان د غه لوړ مقامه افغان یو مرستیال ولسمشر و. د غه لوړ مقامه فارسیوان افغان یو سیاسی هیوادوال دی چی حقوق خوند ورکوی، خو کولتوری هیوادوال نه دی چی زړونه کوشیر کړی.

موخه(هدف) دا نه دی چی په دولتی اداروکی یو مامور په یوه رسمی ژبه بسنه کوی ؛ موخه دا نه ده چی په دولتی اداروکی به ملی کفایت یا په دې ژبه کی ښودل کیږی یا په هغه بله کی ؛ موخه دا نه ده چی په دولتی اداروکی دی ملی کفایت په کلتوری بی کفایتی او امتیازو چلیږی. موخه دا نه ده چی په کلتوری لحاظ بی کفایته یا کم کفایته رسمی مامور دې ژباړن ولری، او په دې ډول دې ملی بی کفایتی د پیسود لگښت په واسطه تامینه شی.

موخه دا ده چی ځنځیرونه دی غوڅ شی. هغه ځنځیرونه چی ماشومان د ملی ټولنی له جوړولو نه محروموی، هغه ځنځیرونه چی د متقابل درناوی(احترام) او عملی وروړولی ارمان یی شنډ کړی هغه ځنځیرونه چی ملی پیژاند(هویت) او ملی شعور ته یی پاټکونه اچولی دی. کولتوری هیوادوالی(تابعیت) واقعی پوهاوی(افهام) ته ښه راغلاست وایی. هغه پوهاوی ته چی د «خپل» او د «بل» احساس کوشیروی، متقابل احترام رامنځته کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورورولي غښتلی کوی، اودملی ټولني په جوړولو کی کواند (فعال) رول لوبوی. په ملی ټولنه کی به هم د سیاسي- حقوقی هیوادوال (تبعه) چغه اوریدل کیږی او هم به د کولتوری هیوادوال[301] وروری به په حساب چلیږی تر هغه چی د سیاسی هیوادوال او کولتوری هیوادوال ترمنځ امتیاز پای ته ورسیږي. ۱۸ / ۴ / ۲۰۰۷

[301] - Cultural Citizen

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو په ارګ، جومات، او اساسي قانون کې

د پښتنو واکمنان( که زرین زي وو او که ختین زي، که بریښنا خیل وو او که تورتم خیل) عموماً ټول لږ ډېر په دې بې کمالۍ کې سرتیري وو چې په خپل دربار کې خپلې ژبې ته پاڼک و نیسي او په خپل ټاټوبي کې د ملت د معنوي کلتور د اړه ماران شي. د غسې نا وړه اعمال نور د زغم وړ نه دي. شلخي تجربې ښیي چې شلخیان د پښتانه حیثیت نه شي ساتلې.

باچاخان د ننګرهار ولایت په یوه ولسوالۍ کې میلمه شوی و. یوه سړي ورسره سترې مشې په پارسي وکړل. په څنګ کې یو بل سړي ورته وویل چې باچاخان خو پښتون دی، په پښتو به دې ورسره سترې مشې کړې وای. هغه خپل ځواب په دې ډول ورغبرګ کړ: زموږ غټان په کابل کې پارسي وايي. مافکر وکړ چې باچاخان(فخر افغان) به لکه د نورو غټانو په شان پښتو پرېښې وي او په پارسي به اخته شوی وي!

(پټه خزانه) په ۱۳۲۳ لمریز هجري(۱۹۴۴ زیږیز) کې په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې وه.

اټکل ۳۵ کاله وروسته ښاغلي غلام حضرت کوشان د دې فرصت وموند چې «د پښتو سره د مینې» له امله د(پټې خزانې) انګریزي ژباړه تکمیله کړي. پټه خزانه په انګریزي ژبه کې هغه مهال په کابل کې چاپ(۱۳۵۸ لمریز، ۱۹۷۹ زیږیز) شوه چې ړنګې نورمحمد تره کې ارګ په پښتو چلاوه. په دې ډول ښاغلي کوشان ظاهراً د پښتو ژبې خدمت وکړ، په باطن کې به پرې هسک څښتن پوهېږي. په افغانستان کې به چې د استقلال په جشن پسې جوخت د پښتونستان جشن نمانځل کېده، نو د کابل ښاروال(پارسي ژبې افغان ورور) به د کاغذ له مخې خپله وینا په پښتو اوروله، خو په کابل کې به د ارګ مشرانو په پښتو تلپاتې روژه نیولې وه او ټولې ویناګانې به یې په پارسي کولې. د غه طرز العمل د اسې هم تعبیرید لای شي چې پښتو د پښتونستان رسمي ژبه وه او فارسي د ارګ رسمي ژبه وه. په نورو الفاظو: د کابل ښاروال ښاغلي ډاکټر سهیل پښتو د کابل ښار په چاپیریال کې له ښاغلي عبد المنان دردمند زده کړه ترڅو د یوه افغان په حیث خپل ورسپارلې شوی رسمي تمثیلي وظیفه د پښتونستان په جشن کې سرته ورسوي، خود «برادران ارګ» معذرت به داسې معلومېده چې د کابل ښاردوی بې پښتو کړې دی(عذر بدتر از ګناه!).

مکناټن[302] د اړتیا له مخې پښتو زده کړې وه، خو برادران ارګ په خپل ارګ کې پښتو ته د اړتیا احساس نه درلود، او چې په ارګ کې پښتو ته اړتیا نه وه نود دربار په دولت کې به ورته ولې اړتیا وی! حمید کشمیري په خپله «اکبرنامه» (۱۲۷۰ هجري سپوږمیز کال) کې وايي:

شنید این سخن لات جنګی تمام که اموخته بود پشتو کلام

[302] - William McNaughten

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې شعر کې د وزیر محمد اکبرخان او مکناتېن ترمنځ د خبرو په جریان کې د مکناتېن له خوا د وزیر محمد اکبر تیاری انځور شوی دی، او «لات» د لورډ[303] یا سردار یانې مکناتېن په مفهوم استعمال شوی دی (ولولی: غوث خیبری، «د برنس او مکناتېن د وژل کېدو پېښې»، دعوت، پرله پسې ۷۲-۷۱ گڼه، د ۱۳۷۵ مرغومی، د سمبر ۱۹۹۲).
اټکل څلورنیم کاله وړاندې په (۱۹۹۳) زیږیځ کال کې یوه سپین ږیری پښتون د امریکې د (لاس انجلس) د ښار په «افغانستان د ږغ راډیو» کې مرکه لرله. (او رېدونکو به د ټلیفون له لارې پوښتنې او تبصرې کولې او د راډیو له لارې به یې ځوابونه اورېدل). په ارگ کې د پښتنو د قومیانو یو لرې قومی (یو سپین ږیری سردار صاحب چې پخوا یې په کابل کې «کارهای فرهنگی و ادبی» سر ته رسولی وو) په افغانستان د ږغ راډیو کې د پښتو («افغانی») په اورېدلو سره یو څه بې حوصلې شو. «این مرد فاضل» (سردار صاحب) هغه بل سپین ږیری افغان ته چې په «افغانی» (پښتو) یې په افغانستان د ږغ راډیو کې توضیحات ورکول، په دې الفاظو وا گوابنیده: «اغای (و) چې پوف میکنی ما نمی فهمیم، مردم نمی فهمند، این رادیو مردم است و شما پوف کرده راهی استین». دلته لکه چې فاضل سردار صاحب د افغانستان د وگړو د اکثریت ژبه (پښتو) د «مردم» ژبه نه گڼې («مردم نمی فهمند»)، او نری احتمال لری چې د سردار صاحب د شعور په تل کې به پښتو د پښتونستان رسمی ژبه وی او افغانی به د افغانستان غیری مردمی (یانې درباری) ژبه وی؟! ښاغلی «و» [«و» می د پښتنو مره کچې د نوم د مخفف په څیر استعمال کړی دی] د سردار صاحب په ناروا غوښتنې «پوف» (پښتو) زندی کړه، خپلو خبرو ته یې په «رادیو مردم» کې په فارسی ادامه ورکړه، او د فاضل سردار صاحب په خپله ژبه یې د سردار صاحب شعور د حافظ شیرازی په دې شعر ټکور کړ:
پدرم روضه رضوان بیک خوشه گندم بفروخت
ناخلف باشم اگر منش به جوی نفروشم
(د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ: نصر الله نیازی، «اهانت به پشتو و پشتون»، ایینه افغانستان شماره مسلسل ۳۴، مخونه ۱۵۷ـ۱۵۸).
اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په افغانستان کې څلوېښت (۴۰) کاله واکمن و (۱۹۳۳ زیږیز تر ۱۹۷۳). که هغه په کال کې یو ځلې (د استقلال د جشن، د پښتونستان د جشن، د نجات د جشن، د کوچنی اختر او یا د لوی اختر په مناسبت) په پښتو وینا کړې وای، نو ډیر گومان کوم چې د اعلیحضرت صدراعظمانو، وزیرانو، جنرالانو، سفیرانو او.... به هم د غه لار خپله کړې وای او په دې ډول به له پورته څخه کښته[304] د پښتو د زده کړې عملیه په دربار کې له برمتې (یرغمل) څخه خلاصه شوې وای. په دربار کې د پښتو یرغمل کیدل او له دربار څخه بهر د پارسی وانو خویندو او وروڼو لپاره د پښتو کورسونو جوړول د یو بل سره په کلک ټکر کښې وو. ملی ژبې پښتو په (پښتو ټولنه) کې رسمیت و مینده

303 - Lord
304 - Top - down

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودرباراود درباردولت بالعمل پارسي ته‌ولنه وګرځېدل. په دې عمليه کې د پښتانه بچیان په خپل هیواد، په خپل پایتخت، او په خپل دربار کې د بې پښتو شو یو د دربار خیلو په لاس بې پښتو شول. او د لرې پښتو نخوا دیوه تکړه ځیرونکي په الفاظو «پښتون په دریم نسل کې ختم» شو. په پارسي وانو خوېندو او ورونو چې غیرتمن افغانان دي خپله ژبه ګرانه ده. پښتانه باید له دوی څخه زده کړه وکړي. رټ (کلک، وتلی، جدي) پښتانه باید هغو پښتنو ته کلکه پاملرنه وکړي چې د دربار په بازارکې یې پښتو خرڅه کړې ده او دلستونې ماران ګرځېدلي دي.

په شلمه پېړۍ کې افغانستان یو پښتون و زیړدرلود چې غیرتمن مسلمان او د تکړه فکر خاوند و. له دې کبله به روغه وي چې د پښتو (ژبې او پښتونوالی) په هکله د ده نظر په لنډ ډول دروپېژنم:

«پښتو بابا» (محمد ګل مومند) د کابل ښار په (اندرابیو) کې زیږېدلی و او د دغه ښار د (بریکوټ) په سیمه کې په یوه خټین کرایي کوړکي د اتیاکلنی په عمر په حق ورسید (۱۳۴۳المریز، ۱۹۶۴زییږ). دی سربېره پردې چې وزیرو، اولسي ژوند یې لاره، د تکړه فکر خاوند و، او عمل یې له نظر څخه نه پټیده. وزیر محدګل مومند وایي چې «د پښتو د ترویج او تعمیم د پاره په هر ډول چې لازم او ممکن وي په یو منظم طور پښتو و خوځوله شي، پښتانه وېښ کړې شي.» دلته د «منظم طور» ټکی د ډېر پام وړ دی. مفکر محمد ګل مومند د اسې سپارښتنه کوي چې د پښتنو پوهان دې اهمې چارې لومړی، معمولي چارې ورپسې، او کیفي او ذوقي شیانو ته دې په پای کې پام وکړي پوهان باید تر هر څه د مخه «سمدلاسه درسي کتابونه» د ښونځیو او مدرسو د پاره «تالیف او ترجمه کړي». په درسي کتابونو کې دې د زده کوونکو پام «دین، اخلاق، اداب، خپلو خصایلو او ملي خصایصو ته وشي. د ماشومتیانه دې داشیان په زړه او دماغ کې ځای ونیسي، او د پښتانه بچې دې پښتانه شي». د پښتو بابا په اند د علم د زده کړې لپاره مورنۍ ژبه ډېر ارزښت لري. ځکه خو دی ټینګار کوي چې «علوم او فنون درست په پښتو واړوو». محمد ګل مومند پښتانه بیزوګان نه ګڼي چې «په هر څه کې به د نورو پیبنې کوو». دی زیاتوي چې «موږ بې نومه او بې ښنبې نه یو، ورکوټي ولس هم نه یو. موږ د اسیا په مینځ کې د نامه خاوندان یو.... او مهم جغرافیایي موقعیت لرو». محمد ګل مومند په دې واقعیت پوهیږي چې «د فن او صنایعو له پلوه» پښتانه لوید یزو هیوادونو ته د زده کړې لپاره اړدي: «ځمونږ دین هم مونږ ته امرکوي چې (الحکمهَ ضالهَ المومن اینما وجده اخذه). خو پرته له دغه نه د دوی نور څه ته اړنه یو او نه ښایي چې په هر څه کې د دوی پیبنې وکړو... او د دوی هر څه په پټو سترګو و منو». محمد ګل مومند د حکومت په ماهیت پوه دی او په ډاګه وایي چې « حکومت د بې پښتوګۍ له امله اریان دی، او لاره یې ورکه کړې ده ! او اولس د بې پښتوګۍ له لاسه بې پته، خوار، زار او ورک دی؟ ټول د بې پښتوګۍ په اورسوی یو...» او س نو پوښتنه دا ده چې پښتو بابا (محمد ګل مومند) «پښتو» څه ته وایي؟ د ده په فکر پښتو که له یوې خوا د پښتو ژبه ده نو له بلې خوا د پښتنو د ژوند طرز یانې «پښتونولي» ده. «پښتو و ییل، پښتو کول، پښتو چلول دي» او لکه «روح په کالبد کې» د پښتنو په ټولنه کې ارزښت لري. «پښتو دین، وطن او پښتانه اولس ته خدمت دی؟» د محمد ګل مومند په اند « پښتو زړه ورتوب دی، ځکه پښتانه په دې خبره ایمان لري چې ګټه او تاوان، عزت او ذلت هر څه د خدای نه دي. بې دده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارادی نه هیڅوک هیڅ عمل نشي کولای». محمدګل مومند هسک ښښتن ته په زاري دي چې پښتانه« په رښتیا سره دخپل کاله اوملک واکمن کړي، دکارسرې په کې شته کړي اودغې بدحالي نه نجات ورکاندي».
محمدګل مومند په دې فکردی چې دیوه ملت دژبې لرې اوبرې دهغه د ژوند دبد مرغۍ اونیکمرغۍ سره اړوند لري. « که دیوملت ژبه دبل ملت ژبې ته مغلوبه شوه» نومانایې داده چې« په عین واکداري کې به بې واکه، په عین وطن کې به بې وطنه وي. په خپل وطن کې به غریب اوپردیس وي... خپل به ورته پردي شي ځکه چې په نامه که څه هم خپل وي خوافکار، احساسات، اقوال، اعمال اوافعال یې، اغوستنه، خواړه یې، څواک اوژوند یې بشپړیانیمګړې دپردي اودبل وي.... دغسې ملت به ورځ په ورځ چوکیږي ترڅوچې محوه شي». په«لنډ» ډول: « ژبه دملي موجودیت، هوساتوب اوسعادت، دلوړوالي اوجګوالي ستنه ده».
ددغه اهمیت له کبله« ژبه باید وساتله شي، وپالله شي، ورزوله شي، هارته کړله شي، علمي شي، ادبي شي، په هرحیث سره دملتودرستوا ړینوته» ځواب وواېي. د مفکرمحمدګل مومند په فکر«پوه سړي خپل اودبل مال پیژني... غیرت، لوړهمت، روغه پوهه(عقل سلیم) دغه نه مني اونه پریږدي چې څوک خپل مال خوشې کړي چې وروست شي، ورته نقصان ورسي اوخلک یې ښکاریاپه غلا یوسي اوکورتني لاندي کړي» اودنوکرپه شان« کونډۍ ځتي. غیرتمن سړي خپله وچه دپردي په لندو ښه بولي». خوسره له خپلوډیروهڅو، پښتوبابا(محمدګل مومند) دامشروع ارمان دځانه سره ګورته ویوړچې« په درستي پښتون یانې(افغانستان) کې پښتو، د پښتانه دحکومت رسمي ژبه شي».
(داقتباساتولپاره ولولی: محمدګل مومند، لنډکې پښتواوپښتونواله، دکابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۷ لمریز= م۱۹۵۹/۱۹۵۸ ؛ محمدګل خان مومند، مرتب همیش خلیل، پیښور، دسمبر ۱۹۹۵، محمدګل مومند، دپښتودژبې لیاره لیاپښتوصرف اونحو، دبلخ شرکت(رښتیا ) له خواپه لاهورکې چاپ شو. بلخ ۱۳۱۷لمریزچې ۱۹۳۸ زییځ کیږي).

## څه باید وشي؟

۱ ـ تکړه پښتانه باید یوعلمي اوسیاسي سازمان ولري چې دمحمدګل مومند په وینا«پښتوپه منظم طوروځوله شي» او«پښتانه ویښ کړی شي». زماپه وړاندیزدغه ډول سازمان ته«دپښتوعمل جرګه»[305] ویلی شو. ددغه سازمان غړوظیفه به داوي چې دپښتوسره پښتووکړي، په ملي ژبه پښتوټنګ وکړي. په دغه چوکاټ کې باید دهغوافغانانو، په تیره دهغوپښتنوکړنوته کلکه پاملرنه وشي چې په شعوري یاغیري شعوري ډول دملي ژبې پښتو(داکثریت ژبې اودټول افغانستان دملي هویت دساتلوپوخ مورچل) سره بې انصافي کوي.

[305] - Pashto Action Council

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – په تعلیمي نصاب کې د دیني او دنیوي علومو ترمینځ تفاهم او انډولتوب ته کلکه اړتیا ده، ترڅو د افغان ملت ملي او دیني هویت خوندي شي او د زماني د شرایطو په تناسب د عقل او ابتکار خاوند وګرځي.

۳ – پښتو نه یوازې په دولتي میچن کې چلن ته کلکه اړتیا لري، بلکه په جومات کې هم باید غښتلې شي. طالبان د ګلستان او بوستان کتابونه د اخلاقیاتو د زده کړې له کبله لولي. باید بوستان او ګلستان په پښتو واړول شي. د پېښور په پښتو اکېډیمۍ کې د «ګلستان بزبان پښتو» نسخه لیدل شوې ده. ودې شي چې د روغې ژباړنې په لوري ګټوره وګرځي؟ د «پښتو بوستان او ګلستان» په اکله دې د استاد حبیب الله رفیع سره خبري وشي.

۴ – مسلکي اشخاص دې دې ته راوبلل شي چې په خپل مسلک کې په پښتو ژبه د پوهنتون د استعمال لپاره درسي کتابونه او نور مواد برابر کړي.

۵ – پښتو باید په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د تدریس ژبه وي ترڅو په دولت کې د کار او دعوا مود خدمت لپاره هیڅوک د ژبې د مشکل سره مخامخ نه شي. د پښتو د علمي کیدلو لپاره باید پښتانه له ماشومتوب څخه انګریزي په ښوونځي کې زده کړي.

۶ – د پښتو کلتوري ـ هنري اړخ یانې ټنګ ټکور (موسیقي)، ملي اتڼ، انځورونو، او ډراموته پاملرنه حتمي ده.

۷ ـ د دولت او حکومت مشران باید رسمي ویناګاني او مرکې په پښتو وکړي او په تړونونو (قراردادونو) کې دې د پښتو متن هم د اتبار وړ وښودل شي.

۸ ـ د پښتو لیک یا لیک لاري یو کولو (املایي یوشان والي) ته کلکه اړتیا ده. که هر څوک په خپل سر د خپل کلي یا سیمې پښتو لیکي، نو د نورو لپاره به ناشونې وي چې د یوې پښتو پرځای «پښتوګانې» زده کړي. د هرچا خوښه چې یو ټکی څنګه تلفظ کوي، خو غټه خبره دا ده چې ذکر شوی ټکی په یوه شکل ولیکل شي. یانې: ویل یې سنا خو لیکل یې د ټولو!

د بیلګې په توګه «زموږ، زمونږ، ځموږ، زمنګ، ځمنګ» ټکو ته سنا سې پام راګرځوم: «زومږ»، «ځمو ږ»، «زمنګ» او «ځمنګ» هریو ټکی څلور (۴) توري لري او لیکل یې (د «زمونږ» او «ځمونږ» په تناسب) لږځای او لږ وخت نیسي، یانې د لیک لاري د اقتصاد له نظره اغیزمن دي. که د ټایب او چاپ لپاره د کمپیوټر د توروړ[306] په کارولو یې، نو ګومان کوم چې د «زمنګ» او «زموږ» لیکل به له نورو اسان وي؟ زه دومره وایم چې پښتو دې د کمپیوتر سره پوخلا شي. ودې شي چې په دې اکله د پښتو د ژبې او د کمپیوتر د متخصصینو له خوا کلک او غبرګ ګامونه واخیستل شي.

۹ - «د پښتو عمل جرګه» باید زرترزره «د پښتو د تفکر بانک»[307] جوړ کړي او په بیلا بیلو چارو کې دې ورڅخه نظریې او مشورې وغوښتل شي. پښتانه له بل هر چا څخه دې ته ډیر اړ دي چې د زماني د شرایطو په کچ وینښ شي او د فکر په

---

[306] - Keyboard

[307] - Pashto think Tank

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګرکې سیالۍ ته چمتو شي.

۱۰–په اساسي قانون کې دیوې ژبې«ملي» یا «رسمي» حیثیت خوندي کول یو قانوني – رسمي ټینګار دی چې د دولت په اداري، تعلیمي، اقتصادي، او تبلیغاتو عملیاتو کې د هغې ژبې د چلن لپاره دیو لیکلي سند اهمیت لرلی شي. په اساسي قانون کې باید پښتو د افغانستان رسمي ژبه وبلل شي او حکومت دې ته اړ شي چې په دغه لار کې عملي ګامونه واخلي. خو که په عین وخت کښې «د پښتو عمل جرګه» فعاله نه وي، نو د اساسي قانون ټینګار به هغسې پنچرشي لکه پخوا چې یوې تشې خبرې ته راټیټ شوی و.

که په پای کې زما څخه پوښتنه وشي چې په ټول افغانستان کې د پښتو په رسمي کیدا باندې په اساسي قانون کې ټینګار غواړم او که د پښتو چلن په ارګ کې؟ د تیرو ترخو تجربو څخه د زړه کړې په مټ زما (زیرک یار) ځواب دا سې دی:

« زه پښتو په ارګ کې غواړم ځکه بې پښتو ارګ د پښتو مرګ دی؟ !»

دربار (حکومتي مرکز) چې بې پښتو وي، نو پښتو به د رسمي کیدا په لوري له ټولنیز اتبار[308] څخه لویدلې وي او ډیره به ناشونې وي چې د دربار دفتر، مطبوعات، د زده کړې موسسې، بازار او نور راشه درشه[309] د ملي ژبې د پرمختګ لپاره روغ چاپیریال جوړ کړی شي.

پــــای

ډاکټر زیرک یار

د نومبر ۱۲، ۱۹۹۷ زییږ کال

---

[308] - Prestige

[309] - Communication

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو په ګوانتاناموکي او فارسي په ارګ کي

سروکار د خلګو دی له ژبې د سرکار سره
کله به غریبه پښتو ژبه د سرکار شي
(ګومان کوم دا روانشاد استاذ «ګل پاچا الفت» شعر دی. زیرکیار)

زما په اند ،ترنن پوري دوه پښتون ساپوهان د پښتو نازولی دي: یو یې پوهاند بها الدین مجروح دی چي د ساپوهنی اوفلسفې په برید ونو کې د نیمې شپې لاروی شوی و ، او ما به ورته شپږ ویشت(۲۶) کالونه وړاندې د کال(۱۹۸۰) په مې کې په پیښور کی غلي غلي شان امیرالمنورین وایه. د امریکې یوتیزفکری ټوکی لیکوال پی جی اوروک[310] له نن نه(۲۹/۴/۲۰۰۲) پنځلس کالونه وړاندې په کال(۱۹۹۱) کې لیکلي وو چې امریکې بهرنی سیاست نه لاره. خو د لوړی ځل لپاره یې بهرنی سیاست د افغانانو په جهاد کې ومیند. د دی لپاره چې د امریکې بهرنی سیاست له نږدې ووینې، باید اوروک[311] په خپله جهاد ووینی چې څرنګه چلیده. په کال(۱۹۸۹) کې یې جهاد په پیښور/پښتونخوا کې ولید اودی پایلی ته ورسید چې افغانستان تقریباً یورونړ اندی «منور» لاره خوهغه هم وو ژل شو «اوداسی نور».(ولولی زما د چاپ لاندی کتاب، په دی سرلیک:«د نوی سیا ست الجبره» ).[312]
دویم پښتون ساپوه ډاکټر ماماوچې زه یې د ساپوهنی او پښتونوالی خان ګڼم. په پښتنی ټولنه کې خان د پګړی خاوند اوو تلی سړی ته هم وای. کید ای شی له همدی امله به خوشحال خټک بابا د پګړی سړی په شمار ګڼلی وی. له نن نږدې شپږ ویشت(۲۶) کالونه وړاندې د کال نولس سوه اتیا(۱۹۸۰) په نیمایی کې، زه له پیښور نه فرانکفورت ښار(د هغه مهال لوید یزجرمنی) ته کډوال شوم. یوځو ورځی وروسته ډاکټر ماماله ستوری له کولن ښار نه فرانکفورت ښار ته زما د سترې مشی لپاره راغی. زمو ږ په ښایسته اوږده خواله کې، دلته د ډاکټر مامادوه(۲) پوښتنې او زما دوه ځوابونه پام وړ ګڼم: ویې پوښتلم چې باچاخان څه ویل؟ ورغبرګه مې کړه چې د باچاخان په وینا «داد روس او امریکن جنګ دی.» ویې پوښتلم چې زه ولې له کابل نه پیښور ته لاړم او بیا د یوی میاشتی په اوږدو کې له پیښور نه لوید یزجرمنی ته کډوال شوم؟ ورته ومې ویل چې له کابل نه مې تن راخلاص کړ او له پیښور نه مې

---

[310] - P.J.O`Rourke
[311] - O`Rourke
[312] - Algebra of New politics, 1989 - 2005

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر(داهغه مهال وچې نږدې شپږمیاشتې وړاندې دکال ۱۹۷۹ په پای کې شوروي پوځونو په افغانستان یرغل کړی واو په پېښور کې هم سیاسي خیرات مخ په تود یدلو و ). له نن نه اټکل اته دیرش(۳۸ ) کالونه وړاندې، دکال ۱۹۲۸ په شاوخوا کې ماد افغانانو په یوه غونډه کې کبیرجان ته په ناڅاپې ډول«ماما» وو ایه. ده هم سمدلاسه په خوریې ونازولم. داهغه مهال وچې موږدواړه دلوید یزجرمنې په ګوټینګ پوهنتون کې پوهیدونکې(محصلین) وو. له همهغې ورځې راهیسې زه یې خوریې یم او دی مې ماما. کله چې کبیرماما د ساپوهنې ډاکترشو، ماهم پریکړه وکړه چې خپل درناوی ورته په«ډاکترماما» وړاندې کړم. ډاکترماما (کبیرمرد ادخیل ستوری ) یودیرش(۳۱ ) کالونه وړاندې، په زیږکال ۱۹۷۵ کې دکړنې د ساپوهنې دنړی والې ټولنې (انټرنیشنل اسوسییشن اف اپلاید سایکلوجی) غړیتوب لاسته راوړ.

مادډاکټرماماستوري دری(۳ ) کتابونه لوستلي دي: «د قلم توره» ، «دهوښیارتیاتله» او«ژب ساپوهنه». دری واړه کتابونه په پېښور کې«دپښتونخوادپوهنې دیرې» له خوا خپاره شوي دي. دهوښیارتیاتله او ژب ساپوهنه دډاکټرماماهغه پوهنیزکتابونه دي چې دلومړي ځل لپاره یې پکې ساپوهنه(سایکالوجی) دپښتوژبې دبډاینې بهیرته ورننویستلې ده.

زمادمعلوماتوله مخې، ډاکټرماماستوري په لره پښتونخوا کې لږترلږه هغومره اغیزمن دوستان لري لکه په بره پښتونخوا کې چې یې لري.

دډاکترماماستوري دغه سرېتوب دهغه د سیاسي سترګه ورتیاغښه ځانګړتیابښیي. د شورویانوله یرغل راوروسته ترنن پوري شپږویشت(۲۲ ) کلن پیرد جاکړپه شان پښتون وهلی دی. ډاکټرماماستوري دملي سیاست هغه ګوربت وچې دلراوبرپښتون د یووالي په کلکوالي یې وزری غوړولي وي. «دقلم توره» دډاکټرماماستوري د شعرونو ټولګه ده، په ماباندې یې د«یوټبر» شعرډیراغیزوکړ، ځکه په دې شعرکې ډاکترماماسیاست ته د ساپوهنې چلونه(مینه، خپلوي، هویت) ورښیي:

یـوه ورځـې چـا ویلـې چې اسمان ته مې کتلې
یوه غـټه وریځـه راغـلـه دوه وړې یې ښکلـولې
وړې شوې غټې کې غیبې بیامو سترګو نه لید لې
ښکارې داوې کوچنۍ وریځې چې دمورغیږې ته تللې
دیـوکورد یـوټـبروی د یـوبل نـه ځـاریدلې
چې همجنس وي جمع کیږي عـقـل کـله بیـلـولې
په ویشلې پښتون قام یــې ستوري اوښکې تویولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیرکال(۲۰۰۵) مې د ډاکټرماماستوري سره ټلفوني خواله وکړه. غږیې غږند څرګند یده. راته ویې ویل چې زړه یې بې وسه شوی و. ددی لپاره چې په زړه یې زور را نشي، له سیاسي خوالې مې نوکې ډډه وکړه. د ده شعري ټولګه مې وستایله، په تیره د «یوټبر» شعر. ورزیاته مې کړه چې دغه شعر زما د ساییزو پیښو دواړه مرکزونه(ماغزه او زړه) ټکوروي. ډاکټرماماراته په خنداکې وویل چې که زه ورته هغه یوه«لنډه جمله» ورکړم، دی به یې په بدل کی راته خپله ټوله شعري ټولګه راکړي. له هغې لنډې جملې نه یې مطلب زماداچغه(شعار) وه:

«بې پښتوارګ د پښتنو مرګ دی !» ورغبرګه مې کړه چې ګوره ماما «دغتې کتې د ماستو» چل را سره ونکړي. «دغتې کاتې ماسته» هغه ټکي وو چې ډاکټرماما یې د زړه له کومې د خندا امیلمه کړ. ډاکټرماما راته په جرمنی کی دغتې کتې د ماستو کیسه داسې کړې وه:

یوې کونړۍ موربه خپلو هغو ماشومانو ته چې په کورکی به یې چغې او کوکې ویستلې، ټینګ ماسته ورکول. خوهلته یې یو بل غلی ځوی هم و. نورو ماشومانو چې ماسته خوړل، موربه هغه غلی ځوی ته په لوړغږ وویل چې هغه ته به دغتې کتې ماسته ورکوي ! غلي ځوی له ښایسته اوږدې مودې وروسته پوه شو چې ماسته یې نه وو خوړلی، بلکه شلومبې (تروې) یې څښلې وې. بله ورځ غلي ځوی وچولی تریو نیولی و. مورپرې پوه شوه. سم دلاسه یې له ټینګو ماستو یو غټ کنډولی ورکړ، خو غلي ځوی یې په ژړا لاس پورې کړ. مور یې د ځان سره ګوریدله چې غلي ځوی یې ولې ژړل. غلي ځوی په تیره ژړا کی هغې ته وویل چې د ټینګو ماستو د کنډولي سره دې دغتې کتې نوم هم واخلي. وروسته له دې همدغه غلی ماشوم د ټینګو ماستو د کتې واکمن شوا و هغو نورو خویندو وروڼو ته یې دغتې کتې ماسته ورپرېښودل. په ټلیفوني خواله کی مې ډاکټرماماته وویل چې اوس امریکه پښتنو ته په افغانستان کی دغتې کتې ماسته («کوچنی مشر» جلالت چپن حامد کرزی + «تش مشر» اعلیحضرت محمد ظاهرشاه) ورکوي.

زما له هغې«لنډې جملې» نه چې ډاکټر ماما ستوري راسره په خپله شعري ټولګه مارچه کوله، زه پوه شوم چې زمامنلی دوست ډاکټر کبیر میرداد خیل ستوري د ناروغی په حال کی هم د پښتو پتنګ و. په ټوکه کی مې ورته وویل: پخواني پاچا او حامدکرزی وایې چې دوی خوخلکیانو نه دی چې په ارګ کی یې هم پښتو ویله او هم یې پکې اتهونه کول ! ډاکټرماما وپوښتلم چې څه به کیږي؟ ورغبرګه مې کړه چې پښتو له ارګ نه شړل شوی ده، خو په ګوانتانامو کی لکه چې رسمي ژبه شي؟ دی خبری ته دډاکټرماما خوله ګوړې ګوړې شوه، ډیریې وخندل، او زیاته یې کړه چې زه هم د پوهاند...په شان هرڅه ته یو دلیل راوباسم

دخوالې په اوږدو کی مې ورزیاته کړه چې په افغانستان باندې د امریکې د یرغل په لومړیو وختونو کی دامریکې دملی امنیت دجرګې په بحثونو کی پخواني پاچا محمدظاهرشاه«تش مشر»(فیګرهیډ) او حامدکرزی«کوچنی مشر»(ماینر ټرایبَل لیډر) ګڼل شوی وو. امریکې غوښتل چې د افغانستان وګړو اکثریت(پښتانه) د ظاهرخان او کرزي په واسطه وغولوی اوله دې لارې په افغانستان کی د کلکې ملي ټولنې را منځته کیدلو ته پاټک واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوه زمااو ډاکترماماوروستني خواله. اوس نوپوښتنه داده چې ډاکټرماما کبیرمیرداد خیل ستوری څه ډول سیاسي شخصیت و ؟

ډاکټرماما ستوري هغه پښتون عالم وچې د نظرپه کچه ډېر دعمل خاوندو. که په پېښور کې یې د پښتونخوا د پوهنې دیره توده ساتله، نو په جرمنی کې یې د ملي سیاست دیره پالله. ډاکټرماماکبیرمیرداد خیل ستوری د خپلې مړینې پورې د «پشتون سوشل ډیموکراتیک پارټي» یانې د «پښتنود ټولنیز ولسولیز ګوند»[313] مشروااود دې ګوند د بنسټ ایښودونکو مخکښانو چورلیز (محور) یې جوړکړی و..

که دشاعری په نړۍ کې په ډاکټرماما ستوری باندی داجمل خټک دګل بڼ وړمه لګیدلی وه، نو په سیاست کی یانی دپښتنودیووالی، خپلواکی اوسوکالی لپاره وربانډی دباچاخان(فخرافغان) د نظراوعمل پیرزوینه شوی وه.

پښتوژبه د ډاکټرماما ستوری لیلاوه. په افغانستان کې د ملي ټولني جوړيدل بی له ملي پیژاند (هویت) ناشونی کاردی، اوملي پيژاند په پښتوژبه رامنځته کیدلی اوټينګيدلی شی، نه په بل څه ! په پښتو ژبه کی دافغانستان سره کلکه ژمنه خوندی شوی ده. دافغانستان نوري خوږې ژبې دغه تومنه نه لري. په افغانستان کی د ملی ټولنی دجوړیدلوپه اړوندکی ډاکټرماماکبیرمیرداد خیل ستوری هغه لارخپله کړې ده چې دافغانستان مفکراوفقیر وزیرمحمدګل مومندیې سپارښتنه کړی وه –هغه وزیرچې دکابل ښارپه بریکوټ کی یې په یوه ختین کرایی کورکی ساوختله، په هغه ختین کورکی چې عبدالعزیز خاوری به «پښتوارګ» ګاڼه

د ډاکټرماما ستوری له برکته، پښتون سوشل دموکراټیک ګوند په یوډول سیاسی دیره واوښت چې دهرډول سیاسی یا دینی پښتون درناوی پکی کیږی. ډاکټرماما کبیرمیرداد خیل ستوری په هڅ پښتون، په پرګنه یوسفزی، اوپه ټبرمیردادخیل دی. ډاکټرماما ستوری دبری پښتونخوا د کونړپه تنر نومې کلی کی زیږیدلی واوپه جرمنی کی یې د زیږکال ۲۰۰۷ داپریل په څلورمه نیټه چې د ګل دورځی سره سمون خوری له نړۍ سترګی پټې کړې. هسک څښتن دې پرې ورحمیږی. زه د ډاکټرماماکبیر میردادخیل ستوری درنی کورنی

اودپښتنودټولنیزولسولیزګوندپاتی مشرتابه ته خواخوږی اوتسلیت وړاندی کوم. منلی ډاکټرماما ستوری دملی سیاست سترګور، زړه وراونوښتګرشخصیت و. له هغه نه پښتنوته ډېرڅه په میراث اوارمان ورسیدل. زماپه اند، اوس دپښتنودټولنیزولسولیزګوند مسولیت دی چی د خپل جرګه مارمشراروانښاد ډاکټرماما کبیرمیردادخیل ستوري په کړنلاروخوځیږی.

ډاکټررحمت ربی زیرک یار

---

313 - PSDP

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلیفورنیا ایالت، د توزند اکس (زرخیږې) ښار.
پای: ۲۹ اپریل ۲۰۰۲

# ژب سیاست او ژب پلان: ملي او رسمي ژبې

ننتــــــوځ

« قوهٔ الانسان فی عقله و لسانه» د پوهنې دډاکټر او ستلر د پنډ کتاب سریزه په دغه عربي مقوله پیل شوې ده.[314] «
ډاکټر ولستر په شپږویشت(۲۲) ژبو پوهیږي او کتاب یې «د نړۍ» دغټو ژبو لومړنی تاریخ دی.
پښتو بابا محمد ګل مومند د افغانستان هغه ولسي او فقیرو زیرو چې د کابل د ښار د بریکوټ په سیمه کې یې په عادي ختین کرایي کوټکي په اتیاکلنۍ کې ساوختله (۱۳۴۳ المریز ۱۹۲۴ زیږکال). هغه د ژبې په اهمیت پوهیده، د ټول افغان د پیژاند (هویت) د ساتنې لپاره یې پښتو یو پوخ مورچل ګاڼه، او له دې امله یې د ملي ژبې پښتو په تعمیم او ترویج ټینګار کاوه.
مفکر محمد ګل مومند په دې فکر و چې د یوه ملت د ژبې لرې او برې د هغه د ژوند د بد مرغۍ او نیکمرغۍ سره تړاو لري: « که د یوه ملت ژبه د بل ملت ژبې ته مغلوبه شوه» نو مانا یې داده چې: «په عین واکداریږ کې به بې واکه، په عین وطن کې بې وطنه وي. په خپل وطن کې به غریب او پردیس وي... خپل به ورته پردی شي ځکه چې په نامه که څه هم خپل وي خو افکار، احساسات، اقوال، اعمال او افعال یې، اغوستنه، خواړه یې، څواک او ژوند یې بشپړ لیا نیمګړی د پردي او د بل وي.... دغسې ملت به ورځ په ورځ چو کیږي تر څو چې محوه شي.» په «لنډه» ډول: «ژبه د ملي موجودیت، هوساتوب او سعادت، دلوړوالي او جګوالي ستنه ده.» د دغه اهمیت له امله« ژبه باید وساتله شي، وپالله شي، وروزله شي، ارته کړله شي، علمي شي، ادبي شي، په هرحیث سره د ملت د رستوا ړینوته» ځواب ووایي. د مفکرو زیر محمد ګل مومند په اند، «یوه سړی خپل او د بل مال پیژني....غیرت، لوړهمت، روغه پوهه(عقل سلیم) دغه نه مني او نه پریږدي چې څوک خپل مال خوشې کړي چې وروست شي، ورته نقصان ورسي او خلک یې ښکاره لیا په غلا یو سي او کورتني لاندې کړي.»(محمد ګل مومند ،د پښتو ژبې لیاره لیا پښتو صرف او نحو. د بلخ شرکت[رښتیا] له خوا په لاهور کې چاپ شو ،بلخ ۱۳۱۷ المریز= ۱۹۳۸ زیږز). تر او سه زموږ پوهه داده چې انسانان له بل هر ټولنیز موجود نه زیات سیاسي ژوي دي. په طبیعت کې هرشی ګټوره وظیفه لري، او انسانان یوازینی ژوي دي چې طبیعت وربانـدې دوینا پیرزوینه کړي

[314] - Dr.Nicholas Ostler, Empires of the word: A language history. New York and London: Harper perennial, 2006, xix

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. که ژبه نه‌وای، فکربه ځانله وای. که ژبه نه‌وای، تاریخ به چیری اوخه وای. داژبه وه چی تاریخ پکی خوندی شو، او دا ژبه وه چی فکر پکی څرګند شو.

دتاریخ یو پوهاند د استادانو په یوه غونډه کی ویلی وو چی تاریخ «جهانی او بنیادی دی»:[315] د ژبپوهنی یو استاد ورسره سرو خوځاوه، خو یوه پخه پوښتنه یی هم وروتوغوله: «بی له ژبی به تاریخ څنګه ثبت او تفسیرشی؟». هو، بی له ژبی تاریخ نه تثبیتید لی شی او نه یی تفسیر کید لی شی. ژبی د انسان په دی ظرفیت یا استعداد کی چی ځان و پیژنی او مجرد[316] فکرو کړی لړترلړه اسانتیا راوستلی ده. د ژبی منشأ لاتر اوسه روغه نه ده معلومه، خو دلرغون پوهنی شواهد دیته ګوته نیسی چی د ژبی پو اسطه پوهاوی[317] به نږدی دوه سوه زره(۲۰۰۰۰۰ ) کلونه وړاندی را منځته شوی وی. ښایی له دی امله به ژبپوه روزین[318] له نن نه شپږ کاله وړاندی په زیږ کال(۲۰۰۲ ) کی ویلی وی چی« ژبه پیل دی او دهغه څه برخه ده چی موږ څوک یو»:[319]

له دینه چی« ژبه پیل دی» سړی داسی هم پوهید لای شی چی ژبه نه یوائی د پوهاوی وسیله ده، بلکی دځان پیژند نی او هویت منشأ هم ده(«دهغه څه برخه ده چی موږ څوک یو» ).

که له یوی خوا ژبه لوښی(وسیله ) ده دپوهاوی لپاره، نوله بلی خوا ژبه تړون دی او غوټه[320] ده د پیژاند «هویت» لپاره. ژبه له یوی بلی ځانګړتیا هم ځان نشی خلاصولی. هغه دا چی له ژبی نه دټولنیزتوپیرا و اتبارلوښی هم جوړید لی شی.[321] د ژبی درسمی کیدا یانی حکومتی کیدا په عملیه کی دټولنیزتوپیر او ټولنیزمقام تومنه پرته ده. دبیلګی په ډول سینګاپوریو کوچنی ښاری دولت دی چی څلورنیم میلیونه وګړی لری(۲۰۰۷ ) او څلور رسمی ژبی لری. انګریزی، ملای[322] ماندارین (چینایی ) او تمیل. هغه سینګاپوریان چی په انګریزی ژبه کی لاس لری، عموماً په سیاست او اقتصاد کی دغتی برخی خاوندان دی:[323]

---

315 - Universel and basic
316 - Abstract
317 - Communication
318 - Rosen
319 - « Language is the beginning, it is part of who we are. » Quoted in Ralph w. Fasold and Jeff Conner – Linton (eds.), An Introduction to linguistics, 2006,pp.1 and 375.

320 - Tie
321 - Social class differenciation
322 - Malay
323 - «English – knowing bilinguals govern the country, walk the corridors of power, preside at boardroom meetings, teach in schools, and rule in the courts of law.» Anne pakir at national university of Singapore, «Bilingual education with English as an official language: Socio cultural implication», Georgetown university press. Georgetown university round table on languages and linguistics, 1999, electronic version, pp. 341-349

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دی چی په سینګاپورکی چینایان ډیره کیان(۷۷ سلنی ) دی ملای ژبه دغه هیواد ملی ژبه ده، د سینګاپوریانو دپیژاند(هویت ) او احساس ژبه ده. د اسر ییلو د دولت په جوړولو(می ۱۹۴۸ ) او د ملی احساس په پیاوړي کولو کی د عبری ژبی را ژوندی کولو ستر رول لوبولی دی، او دعبری ژبی په ساتنه کی یهودی دین ستر رول لوبولی دی. د سینګاپور او اسراییلو په ژب سیاست(لنګویج پالیسي )[324] به وروسته وږغیږم

(الف)-ملي او رسمي ژبه

د ملی او رسمی ژبی ترمنځ په توپیر کی پخپله د امریکی ستر څارنوال اود بندیانو د عذابونو یوغټ پلوي حقوق پوه البرتو ګونزالیس[325] ښکیل شوی و(۲۲ می ۲۰۰۷). اوس په امریکه کی ځینی خلک په دی پسی اړم شوی دی چی انګریزی ژبه د اساسی قانون د تعدیل له لاری رسمی[326] ژبه کړی. د نورو هیوادونو د خلکو په شان، امریکایان ګډ قومی نیکونه او ګډ تاریخي احساس نلری. د ګډ دین احساس هم پکی غښتلی نه دی. ښایی له دی امله د خپل پیژاند لپاره انګریزی ژبی ته مخ وراړوی. د امریکی ستر څارنوال ګوانزالیس تیروت او په خپله توضیح کی یی ملی ژبه د رسمی ژبی په ځای وکاروله. ګوانزالیس راپورترانو ته وویل چی«ولسمشر(ډبلیو جورج بوش ) هیڅکله ددی ملاتړ نه دی کړی چی انګریزی دی ملی ژبه شی»[327] په همدغه ورځ(۲۲ می ۲۰۰۷ ) لږوروسته سپینی ماڼی خپل سپیناوی وکړ:[328] هغه ولس چی خپل دولت یی نه وی جوړ کړی، رسمی ژبه نه لری، خو په مقابل کی یی ملی ژبه لری. که یو ولس د خپلواکی په جګړه یوه ژبه کارولی وی، همغه ژبه یی چی بالعمل د ملت کیدنی هویتی چینه ده، د خپلواکی په ګټلو سره او د خپل ملت په جوړولو سره د رسمی ژبی وظیفه هم په غاړه اخلی. د بیلګی په ډول دوه هیوادونو ته ګوته نیسم: د امریکی په اساسی قانون کی د ملی یا رسمی ژبی په اکله هیڅ نه شته. خود خپلواکی اعلامیه(جولای ۱۷۷۶ ) اودوه اساسی قوانین یی په انګریزي ژبه لیکل شوي وو( د کنفیډریشن مادي په نومبر ۱۷۷۷کې، او اساسي قانون چی ترنن پوری چلیږی په ۱۷۸۷ زییزکال کی). له دې امله انګریزی په امریکه کی طبعاً ملی او بالعمل رسمی ژبه ده. بل مثال په افریقاکی د تازه جوړشوی دولت دی. په ایریتریا[329] کی چی نهه قومونه پکی ژوندکوی دیونیسف[330]

---

[324] - Language policy
[325] - Gonzales
[326] - Official language

[327] -« Never supported making English the national language.»
[328] - « The attorney general[ Alberto Gonzales] got caught in a linguistic snare. He took 'national' language to mean what we describe as ' official' lauayge. We have no problem in identifying English, our common linguistic currency as national language.» White House spokesperson Dana Perino in «Adventures in semantic: CBS News, electronic version, posted by Hillary Profita( 22 May 2006).
[329] - Eritrea

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۹۹۴) د معلوماتو له مخې د(تیګریګنا )[331] قوم پکې ترټولو ډیروګړي لري. خو هلته د یوه قوم ژبه هم رسمي ژبه نه ده ګڼل شوې، د دې لپاره چې د ژبو کړکیچ رامنځته نشي. د دې په مقابل کې کیسواهیلي[332] د دغه هیواد ملي ژبه منل شوې ده، دلیل یې دادی چې کیسواهیلي د خپلواکۍ په جګړه کې د سیاسي سروالي پټې دراشي درشي ژبه وه[333]

رسمي ژبه هغه ژبه ده چې حکومت پرې چلیږي او په حکومت کې چلیږي. رسمي ژبه هغه ژبه ده چې حکومت رسمي اعلان کړې وي، او یا یې عملاً د خپلو وظیفو او مسولیتونو په ادا کولو کې کارولې وي(لکه په تړونونو کې، په قوانینو کې، په محکمو کې، په ګڼو اعلامیو کې، او په سیاسي دریځونو کې). رسمي ژبه هغه ژبه ده چې د دولت د شتون په حالت کې رامنځته کیږي، یانې حکومت یې اعلاموي او یا په یوډول ښیي چې دغه ژبه د هغه ملت ژبه ده چې د دولت د حاکمیت لاندې وي.[334]

په تاریخ کې یوه استثنا هم شته. په داسې حال کې چې یهودانو په فلسطین کې دولت نه لاره، د یوې سیاسي ډلې[335] په ځیر د هغوی ژبه عبري[336] په فلسطین کې د انګریزي او عربي ژبو په شان د برتانوي واکمنانو له خوا رسمي اعلان شوه. په زیږکال (۱۹۲۲) کې فلسطین د ملتونو د ټولنې[337] د پریکړې له مخې د برتانیې په حاکمیت (قیمومت)[338] کې ورغی.[339]

رسمي ژبه د حکومت په ورځنی فعالیت کې کارول کیږي او یو اوړګاري ته ورته ده چې له یو بندرنه یو ښارته مالونه رسوي؛ یو لوښی (وسیله) دی چې د حکومت کارونه سرته رسوي(په پارلمان کې قوانین، په محکمه کې د قوانینو تفسیر او تطبیق، د فورمو او لایحو جوړول، د اساسي قانون تعدیل، د اساسي قانون تفسیر، عسکري او ملکي اداره، عسکري او ملکي تعلیم او تربیه، تړونونه

... او اعلامیې).

د دولت شتون د یوې ژبې د رسمیت لپاره عموماً اساسي شرط دی. وړاندې له دولت نه رسمي ژبه نشته، خو ملي ژبه

---

[330] - UNICIF
[331] - Tigrigna
[332] - Kiswahili

[333] - C.M. Rubagumya (ed.), 1990, quoted in" Multilingualism and nation building: language and education in Eritrea". By Chefena Hailemariam, university of Asmara, Eritrea, sjaak kroon, Tilburg university, Netherlands, and Joel Wolters, Bar – Ilan university, Israel – electronic version, pp. 475 – 493.
[334] - declared by a government to be the language of the governed nation.
[335] - entity
[336] - Hebrew
[337] - mandate
[338] - League of Nations
[339] - " All ordinances, official notices and official forms of the government..... shall be published in English, Arabic and Hebrew"

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته. د یوه دولت په رسمي سند کې چې رسمي ژبه نه وي ښودل شوې، ملي ژبه یې رسمي ژبه ده لکه په اندونیزیا کې. په اندونیزیا کې له پنځه نیم سوه نه زیاتې ژبې او لهجې شته. بهاسااندونیزیا[340] په اساسي قانون کې د اندونیزیا «ملي ژبه» ده چې په تجارتي، تربیوي او حکومتي چارو کې چلیږي.

ملي ژبه هغه یوه ده چې د یو ملت د یرکیان پرې غږیږي او د ملت لپاره د اصالت[341] او پیژاند (هویت) ارزښت لري. ملي ژبه له تاریخي احساس او ویاړه د که تیره زمانه منعکسوي. ملي ژبه د ملي بیرغ او ملي ترانې په شان د سمبول مقام لري. ملي ژبه د همغه ملت کلتوري ماهیت او اتبار ښیي. ملي ژبه د خلکو په منځ کې د ملي تړون احساس او ژمنه منعکسوي. ملي ژبه په خلکو کې د واحد ملت احساس غښتلی کوي. ملي ژبه خلکو ته خوندور کوي او زړونه کوشیروي، او په اوږده ډګرکې د ملي تولنې په را منځته کیدلو کې اسانتیا راولي. ملي ژبه د «ویلې کیدلو بټۍ» ده. امریکې ته[342] د ویلې کیدا بټۍ وایي. زما په اند، په ټولنیز لحاظ امریکې ته «د سلاتې کنډولې» ویلې شو ځکه چې ټول تال امریکه د بیلا بیلو نژادونو د سلاتې کنډولې ته ورته ده. خو په خپله انګریزي ژبه پکې هغې بټۍ ته ورته ده چې بیلا بیل نژادونه په ښوونځي او پوهنځي کې په کلتوري لحاظ ویلې کوي او راتلونکي تړون او بریالیتوب ته یې سیخوي. یو هیواد چې ملي ژبه ونلري، د ملي دولت په کفایت کې به یې شک وي. یو هیواد چې ملي ژبه ونلري، ملت به یې د یتیم احساس کوي. پردۍ ژبه ملي ژبه کیدلی نشي، خو رسمي ژبه کیدلی شي. ملي ژبه عمومي تړونکي او کوشیرونکي ژبه ده. ملي ژبه اصلاً د ملي کلتور برخه ده، نه د دفتري کلتور. ملي ژبه د ولتونه زیږوي، او دولتونه رسمي ژبه غوره کوي. هغه دولتونه نیکمرغه دي چې رسمي ژبه یې په ولس ګرانه وي، یانې ملي او رسمي ژبه یې یوه وي. هغه دولتونه نیکمرغه دي چې رسمي ژبه یې د ملي ژبې په خدمت او پالنه کې وي. هغه دولتونه نیکمرغه دي چې په رسمي ژبه کې یې د بل دولت لاس نه وي. هغه دولت بدمرغه دی چې رسمي ژبه یې د ملي ژبې سره په ټکر کې کوي.

په کامرون کې انګریزي او فرانسوي دواړه رسمي ژبې دي، او پاتې نورې د هیواد خپلې ژبې ملي ژبې دي. که د یوه هیواد په اساسي قانون کې یوه ژبه ملي ګڼل شوې وي، مطلب ورنه رسمي ژبه هم ده. په سعودي عربستان کې په یوه مشخص سند کې لیکل شوې اساسي قانون نشته، خو عملاً عربي د هیواد ملي، رسمي او دیني ژبه ده. د ایران د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون (۱۹۸۹) کې راغلي دي: «زبان و خط رسمی و مشترک مردم ایران فارسی است. اسناد و مکاتبات و متون رسمی و کتب درسی باید به این زبان و خط باشد.» اټکل پنځوس سلنې (۵۰٪) ایرانیان په فارسي غږیږي. بله نیمایي یې په ترکي، عربي، کردي، او بلوڅي ژبو غږیږي. عربي سره له دې چې د سپیڅلي قران او مبارکو حدیثونو ژبه ده، د ایران په اسلامي جمهوریت کې رسمي ژبه نه ده.

---

340 - Bahasa Indonesia
341 - authencity
342 - melting pot

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپایی اتحاد[343] درویشت(۲۳) رسمی ژبی لری. فنلنډ دوه(۲) ملی ژبی لری: سوامی (فیني ژبه) او فینلند ز سوینسکا[344] یانی فنلنډی سویډنی. په فنلنډ کی سویډنی ژبه چی شپږ سلنی (۶٪) ویونکی لری، ددغه هیواد په هرځای کی اتبارلری. په مقابل کی یی فنلنډی ژبه چی دوه نوی سلنی(۹۲٪) ویونکی لری، په ارته کچه کارول کیږی، خو هلته هرچیری قانونی اتبارنلری. په فلنډ کی ځینی پوهنتونونه یوائی په فنلنډی ژبه چلیږی. ټول زده کوونکی باید سویډنی زده کړی. څوک چی د سویډنی ژبی بری لیک ونلری، دولتی ماموریت به یی په برخه نشی. ورته شرایط په اقلیتی سویډنیانو باندی چی فنلنډی ژبه زده کړی، په لږه اندازه ایښودل شوی دی.

په مالتاکی مالتایی ژبه چی اکثریت پری پوهیږی، ملی ژبه ګڼل شوی ده، اود انګریزی سره غبرګه رسمی ژبه هم ده. په فلپین کی فلپینو ملی ژبه ده، اود انګریزی سره غبرګه رسمی ژبه هم ده. په پاکستان کی اردو ژبه چی اته سلنی(۸٪) وګړی پری غږیږی، ملی ژبه ده او لارې چارې باید مېنده شي چې اردو رسمي ژبه شي. انګریزی چی په پاکستان کی د سروالې پټې(نخبی) ژبه ده، هلته رسمی ژبه هم ده (د اپریل **۱۹۷۳** اساسي قانون، **۲۵۱** ماده: ا تر ۲ بندونه).په پاکستان او پښتونخوا کی د ژبو د بحث لپاره د دې کتاب اتم فصل ولولئ .دهند په اساسی قانون یا بل کوم قانون کی کومی ملی ژبی ته ګوته نه ده نیول شوی، خو هندې په اساسی قانون کی د هیواد رسمی ژبه ګڼل شوی ده. ا یالتونه کولای شی چی یو یا څو ژبی دخپلو ایالتی حکومتی چارولپاره رسمی معرفی کړی، لکه پنجابی، بنګالی، اردو .... سانسکریت. که د مرکزی حکومت کوم لیک د هند ایالاتو یا سیموته په انګریزی ژبه استول کیږی، باید هندی ژباړه یی ورسره مل شوی وی. دلته وینو چی انګریزی ژبه هم د هند رسمی ژبه ده. د ژبنی سیاست له نظره، فلپین او هند یو بل ته ورته دی. په فلپین کی هم سیمه ییزو ژبوته اجازه ورکول شوی ده چی په خپلو اړوندو سیمو کی د رسمی ژبو به څیرو کارول شی. د تاجکستان رسمی ژبه تاجکی ده. د ازبکستان رسمی ژبه ازبکی ده، اود حکومت ماموران باید په دغه ژبه وپوهیږی. د ترکمنستان رسمی ژبه ترکمنی ده. د زیمبابوی[345] رسمی ژبه انګریزی ده.

د مالیزیا رسمی ژبه بهاسا میلایو[346] ده چی اکثریت پری غږیږی. په کمبودیا کی خمیر[347] قوم ستر اکثریت (۹۲٪) لری او ژبه یی چی خمیرنومیږی، رسمی ژبه ده. دولسی چین په شان، ماندارین[348] چاینی ژبه د تایوان رسمی ژبه ده.

---

[343] - EU
[344] - Finlands svenska
[345] - Zimbabwe
[346] - Bahasa Melayu
[347] - Khmer
[348] - Mandarin

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ب)-ولې ژبني تکرونه؟

اوولس(۱۷) کلونه وړاندې د زيږيږ کال(۱۹۹۱) پورې په سهیلي ترکیه کې په کُردي ژبه سندرې ويل منع شوي وو.
شپږ کلونه وړاندې په زیږیږ کال(۲۰۰۲) کې هغه پوهیدونکې(محصلین) د پولیس له خوا ونیول شول چې په پوهنتون کې یې په کردي ژبه د تدریس غوښتنلیکونه[349] د پوهنتون مسولینو ته وړاندې کول
په ولسي چین کې د «تام او جیری»[350] په نوم تلویزیوني کارتون ډیر مینه وال لرل
د غه تلویزنی کارتون په جنګي پیشو او موږک راڅرخیده. د ۲۰۰۴ زیږیز پورې به(تام او جیری) د ولسي چین په سیمه ییزو ژبو(لهجو) غږیدل. خو وروسته مرکزي حکومت په سیمه ییزو ژبو(لهجو) کې ذکر شوي کارتوني پروګرام منع کړ. یاني نور یې نه غوښتل چې تلویزني پروګرامونه دې په لهجو کې خپاره شي. د دې پرځای تلویزني پروګرامونه د ولسي چین په رسمي ژبه یاني ماندارین[351] کې پیل شول. له دې لارې ولسي چین غوښتل چې ماندارین(پوتونګهوا) ژبه د ملي پیژاند د سمبول په څیر پیاوړې کړي او د یو بل سره سیمه ییزې ژبنۍ سیالۍ د ملي پیژاند د کلک سمبول په قالب کې ویلې کړي. په ولسي چین کې لهجې له یو بل سره غټ توپیرونه لري.
پوتونګهوا په ماندارین لهجه ولاړه ده، او ماندارین د ولسي چین په مرکزبیجن (پخواني پیکینګ) کې چلیږي. یاني د پایتخت لهجه ماندارین رسمي اتبا رلري.
شپږ کلونه وړاندې په زیږیږ کال(۲۰۰۲) کې د سینګاپور حکومت په یوه کمیډي فلمي لړۍ باندې د «اِن سي-۱۷»[352] برغولې کیښود، یاني څوک چې اوولس(۱۷) کلن شوي نه وي، د دغې لړۍ فلمونه نشي لیدلی. په دغه کمیډي فلمي لړۍ کې کوم بدڅه نه وو چې ځوانان په اخلاقي لحاظ بې لارې کړای شي. د سینګاپور د حکومت دلیل دا و چې په دغه فلمي لړۍ کې «بدګرامر»[353] کارول شوی و. پورتني درې بېلګې موږ د دې پوښتنو سره مخامخ کوي:

الف --ولې د ترکیې حکومت ته ارزښت لري چې کومه ژبه دې په پوهنتون کې وکارول شي؟
ب --ولې د سینګاپور حکومت د «بدګرامر» مخه نیسي؟
پ --ولې د ولسي چین حکومت د دې سره علاقه لري چې کارتوني پیشو او موږک (تام او جیری) د دې څنګه

---

[349] - Petitions
[350] - Tom and Jerry
[351] - Mandarin ( Putonghua)
[352] - NC- 17
[353] - bad grammar

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغړېږي؟
ددغـودرېواړوپوښــتنو جـواب په يوه ټکـي کې پروت دی: پېژاند (هويـت) !: «ژبه پيل دی».[354]

(پ)-د ژبې معياري کول: ژب سياست

د ژبو معياري کولو[355] ته ژب سياست (لنګويج پاليسي)[356] هم ويلې شو. هغه څه چې پاس مې ورته په ترکيه، سينګاپور او ولسي چين کې ګوته ونيوله، د ژب سياست درې بيـلګې ښيـي.

د ژبې معياري کول يو سياسي حکومتي ځواب دی چې د ژبې يوې خورا مهمې ځانګړتياته ورکول کېږي: ژبه ولاړه نه ده، بلکې «بدلېږي او اوړي»:[357] د مثال په ډول په ولسي چين کې له ډېرو لهجو نه دهيواد د پايتخت(بيجينګ) لهجه ماندراين درسمي ژبې به څېر غوره شوه. ځينو هيوادونو د ژبې د معياري کولو لپاره علمي موسسي رامنځته کړې دي چې د ژبو پر مختګ او بدلون وڅېړي، لکه د فرانسوي ژبې اکاډمي، د هسپانوي ژبې اکاډمي، په جرمني ژبو هيوادونو کې د ليکدود جرګه[358] په اسراييلو کې د عبري[359] ژبې اکاډمي او د عربي ژبې اکاډمي(د عربي ژبې اکاډمي نږدې څلورمياشتې وړاندې د ۲۰۰۷ زيږيږکال په ډسمبر کې پرانيستل شوه)، په شاهي دوره کې پښتوټولنه په کابل کې، پښتو اکاډمي په پېښور کې، ملـي کيسو اهيلي جرګه په تانزانيا کې، د کيسو اهيلي انسټيټوټ په تانزانيا کې... او کويچوا[360] اکاډمي په پيرو کې.
په دې ډول حکومتونه د ژبې د معياري کولو پريکړې کوي او د ژبې سياست ټاکي او چلوي. هو، وګړي او شخصي سکټور هم د يوې ژبې په معياري کولو کې رول لوبوي. ورځپاڼې، مجلې، خبري اژانسونه، او بريښنيا ييزې خپرونې عموما د مطالبو د خپرولو لپاره مقررات[361] لري. انګريزي خپرونکي ويليم کاکسټن[362] د پنځلسمې زيـيزې پيړۍ په دوهمه نيمايي کې يوه چاپخونه لرله او د خپل چلونکي کنټرول[363] له لارې يې د هغه مهال په خپرونو کې خپل اغيزخوندي کړاو په دې ډول د راتلونکي انګريزي په معياري کولو کې د مټ خاوند شو. دوه(۲) نورو وګړو ډېر مهم

---

[354] - " Language is the beginning , it is part of who we are." ( Rosen).
[355] - Standardization
[356] - Language policy
[357] - it varies and it changes
[358] - Der rat fuer Rechtschreibung
[359] - Hebrew
[360] - Quechua
[361] - editorial guidelines
[362] - Coxton
[363] - editorial

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزي سیندونه(قاموسونه= ډیکشنری) را وویستل: ډاکټر ساموېل جانسن[364] (۱۷۰۹تر ۱۷۸۴) په انګلستان کې، او نواه وېبستر[365] (۱۷۵۸تر ۱۸۴۲) په امریکه کې. وېبستر په امریکایي انګریزي کې داسې املا وکاروله چې په انګلستان کې د مروجې املا سره یې یو څه توپیر لاره، لکه د[366] (معیاري کول) او[367] (سلوک، چلن) ټکي په امریکایي انګریزي کې. دغه شان ایلیزر بن یهودا[368] (۱۸۵۸تر ۱۹۲۲ زیېز) هغه زړه عبري[369] ژبه را ژوندۍ او نوې (موډرن) کړه چې دوه زره کلنې دورې پرې پرېوتلې وې او چاپه ورځنی عادي ژوند کې نه کاروله (په دې اکله به وروسته وغږېږم).

وروسته له روغ پام نه سړی وینی چې معیاري کول د ژبنیو نوسانونو او اوښتنو د چڼولو او یو شکل کولو عملیې ته ویل کیږي[370]. هغه مهال سړی وینی چې معیاري کول یو ډول رسمي (تشریفاتي)[371] ژبه رامنځته کوي. ډېر ځلې خلک فکر کوي چې معیاري (رسمي، تشریفاتي) ژبه د علمي موسسو، دلیکدود دکتابونو، سیندونو (قاموسونو) او غټو خپرونو ژبه ده. په معیاري ژبه کې نه یوازې دیوه ټکي املایي ځیره اهمیت لري، بلکه ګرامري مقررات او ستورونه هم مهم دي. د مثال په ډول، په یوه جمله کې دوه (۲) منفي کارول بې خونده وېناده: هغه نه غوښتل چې ښوونځي ته لاړنشي. په روغه پښتو (هغه غوښتل چې ښوونځي ته لاړشي).

د ژبې د معیاري کیدلو موخه داده چې ژبه عمومي شي، یانې هرڅوک پرې په اسانې سره پوه شي. دلته باید زیاته کړم چې مسلکي تخصصي ژبې حتماً عمومي ژبې نه دي. معیاري ژبه عموماً په اداري، کلتوري او اقتصادي مرکزونو کې را پورته کیږي. پښتانه چې کلتوري ملت دي، خوملي دولت نلري، باید د خپلې ژبې د پالنې او معیاري کولو لپاره یوه بریښنا ییزه جرګه ولري، د بیلګې په ډول[372] (پښتو عمل جرګه)! د دغې جرګې یوه موخه باید داوي چې د پښتو لغاتونو بریښنا ییز بانک[373] جوړ کړي.

مخکې د زیېږ کال ۱۹۹۲له انقلاب نه، انګریزي د سومالیې په حکومتي او تعلیمي ادارو کې برلاسې وه او له دې امله د برلاسې او چتې پتې ژبه وه چې له نږدې لسوسلنو (۱۰٪) نه جوړه شوې وه. شپږ دیرش (۳۶) کلونه وړاندې په زیېږ کال (۱۹۷۲) کې سومالي په لاتین توروکي د دغه هیواد رسمي ژبه شوه. یو څو کلونه وروسته د (۱۹۷۰) کلونو په وروستیو کې په سومالي کې کافي مواد برابر شول چې سومالي له پوهنتون نه په ټیټو تعلیمي موسسو کې د زده کړې

364 - Johansen
365 - Webster
366 - Standardize
367 - behavior
368 - Eliezer ben - Yehuude
369 - Hebrew
370 - Sorting through the variation
371 - Formal
372 - Pashto Action Council
373 - Pashto terminological databases

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښوونې ژبې ته ځګه کړي. عربي په لومړنيو او منځنيو زده کړو کې کارول کيدله. د سومالي ژبې په معياري کولو کې ګړندي ګامونه پورته شول: د دغې ژبې ليکدود ، ويي پانګې (دلغتونو ذخيرې ) ، تلفظي نظام ، او لاتيني پتې (الفبا ) ته کلک پام وشو ، او په(۱۹۷۲) کې لومړي ځل غټ سيند ونه(قاموسونه ) را ووتل. د دې لپاره چې د خپلې رسمي ژبې اړتياوې پوره کړي ، د سومالېې چارپوهانو په غټه کچه له نوي ويي پانګې(نيولوجيزم)[374] نه کار واخيست. په سوماليا کې په ۱۹۹۰ کلونو کې کورنۍ جګړې زور وميند او مرکزي حکومت ړنګ شو ، خو بيا هم سومالي ژبه د بيلا بيلو سيمه ييزو وکمنيو رسمي ژبه يا ملي ژبه پاتې شوه.

ژب سياست[375] (ت)۔

ډيرهيوادونه له ژب سياست نه کار اخلي چې له يو لړ ژبونه عموماً د يوې ځانګړې ژبې په پلويتوب او ملاتړ را اخرخي يا د هغې په کمزورولو او منع کولو کې لګياوي. د تاريخ په اوږدو کې دولتونو عموماً د يوې ژبې د رسمي کولو لارغوره کړې وه. خو اوس ځينې دولتونه هڅه کوي چې سيمه ييزې ژبې له مړينې نه وساتي. ژب سياست هغه څه ته وايي چې حکومت يې د ژبې په اکله کوي: د قانون له لارې ، د محکمې د پريکړو له لارې ، او د حکومتي مقرراتو[376] له لارې ، حکومتونه غواړي چې د ژبې استعمال وټاکي ، د ملي اړتياو د پوره کولو لپاره د ژبې په زده کولو کې اسانتيا راولي ، يا د اقليتي ژبو په ساتنه کې اغيزمن شي.

اوس د ژبني او کلتوري تنوع ساتنه پوهانو ، ليکوالانو ، واکيالانو (سياستمدارانو ) ، او د اقليتي ټولنو مشرانو ته اهميت لري. اټکل داسې دی چې په يوويشتمه(۲۱ ) پيړۍ کې به د شپږزره ژبو نيمايي برخه د مړينې د خطر سره مخامخ شي. د يوې ژبې په خوبيالي کيدا او مړينه کې ډير لاملونه کواند رول لوبوي. د محلي ژبې د ويونکو د شمير کچه ، د دولت په رسمي راشه درشه[377] کې د هغې استعمال ، د هغې د ويونکو جغرافيايي تيتوالي ، او د هغې د ويونکو ټولنيز - اقتصادي وزن. ملي ژب سياست يا د غه شرايط مهارولي شي ، يا د هغوی اغيزمنتوب پرسولی شي او د يوې ژبې د مړينې عمليه ګړندۍ کولای شي. د ژب سياست طريقې په لاندنيو غټو ردو بنديو (کټيګورۍ ) را اخرخي:

۱ –د[378] ادغام پاليسي په هغو حکومتي اقداموونو لاره وي چې د يوې ژبې يا ژبو د ادغام او ورکيدلو عمليه ګړندۍ کړي او په دې ډول يوه مسلطه ژبه رامنځته کړي. د ادغام سياست په پاکستان ، اندونيزيا ، سوريه ، عراق ، ايران

374 - negologism
375 - Language policy
376 - Official lanauge act
377 - Formal communication
378 - assimilation

(c) ketabton.com: The Digital Library

.... او او سنی نیول شوي افغانستان کی لیدل کیږی. دامریکی د ښکیلاک لاندی افغانستان کی «کابل د مشهد په شان» دی.

۲ –د نه مداخلې سیاست[379] ژبی خپل منځه «حسن تفاهم» ته پریږدی. خو په واقعیت کی دغه ډول حسن تفاهم یوې برلاسې (مسلطی) ژبی ته لاراوا روی چی نوری ژبی سوکه سوکه وخوری او په مسلطه ژبه کی یې جذب کړی. بیلګی یی په انګولا، جرمنی، برتانیه، سعودی عربستان، سینیګال، بنګلادیش... او جاپان کی لیدل کیږی

۳ –د متمایز کولو او توپیر منلو سیاست[380] دیوې ژبی په ځانګړي قانونی مقام را تاویږی. دلته اکثریت ټول ژبنی حقوق لری. او دلږه کیانو (اقلیتونو) په ژبو هم لږو ډیر د حفاظت او حمایت وزرونه غوړیدلی وی. بیلګی یی د امریکې په کلیفورنیا ایالت، ولسی چین، اروپایی جرګه، ګواتیمالا،.... او د کاناډا په اونتاریو او کوبیک ایالتونو کی لیدل کیږی.

۴ –د رسمي ژبې د تشویقولو او ارزښتمند کولو سیاست[381] په دی فکرولاړدی چی دیوې ژبې سره دې مینه اونازولتیاوښودل شی. دا ډول سیاست په یو ژبتیا[382] را څرخی. کله د یو هیواد ملي ژبې ته د رسمی مقام پټکی وړپرسرکیږي، او کله په استعماری ژبه دغه ډول پیرزوینه کیږی. دلته کله ناکله د اقلیتی ژبو حفاظت ته هم پاملرنه کیږی. کله ناکله داسی پیښیږی چی رسمی ژبه د ملت د اکثریت لومړۍ ژبه وی. بیلګی یی دادی: فرانسه، الجزایر، برازیل، مراکش، شمالی کوریا، اسراییل، ایټالیه، ایران، مصر، کمبودیا، ټونس، لبنان، هند...او ویتنام. په افریقاکی انګریزی په شپاړس (۱۶) هیوادونوکی، فرانسوی په اووه لس (۱۷) هیوادونوکی، پرتګالی په پنځه هیوادونوکی، او هسپانوی په یوه هیواد کی رسمی مقامونه لری. عربی او فرانسوی په غبرګ ډول د ټونس، مراکش او موریتانیا رسمی ژبی دی. وګورئ بریښنا ییزه چینه[383]

دیوی ژبی په تعمیم (عمومی کیدلو) کی یو شو عملیاتی ساحې غټ رول لوبوی: رسمی ژبه، ملی ژبه، د تدریس ژبه، تعلیمی ژبه، مطبوعاتی ژبه، تجارتی ژبه... او دینی ژبه. د یهودانو د ژبې (عبري) په ساتلو کی یهودی دین ستر رول لوبولی دی. د سانسکریټ په ساتلو کی هندویت ستر رول لوبولی دی، او د عربی په ساتلو کی اسلام ستر رول لوبولی دی. د ژب سیاست لپاره دوه هیوادونه بیلګه کوم: سینګاپور او اسراییل.

---

[379] - non - intervention

[380] - Differentiated legal status policies

[381] - Valorization of the lanauge policy

[382] - unilingalism

[383] - Language policy – Wikipedia,electronic

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی مثال - سینګاپور

په سینګاپور کې ژبسیاست په ښایسته ښه کچه په اغیزمن ډول اداره کیږي. په جنوب ختیزه اسیا کې سینګاپور یو کوچنی ښاري دولت دی چې څلور(۴) رسمي ژبې لري: انګریزي، مَلې[384]، ماندارین، او تمیل. مَلې په عین حال کې ملي ژبه هم ده. هره ژبه په بیلې بیلې ژبنۍ کورنۍ پورې تړلې ده. په سینګاپور کې ژبسیاست کوم هدفونه لري؟ هلته ژبسیاست په دې موخو راڅرخي:

۱ – په یو کوچني دولت کې چې نه طبیعي منابع لري او نه له ساحل نه شاته زمکه لري، ژبسیاست باید ګړندۍ اقتصادي ودې ته زمینه برابره کړي

۲ – ژبسیاست باید په یوه غیرمتجانسه ټولنه کې د پوهاوي راپوهاوي وسیله را منځته کړي

۳ – په هیواد کې د سترچیني قوم په غټو لهجو کې چې د یو بل سره پوهاوي پکې مشکل دی، ګډه وسیله راوباسي

۴ – ژبنۍ او کلتوري ټولپالنې[385] ته رسمي پټکې وړپرسرکړي

۵ – ژبسیاست باید په سینګاپوریانو کې وفاداري وپالي او پیژاند (هویت) یې غښتلی کړي – هغه هویت چې د جنوب ختیزې اسیا په میراث ډک شوی دی.

۶ – ژبسیاست باید سینګاپور په هغه سیمه کې همرنګي کړي[386] چې په ستره کچه په مَلې[387] ژبه غږیږي، او ژبسیاست باید

۷ – بین المللي پیوند کلک او ګړندی کړي

سینګاپور ولې انګریزي ژبه خپل اساسي رسمي ژبه کړه؟ لاملونه یې دوه دي:

۱ – انګریزي د تخنیک، معلوماتو او تجارت ژبه ده، او د غه شان انګریزي د جنوب ختیزې اسیا د ملتونو د ټولنې[388] رسمي ژبه هم ده.

۲ – انګریزي د درې نورو قومي – رسمي ژبو په منځ کې «ناپییلې»[389] ژبه ده. په سینګاپور کې د دوه ژبتیا سیاست[390] داسې دی چې په ښوونځي کې به هر زده کوونکی دوه رسمي ژبې زده کوي: یوه به یې انګریزي وي او بله به یې مورنۍ ژبه وي. سینګاپوریان کلکه هڅه کوي چې مورنۍ ژبه او انګریزي ژبه روغه زده کړي، ځکه چې د ژبو د زده کړې کنډه

---

[384] - Malay
[385] - Pluralism
[386] - integrate
[387] - Malay
[388] - Association for South East Asian Nations
[389] - neutral
[390] - bilingual policy

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلوړو زده کړو او پوهنتوني تحصیلاتو لپاره اهمیت لري.[391]

دجنوب ختیزې اسیاد قومونو پنځه نوري ژبې هم د پوهنې او ښوونځيو په سیستم کې زده کیږي: هندي، اردو، بنګالي، پنجابي او ګجراتي. دلته وینو چې د دوه ژبتیا د سیاست له مخې، باید هر سینګاپوری انګریزي زده کړي او هر سینګاپوری باید د هیواد په یوه بله رسمي ژبه(معمولاً مورني ژبه) وپوهیږي. په دې ډول په سینګاپورکې د زده کړې نظام د دغه هیواد په پرمختګ راتاویږي او په ټولو هیوادوالو (اتباعو) کې ملي احساس او ملي تړون غښتلي کوي، او د ملي تړون د جوړولو عملیه ګړندۍ کوي. یانې تعلیمي نظام هلته د اقتصادي ودې او ملي تړون په خدمت کې دی. سینګاپوریان په دې پوهیږي چې انګریزي د یوه عملي انتفاعي لوښي په څیر کاروي، نه د یو احساسي هویتي هدف او تړون په څیر.[392]

په سینګاپورکې د مورنۍ ژبې او انګریزي ژبې په زده کړه نږدې یو اندازه وخت لګیږي:

| دښوونځۍ ډول | مورنی ژبه هره اونی | انګریزي هره اونی |
|---|---|---|
| لومړی ښوونځۍ Primary School | لس، نیم ساعته دوری = پنځه ګینټې | دولس، نیم ساعته دوری = شپږ ګینټې |
| دوهمی ښوونځۍ secondary School | شپږ، څلویښت دقیقه يي دورې = څلور ګینټې | شپږ څلویښت دقیقه يي دوری = څلور ګینټې |
| دوه کلن کالج Junior College | شپږ، څلویښت دقیقه يي دوری = څلور ګینټې | شپږ څلویښت دقیقه يي دوری = څلور ګینټې |

[391] - "the constant desire to upgrade" both lanauges " is translated into gate-keeping procedures in terms of student admission to higher levels of education, for example, secondry school to junior college and from junior collage to university entrance." Georagetown university Round table on languages and linguistics, 1999, pp.342 – 343.

[392] - " In brief Singapore wants English as a tool rather than a tie, it wants English to serve a utilitarian but not an emotional purpose." Ibid, p.344.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم مثال: اسراییل

دشلمی پیړی په اوږدو کی دعبري ژبې[393] دراژوندی کولو[394] او وطني[395] کولو لپاره ژبنۍ مفکورې(ایدیالوجی) او ژب سیاست ته اړتیا وه. دلومړۍ نړیوالې جګړې په پای سره، فلسطین دانګریزانو دحاکمیت لاندی راغی. شپږ اتیاکلونه وړاندی په زیږدیز کال(۱۹۲۲) کی دملتوټولنی[396] فلسطین دانګریزانو حاکمیت[397] ته وروسپاره. که څه هم دغه مهال یهودانو خپل دولت نه لاره، دهغوی ژبه(عبري) دانګریزی او عربی ژبو په شان دانګریزانو له خوا رسمی اعلان شوه. دا یوه استثناوه چی د یوه بې هیواده او بې دولته ډلی ژبه دې رسمی ژبی ته لوړه شی:[398]

داسراییلو دولت نږدی شپیته کلونه وړاندی د زیږدیز کال ۱۹۴۸ په می کی دلویدیزی نړی دقوی اډی په څیر په منځنی ختیزکی رامنځته شو. ددغه دولت په خصلت کی یو یهودي عالم ایلیزر بن یهودا[399] سازونکی رول لوبولی دی، بن یهودا دصیهونیزم د موسس پلرونو په ډله کی یوه وتلې څیره وه. ډیرخلک ورته دنوې یهودي ژبې (عبري) پلار[400] وایی.

یوه سړي ایلیزر بن یهودا (۱۸۵۸تر۱۹۲۲) هغه زړه عبری ژبه راژوندی او غنی کړه چی دوه زره(۲۰۰۰) کلنی دوړی پری پریوتلی وی او څوک پری په ورځنی عادی ژوند کی نه غږیدل. د ایلیزربن یهودا له ژبنی فعالیت نه وړاندی یهودی ژبه یوازې په دینی وعظونو او دعاګانو راچاپیره وه. هغه د یهودی هیوادپه اکله خپل فکرونه په یهودی ژبه (عبري)[401] کې خپاره کړل. د ایلیزر بن یهودا په فکر کې هغه ارمانونه خوندی شوی وو چی دیهودانو دخپلواکۍ، ملی هیواد او ملی ژبې درې ګوټی (مثلث) یی جوړ کړی و. د روسیی او ترکیی جنګ(۱۸۷۷تر۱۸۷۸) او دبالکان دولسونو د خپلواکی جګړو په ایلیزر بن یهودا کی یهودی ملی شعور راپورته کړ(ایلیزر بن یهودا په لتوانیا کی په یوه دینی کورنی کی زیږیدلی و). ایلیزربن یهودا په خپل یونامکمل ژوند لیک[402] کی چی دلومړۍ نړیوالې جګړې په وروستیوکلونو(۱۹۱۷تر۱۹۱۸) کی یی په امریکه کی لیکلی وه، داسی کاږی چی د یهودي ملت جوړیدا په دوه ستنو ولاړه وه: «هرڅومره زیات چې می د ملي بقا په اکله فکر وکړ، هغومره پوه شوم چی یوه ژبه د ولس د یووالي لپاره څه کولی شي.» بن یهودا وایی چی هغومره چی یهودان د خپلې ژوندي ملت کیدا لپاره خپل «لرغوني هیواد»

[393] - Hebrew

[394] - Revitalization

[395] - Vernacularization

[396] - Leauge of Nations

[397] - mandate

[398] - " All ordinances, official notices and official forms of

[399] - Eliezer Ben- Yehudal

[400] - Father of modern Hebrew

[401] - Hebrew

[402] - unfinished autobiography

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د راستنیدا اړتیا لري، هغو مره دیته هم اړتیا لري چې د «خپلو پخوانیانو ژبې» ته راستانه شي، یانې د هغوي ژبه را ژوندی او اباده کړي[403]

ژبه د ایلیزربن یهودا لپاره د پاځون وسیله وه او د تړون سمبول. ایلیزربن یهودا د هغه اصلي نوم نه وه، بلکې اصلي تولدی نوم یې ایلیزرییڅاک پرلمن[404] و. هغه غوره کړل چې (نګه) سوچه یهودی نوم ولری: بن یهودا یې[405] نوی نوم شو. بن یهودا په لیتوانیا کې په یوه دیني کورني کې زیږیدلی و (۱۸۵۸). روسي، جرمني، فرانسوی او عربي یې زده کړي وي. بن یهودا دری غټ عملیاتي پلانونه لرل: « لومړی، عبري ژبه په کورکې، دوهم، عبري ژبه په ښوونځي کې، او دریم، لغات، لغات، لغات».
لکه چې وینو د بن یهودا نشنلیزم (ملي ګري) په ژبه ولاړه وه. نوموړی په دوه ویشت (۲۲) کلنۍ کې په زیږکال ۱۸۸۱ کې له روسی نه فرانسي او ورپسې فلسطین ته کډه وکړه. هغه له خپلې میرمنې نه ژمنه اخیستلې وه چې زوزات به یې په – یهودی یانې عبري ژبه کې روزل کیږي. دیبورا[406] اصلاً په روسي ژبه غږیدله ، خو د خپل میړه سره د کلکې ژمنې له مخې یې خپله ژبه یانې عبري[407] زده کړه.
لومړی ځوی یې بن زاین بن یهودا[408] ونوماوه. بن زاین لومړی یهود وه چې د خپلې ژبې[409] په تغرلوی شوی و. په دې ډول بن یهودا او میرمن یې دیبورا لومړۍ یهودی کورني وه چې په عبري ژبه ګړیدله
ایلیزربن یهودا په جیروزالم (القدس) کې دوه سازمانونه رامنځته کړل: (تخیات اسراییل)[410] د اسراییلو بیا ژوندی کیدل، او «سفابراور»[411] روغه ژبه یانې نګه او روانه ژبه. په مهالیزوکې به بن یهودا د خپلو لیکنو لپاره نوی لغات راویستل، ځکه چې پخوانۍ عبري ژبې د نوې زمانې اړتیاوې او واقعیتونه نشول منعکسولی. ایلیزربن یهودا یوه ژبني ټولنه جوړه کړه، په دې نوم[412] (د عبري ژبې ځانګه). موخه یې دا وه چې د عبري ژبې پرمختګ غښتلی او اداره

---

[403] - " But the more I Thought of the national survival the more I realized that just as the Jews could not become a living nation except by returning to their ancient homeland – so also they could not become a living nation exceptly by returning to the language of their ancestor… - just likeevery other nation each with its tongue. That was the decisive moment in my life, when I saw that the two things withoutwhich the jes could not become a nation are the land the language." The history of Eliezer Ben – Yehuda Hebrew, electronic version, 5 pages.
[404] - Eliezer Yitzhak perelman
[405] - Ben - Yehuda
[406] - Deborah
[407] - Hebrew
[408] - Ben – Zion Ben - Yehuda
[409] - Hebrew
[410] - Rebirth of Israel
[411] - Clear Tongue
[412] - Hegrew language council

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. پخپله ایلیزربن یهودا دعبري ژبې دجرګې مشرو (دغه ټولنه دا سراییلو د دولت له جوړولو (۱۹۴۸) نه وروسته په(۱۹۵۳م) کې دعبري ژبې اکاډمۍ[413]ته جګه شوه). دعبري ژبه په جرګه کې به ایلیزربن یهودا په ورځ کې اتلس(۱۸) ګینټې لګیا وچې «دپخوانۍ او اوسنۍ عبري ژبې بشپړ سیند»[414] راوباسي.
څه کم سل(۱۰۰) کلونه وړاندې په(۱۹۱۰) کې یې د خپلو شپږو ټوکونو لومړی ټوک خپور کړ. دغه له مړینې(۱۹۲۲) نه وروسته، د ذکرشوي قاموس اووه لس(۱۷) ټوکونه دا ایلیزربن یهودا د دوهمې میرمنې اودوهم ځوی ایهود[415]په زیارخپاره شول. په دغه سیند(قاموس) کې ټول لغتونه خوندي شوي دي چې دحضرت ابراهیم(ع) له زمانې نه ترنونې زمانې پورې په عبري ژبه کې کارول شوي دي. ایلیزربن یهودادلغتونو دراویستلولپاره بېلا بېلې نسخې وڅېړلې اوله هغوی نه یې هغه لغات غوره کړل چې دنوي ورځنۍ ژوند اودروانې ژبې لپاره ګټوروو. هغه یوه اونیزه[416] راویستله. په هغې کې به یې خپل روڼ اندیز فکرونه خپرول اونوی لغاتونه به یې پکې معرفي کول. نوی لغتونه به یې په ډېرو لیکنو کې تکرارول او په دې ډول به یې دخپلې خپرونې دلوستونکو په مغزو کې خوندي کول. ایلیزربن یهودا دنوې عبري ژبې لپاره سیفردیک تلفظ[417] غوره وګاڼه( سفردي هغه یهودان وو چې عموماً په هسپانیه، پرتګال، اوشمالي افریقه کې اوسیدل). په دې ډول ایلیزربن یهودا خپل ارمان پوره کړ: په فلسطین کې د لویدیز په مټ نوی یهودي دولت دا سراییلو په نوم جوړ شوچې په خپله پخوانۍ، خو د خپلې زمانې د اړتیاوو لپاره په ارته شوې او معیاري شوې عبري ژبه چلیږي.
له نن نه نوي(۹۰) کلونه وړاندې د زیبیږکال(۱۹۱۸) په اوړي کې صیهونستانو[418] د برتانیې په توافق سره په جیروزالم(القدس) کې د یوې غونډۍ یوه برخه را ونیوله، اودنړیوال صیهونیستي سازمان مشرډاکترخایم وایځمن پکې دعبري پوهنتون[419] د بنسټ ډبره کېښنوده. جیمس ارتربلفور[420] چې د انجیل په ټغرلوی شوی و، دبرتانیې لومړی وزیر(۱۹۰۲تر۱۹۰۵) وچې بیا وروسته دلومړۍ نړیوالې جګړې په مهال دبرتانیې دبهرنیوچاروو زیر(۱۹۱۲تر۱۹۲۱) شو. بلفورچې د یهودانو د «ملي هیواد» پلوي و، فلسطین یې لومړی ځل په (۱۹۲۵) کې ولیداوپه القدس کې یې عبري پوهنتون پرانیست. دا سراییلو په اکله د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ: زیرک یار، دنوی سیاست الجبره: دامریکې دامپراتورۍ لپاره فکرونه، ستراتیجۍ، پلانونه، عملیات، ډنډورې اوغولونې(۱۹۸۹تر۲۰۰۲)، خپرندوی: د پښتنې کولتوردودې اوپراختیاټولنه-جرمني، چاپ ځای: ددانش خپرندوی ټولنه، پېښور، ۲۰۰۷،

---

413 - Hebrew lanauge Academy
414 - Complete Dicionary of Ancient and Modern
415 - Ehud
416 - Zvi
417 - Sephardic
418 - Zionists
419 - Herbrew university
420 - Balfour

مخونه ۴۲۲ تر ۴۷۲.

دشلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې یانې داسراییل د دولت دجوړولو د کال(۱۹۴۸) پورې، عبري یو ژبتیا دومره غښتلې شوې وه چې دفلسطین اتیا سلنو (۸۰٪) یهودانو دعبري ژبې دپوهیدلو ادعا کوله. دغه شان هلته څه دپاسه پنځوس سلنو (۵۰٪) یهودانو ادعا کوله چې عبري یې یوائینۍ ژبه وه. دغه شمیرنې ښیي چې دفلسطین یهودان په څومره لنډه، پنځوس(۵۰) کلنه، موده کې له ګڼ ژبتیا[421] نه ایډیالوژیک یو ژبتیا[422] ته واوښتل. داسراییلو ددولت دجوړیدلو(می ۱۴، ۱۹۴۸) سره سم، عبري ژبه د دولت برلاسې رسمي ژبه شوه او انګریزي عملاً دوهم مقام ته راټیټه شوه، خو په عین حال کې دوهمه اغیزمنه ژبه پاتې شوه. په اسراییلو کې عربي ژبه هم رسمي ژبه پاتې شوه خو عملاً یې مقام له انګریزي ژبې نه ښکته شو. په بله وینا عبري[423] ژبه لومړۍ درجه رسمي ژبه شوه، انګریزي ژبه ته دوهم درجه مقام ورپه برخه شو، او په عربي ژبه باندې د دریمې درجې رسمي ژبې پیرزوینه وشوه.

په اسراییلو کې عبري ژبه په نږدې ټولو عامه(دولتي) او شخصي فعالیتونو کې یوائیني برلاسي مقام ته ځګه شوه: عبري[424] د حکومت، ښوونځي، پوهنتون، تجارت، عسکري، روغتیا، راډیو، تلویژن.. او کور ژبه شوه. له نورې نړۍ به چې یهودي کډوالان اسراییلو ته راورسیدل، دعبري ژبې د زده کړې پروګرام به یې تعقیباوه چې په(۱۹۴۹) کې د الپان[425] په نوم راوتلی و. د ښوونځي، پوهنتون او حکومت سره د نوو کډوالانو تماس په هغوی زور راچاوه چې زرتر زره عبري ژبه زده کړي. دډاکټرۍ د علمي درجې د لاسته راوړلو تحقیقي خیړنې[426] باید په عبري ژبه کې ولیکل شي. عرب اسراییلیان د لوړو پوهنو[427] لپاره مجبور دي چې عبري ژبه زده کړي. وروسته له دې چې عبري ژبه په اسراییلو کې رسمي او کلکه شوه، هلته له (۱۹۹۰) کلونو راهیسې څو ژبتیا[428] ته د مطلوبې موخې (هدف) په څېرپام وشو، بې له دې چې دعبري[429] ژبې برلاستیا زیانمنه شي. په دې ډول، هلته عربي ژبه او د یهودي کډوالانو ژبې منل شوې دي. په یهودي برخه(سکټور) کې عبري د تدریس ژبه ده، او په عربي سکتور کې عربي دتدریس ژبه ده(په نږدې شل سلنو ۲۰٪ ښوونځیو کې). په عربي ښوونځیو کې باید عبري[430] د دوهمې ژبې په څیر زده شي، او په یهودي

421 - Plurilingualism

422 - Ideological monolingualism

423 - Hebrew
424 - Hebrew
425 - ulplan
426 - dissertations
427 - higher education
428 - Multilingualism
429 - Hebrew
430 - Hebrew

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځيوکې بايدعربي ژبه څلورکاله تدريس شي. په بين المللي ژبوکې انګريزي لومړی مقام لري چې بايد دلومړئ بهرنئ ژبې په څيرزده شي. ورپسې فرانسوي ده. چې دانګريزي ياعربي په ځای يادووهمې بهرنی ژبې په څيرتدريسيږي. د ژبی نوی سياست نوي يهودي کډوال ديته هڅوی چې په مورنئ ژبه ورته تدريس ورکړل شي، اوپه عين حال کې په دې ټينګارشوی دی چې د ژبود زده کړې لپاره ځانګړي ښوونځي جوړشي. عملاً په يهودي ښوونځيوکې دعربي ژبې تدريس کړکيچو(مات ګوډ ) دی. دعربي ژبې د تدريس لپاره د يهودي ښځوونځيو نيمايی برخه په اقلي پروګرام[431] چليږي.[432]

اسراييل چې ددولت په څيرپه(۱۹۴۸) کې په فلسطين کی رامنځته شو، په لومړيو پنځوس(۵۰) کلونوکی يې ژب سياست«يواځې عبري» ته خدمت کاوه يانې يواځې په عبري ژبه[433] را چاپيرو. ددغه ژب سياست په اوږدوکی دعبري ژبې هويتي اوسمبوليک وظيفه غښتلې شوه. وروسته له دې چې عبري[434] دملې هويتې چينی په څيرپخه، ارته اوبرلاسی شوه، اسراييلی دولت نورې ژبې لکه عربي، روسي، او ييديش[435] دپوهاوي راپوهاوي(افهام اوتفهيم) دوسيلوپه څيرګټوري وګڼلې اوهغوی ته يې د[436] ملي ژبني ظرفيت په څيرپاملرنه وکړه. په بله وينا، کله چې اسراييلوخپله يهودي ژبه يانې عبري دخپل ملت دهويت دساتنې لپاره غښتلې اوبرلاسې کړه، نوبيا يې ګڼ ژبتياته په خپل سياست کی ځای ورکړاوله دې اصل نه چې عبري ژبه«لومړی» ده د ژبني تنوع په خوا وخوځيد« زماژبه ستاسې د ژبې په څنګ کې»[437]

(ت)ـ ژب پلان[438]

د ژبوتماسونه ديرغل اونيواک (اشغال)، د کډوالتيا، د نويوملتونورد جوړولو،...او تجارت له لارې له لارې منځته کيږي. يوه پوښتنه اهميت لري: ژبــه کــوم مشــکلات لري؟

---

[431] - minimum program
[432] - " barely 2,000{ two thousand} pupils continue studying it to the end of high school." Berard spalsky at Bar-Ilan university, "Lanauge in Israel: Policy, Practice, and ideology", Georaetown university round table on languages and linguistics, 1999, pp. 164 – 172.
[433] - Hebrew – only approach
[434] - Hebrew
[435] - Yiddish
[436] - national language capacity
[437] - from " mylanguage first" to " my language alongside yours" ibid
[438] - Language planning

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه سیاسي واحد کې د ګډې ژبې نشتوالی، د لیکلو د نظام نشتوالی یا کموالی، د تخنیکي او علمي لغتونو نشتوالی...د درسي کتابونو نشتوالی یا کموالی. هرګڼ ژبي سیاسي واحد ته چې یوه یا څو ژبې پکې قوي وي او نورې پکې کمزورې وي، د ژبنیو مشکلاتو سیمه ویل کیږي. دغه ډول سیمه ژب پلان ته کلکه اړتیا لري. ژب پلان په ملي سویه د ژبې د پرابلمونو (مشکلاتو) د حل کولو «منظمې پالنې»[439] ته ویل کیږي. په بله وینا، ژب پلان په ملي سویه د ژبې د مشکلاتو منظم حکومتي فعالیت ته وایي (کارل ایرلند ګاډیلي د آیو بمګبوزې په حواله)[440] زه له دې اثر نه د ژب پلان په اکله غټې ټکي را اخلم او لنډوم یې.

ژب پلان دوه برخې لري: لومړئ برخه یې د شان یا مقام ژب پلان نومیږي[441] چې په ژب سیاست را څرخي، لکه د ژبې توزیع یا ویش په بیلابیلو قلمرونو کې (د ژبې رسمي مقام په حکومت کې، په تجارت، په زده کړه او پوهنه کې، او د روغتیا په چارو کې).

دوهمه برخه یې جسمي پلان[442] نومیږي چې د ژب سیاست په پلي کولو (اجرا) را څرخي. په جسمي پلان کې د ژبې جسمي شتون را ځي، لکه د ګرامر، املا، سیندونو (قاموسونو) د درسي کتابونو....او د لیکلو یا خطي نظام تولید. په بله وینا، د شان یا مقام پلان ته رسمي پریکړې هم ویلې شو، او جسمي پلان ته د رسمي پریکړې پلي کول ویلې شو چې د ژبې په مشخصو جسمي موادو را تاویږي. د یوې ژبې د مقام پلان ګټه نلري، خو دا چې عملي شي یانې په جسمي پلان واوړي. بې له مقام پلان یا ژب سیاست یا رسمي پریکړې نه، جسمي پلان ډیر لږ امکان لري چې ګټور شي.

په یو هیواد کې د یوې ژبې د غښتلتیا (تقویې) لپاره مهمه ده چې څومره وګړي پرې غږیږي، په کومه کچه د ملي احساس او ملي تړون مرستندوی ده، او په ملي تاریخي ځانګړتیا (پیژاند) کې څومره رول لوبولی شي، یانې ولس ورته د خپل مال په سترګه کسي که د بل چا مال یې ګڼي. ژب پلان لاندینیو سریزو فعالیتونو ته اړتیا لري:

۱ –غونډې (کنفرانسونه)

۲- ژب ټولنیزې سروې ګانې[443]

---

[439] - Organized pursuit

[440] - Karl Erland Gadelii, Language planning:

Therory and practice, Evaluation of language planning cases worldwide, 1999, electronic version, 27 pages, for the languages Division(Education sector) of UNESCO

[441] - Status planning

[442] - Corpus planning

[443] - Socialinguistic surveys

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – ازمایښتي پروژې (پایلټ پراجېکټز)[444]
۴ –حکومتی کمیسون
۵ –خپلواک کمیسون
۶ –د ژبی په اړوند کی دبین المللی کنفرانسونو پریکړې

دیوې ژبې دمقامي پلان کولو لپاره لاندیني تولنیزقلمرونه ارزښت لري:
حکومت، پارلمان(ولسی جرګه اومشرانو جرګه)، محکمې، اداره، دروغتیاچارې، دښوونې اوپوهنې وزارتونه، تجارت، او ورځپاڼې رسانې (ماس میډیا). په یوهیواد کی چی دوه یاځو رسمي ژبې مني، ډیرارت اودقیق ژب پلان ته اړتیاده. په ژب پلان کی د زده کړې اولوړو پوهنو قلمرو ارزښت ډیر اهمیت لري، ځکه دلته دنوي او راتلونکي نسل په زړه اوفکر کی د ملي تړون زړي کرل کیدلی شي. د زده کړو او لوړو پوهنو په وزارتونو کی غټې مفکورې په ورځني ژبني سلوک اوورځني متقابل احترام اوړي چی په خپل وارسره ملي تړون ته لاراواروي[445] هغه ژب پلان چی لاندنیو حالتونو ته ځواب ووایی، دبریالیتوب تومنه لري:

الف: عمومی معلومات:
۱ –دوګړوشمیر
۲ –داکثریت( له نیمایي نه زیات ویونکو ) ژبه
۳ –داقلیت ژبه
ب: د ژبی قانوني مقام:
۱ –رسمي ژبې
۲ –نورې ژبې چی مقام یی ټاکل شوی وي
۳ –هغه متن چی د ژبو استعمال ټاکی(داساسی قانون ماده یامادې، د ژبو قانون، د محکمې پریکړه/پریکړې).
پ: په قانون سازی کی د ژبو استعمال:
۱ –د ژبو استعمال په پارلمان کی(وینا، لیکنه)

---

[444] - Pilot projects
[445] - "Educational institution is recognized not only as an agent of implementation but also as an interface of macro-level ideologies and in macro-level linguistic behaviors in the everyday life speakers."

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ –د قوانینو په لیکلو کی د ژبو استعمال
۳ –د قانون په اعلامولو کی د ژبو استعمال
۴ –هغه متن چی د ژبو استعمال ټاکی.
ت: په قضایي نظام کی د ژبو استعمال:
۱ –مجاز ژبی
۲ –هغه ژبی چی معمولاً استعمالیږي
۳ –د قضاوت(پریکړې) ژبې
۴ –هغه متن چی د ژبو استعمال ټاکي
ټ: په اداره کی د ژبو استعمال:
۱ –د اجرایې ژبې
۲ –ولایتي اومحلي حکومتونو ته د مرکزي اجرایې د رسمي مکتوبونو ژبې
۳ –بهرنیو هیوادونو ته د مرکزی حکومت د رسمي مکتوبونو ژبې
۴ –هغه ژبې چی په ایالتي او محلي اداروکې استعمالیږي
۵ –د انتخاباتي مبارزو د غونډو ژبې
۶ –هغه متن چی د ژبو استعمال ټاکي
ث: د زده کړی او پوهنې ژبې
۱ –دوړکتون اوروزنتون ژبې
۲ –د ښوونځي ژبې(لومړنی، دوهمی، لیسه)[446]
۳ –د لوړو زده کړو (پوهنتونو ژبې)
۴ –د غټانو لپاره د لیک لوست د کورسونو ژبې
۵ –هغه ژبې چی په ښوونځي(لومړنی، دوهمی او لیسه کی) او پوهنځي کی زده کیږي باید وښودل شي چی په کومه موضوع کی حتمي دي که اختیاري.
۶ –هغه متن چی د ژبو استعمال ټاکي
ج: په تجارت کی د ژبو استعمال:
۱ –هغه ژبې چی په تجارتي اعلانو کی کارول کیږي
۲ –هغه ژبې چی په اداري اطلاعیو یا اعلامیو کی کارول کیږی

[446] - په کوم ټولګی او په کوم مضمون کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ –هغه ژبې چې د اموالو په نومونې[447] کې کارول کیږي
۴ –هغه ژبې چې د مقرراتو او د زده کړې لارښود ونه پرې لیکل شوې وي[448]
۵ –هغـــــه ژبې چې په تجارتي چاپ پاڼو[449] کې کارول کیږي
۶ –هغـــه متن چې د ژبو استعـمال ښاکي

چ: په مطبوعاتو کې د ژبو استعمال:
۱ –هغه ژبې چې په چاپي خپرونو کې کارول کیږي(د غښو مهالیزو دنو مونو لیست باید مل شي او په هغه کې وښودل شي چې څو ځلې او په څومره شمیر خپریږي.)
۲ –هغه ژبې چې په راډیو کې کارول کیږي(په اونۍ کې څو ګینټې)
۳ –هغه ژبې چې په تلویزیون کې کارول کیږي(هره اونۍ کې څو ګینټې)
۴ –هغه متن چې د ژبو استعمال ښاکي
ح: رسمي ژبې په عمل کې
۱ –کومه ژبه عملاً رسمي ژبه ده؟
۲ –عملاً کومې ژبې په کوموکچو (څو سلنې٪) رسمي ژبې دي؟

[447] - Labelling
[448] - Policy and instruction manual
[449] - Printed matter

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لـــــــــــنډيـز

انسان یو اځنی ژوی دی چی د وینا پیرزوینه پرې شوېده. که له یوې خوا ژبه لوښی(وسیله) ده د پوهاوي راپوهاوي(افهام او تفهیم) لپاره، نوله بلې خوا ژبه تړون دی او غوټه[450] ده د پیژاند(هویت) لپاره.
هغه ولس چی خپل دولت یې نه وي جوړکړی، رسمي ژبه نلري خوملي ژبه لري. عموماً ملی ژبه دولتونه زیږوي، او دولتونه رسمي ژبه ټاکي. دا چی ژبه ولاړه نه ده، معیاري کولو ته یی اړتیا ده. د ژبی په معیاري کولو کی دواړه دولت او شخصی سکټور رول لوبوي. د ژبی د معیاری کولو موخه دا ده چی ژبه عمومی شی، یانی هر څوک پری په اسانی سره پوه شی. خو مسلکی تخصصی ژبی حتماً عمومی ژبی نه دي. ګڼ ژبتیا ارت او دقیق ژب پلان ته اړتیا لری. که دوه ژبې یا ډیرې ژبې رسمي وي، باید ټولې روغې زده شي او باید د زده کړې کنډه(اندازه) یې دلوړو زده کړو او پوهنتوني تحصیلاتو لپاره اهمیت ولري
د ژب پلان موخه دا ده چی خلکو ته د خپلې ژبې د کارولو امکان برابرکړي او ګڼ ژبتیا تشویق کړي. یو اځې قانوني احکام نشي کولی چی یوه اقلیتي یا کمزورې ژبه وساتي او غښتلې یې کړي، بلکې په ژب ساتنه او ژب پرمختیا کی نورعوامل هم کواند رول لوبوي. بیلګې یې دا دي: د ژبی دویونکو شمیر، په یوه تړلی سیمه کی د هغوی تیتوالی، د خپلی ژبی سره د هغوی مینه، د هغوی اقتصادی وزن، د هغوی سیاسی تنظیم، د هغوی د ژبی اتبار، یانې د ژبې سره مثبت پیوند لکه دولتمندي، کارمندي، تعلیم،...او د اصالت احساس. دیوې محرومې شوې او غفلت زپلې ژبې په ژوندي کولو او پرمختیا کې څلور پریکړې روغ رول لوبولی شي:
-یو دا چې په ژب سیاست کې یې مناسب حق په برخه شي
-دوهم دا چې ژب سیاست پلی شي
-دریم دا چې د هغې لپاره ټولنیزه اړتیا خلقه شي
-څلورم دا چې ملي تړون او غبرګون ته لاراواره شي. یانې په ټولو ټولنیزو قلمرونو کې(اجراییه، قضاییه، قانونیه، معارف، تجارت...او مطبوعاتو کې) په دې بسنه ونشي چې«یا زما ژبه یا ستا ژبه»، بلکې پرځای یې د تړون او غبرګون دریځ پیاوړی شي: «دواړه زما ژبه او ستا ژبه»[451]

په ژب پلان کې درې ټکی کوټلی رول لوبوي:

---

[450] - Tie

[451] - " It is not a question of either **A** or **B** but of both **A** and **B**."

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – هغه ژبه چې پلان یې جوړیږي، باید رسمي مقام یې منل شوی وي.
۲ – محرومه شوې او غفلت وهلې ژبه باید له ښوونځي نه تر پوهنځي پورې د تدریس ژبه وي ، او څوک چې یې برې لیک ونلري او لیکل، لوستل او وینا پرې نشي کولی، باید لوړ رتبه دولتي او علمي مقامونه ورته و نه سپارل شي.
دلته باید دوا ړه ملي کفایت او مسلکي کفایت د یو بل سره څنګ په څنګ غبرګ روان شي. پښتانه باید (د پښتو عمل جرګه)[452] جوړه کړي چې مایې په ۱۹۹۷کال کې او بیا په کال ۲۰۰۰کې وړاندیز کړی و. د دغې جرګې یو ه موخه باید دا وي چې د پښتو لغتونو بریښنا ییز بانک[453] را وباسي. په دغه اکله ډاکټر نبي مصداق هم دوی میاشتې وړاندې څه ناڅه ورته او ګټور وړاندیز کړی دی(ایینه افغانستان، فبروری ۲۰۰۸، دلوه ۱۳۸۲، مخ ۷۷). د دغه کار لپاره دې د سریزو چارو کمیټه[454] جوړه شي او د مثال په ډول لاندیني اشخاص دې پکې کواند شي: پوهاند جهان زیب نیاز، پوهاند محمد همایون هما ، ډاکټر راج ولي شاه خټک ،ډاکټر اکبر اکبر ، ډاکټر ببری ګل وزیر ، ډاکټر محمد اکبر وردګ، ډاکټره ثریا خادم، منلی عبد الباري جهاني، منلی پلوال، منلی شپون، منلی عبد الله بختانی خدمتګار ، منلی ننګ یوسفزی، پوهندویه کبرا مظهري، منلی سید صابر شاه صابر ، منلې بارکزۍ ، منلی حدادفرهاد ، منلی وطنپال دیاني، منلی حبیب الله رفیع، پوهندوی اسماعیل یون، منلی زرین انځور ، منلی محمد معصوم هوتک، ډاکټر نبی مصداق، ډاکټر عثمان روستار تره کي، پوهاند مجاور احمد زیار ، پوهاند ګل جانان ظریف، پوهاند سرزمین کیمور ، پوهاند محمد حسن کاکړ، ډاکټرعبد القیوم کوچی، ډاکټر عبد القیوم مومند ، منلی محمد اصف صمیم، ډاکټر بسم الله امیر ، منلی غلام محی الدین زرملوال، منلی غلام محمد زرملوال، منلی ننګیال، منلی محمد اصف وردک...(او نوری خویندی وروڼه). د تماس مزي دې د ډاکټر نبي مصداق او منلي محمد اصف وردک په لاس کې وي. په افغانستان کی د شاهي دورې په وروستني اساسي قانون کې (تله ۱۳۴۳المریز= اکتوبر ۱۹۲۴م) راغلي وو چې د افغانستان د نورو ژبو له منځ نه«پښتو او دري رسمي ژبې» دي. (دریمه ماده). د همدغه اساسی قانون په پنځه د برشمه ماده کې پښتو ملي ژبه ګڼل شوې وه او دولت موظف شوی و چې د هغې د پالنې، پرمختیا او زیات استعمال لپاره «اغیزمن» پروګرام را وباسي او عملي یې کړي. له دینه یو کال وروسته(تله ۱۳۴۴یانی اکتوبر ۱۹۲۵) پارلمان ته دهغه مهال لومړی وزیر ډاکتر محمد یوسف ورغی. د حامد کرزي پلار عبد الاحد کرزي چې د ولسي جرګې غړی و په ډاکټر یوسف نیوکه وکړه چې ولې یې د اساسي قانون د پنځه دیرشمې مادې سره د ملي ژبې پښتو د پرمختیا او ترویج لپاره پروګرام نه وجوړ کړی. ډاکتر محمد یوسف ورغبرګه کړه چې د ژبو قانون به جوړ کړي او پارلمان ته به یې ولیږي

---

452 - Pashto action council
453 - Pashto terminological databases
454 - Task force

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۰۱ زییز په اکتوبر کې د امریکې په مشرۍ د لویدیزې امپریالیستي نړۍ جنګي سازمان ناټو په افغانستان یرغل وکړ او خپله وحشي تنده یې د ټول( لر او بر ) پښتون په وینه ، ژبه او سیاسي کلتور ماته کړه.د امریکې مرکزي استخبارات(سي.آي.أئ ) د هر کال په جولای کې «د نړۍ د معلوماتو کتاب» خپروي. د ۱۹۹۱ زییز(۱۳۷۰ لمریز ) پورې ، د مرکزي استخباراتو په دغه کتاب کې پښتانه د افغانستان د وګړیو پنځوس سلنې(۵۰٪ )جوړولولې او د پښتو ژبې برخه هم پکې پنځوس سلنې ښودل شوې ده.خو یو کال وروسته ،د سي آي أئ په ذکر شوي کتاب کې( ۱۹۹۲م=۱۳۷۱ل ) د پښتنو شمیر آته دېرش سلنې(۳۸٪ )او د پښتو ژبې برخه یې پنځه دېرش سلنې(۳۵٪ )معرفي کړل.له دېنه دوه میاشتې وړاندې(اپریل ۱۹۹۲=ثور ۱۳۷۱ )شمالي ټلوالې په کابل کې سرک الطوایفي پیل کړې وه. د ۹۱۱ بخولې سره جوخت، له اکتوبر ۲۰۰۱ راهیسې امریکې د روسیې، ایران او پاکستان د خوښۍ لپاره ټول پښتون او د پښتو ژبه ژوبل کړل،او د افغانستان په استعماري اساسي قانون کې یې د ډیورنډ لیکې وویستلې. اوس پوښتنه داده چې جلالت چپن حامد کرزی به د خپل پلارپوښتنې ته( چې له صدر اعظم ډاکټر محمد یوسف نه یې کړې وه ) څه ډول ځواب ووایي؟ !ـ

زرڅېړۍ ،کلیفورنیا ، امریکا

اپریل ۸ ، ۲۰۰۸=۲۰وری ۱۳۷۸

ډاکټر زیرکیار

۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# «په ارد و يې ګتم او په پښتويې ختم»: د ژبې سياسي اقتصاد

پورتني سرليک مې له کومه کړ؟ پوهاند محمد همايون هما په پښتونخوا (مردان، هسکه مينه) کې د پښتو ژبې تکړه محقق او وتلی نقاد دی. يوه ورځ يې راته په ټليفون کې(۲۰۰۱م) د پښتو د وضعې په اکله خپل احساس په پورتني سرليک کې څرګند کړ. د پوهاند هما په دغه کوټلې جمله کې د پښتو ژبې سياسي اقتصاد ځليږي چې په دې ليکنه کې به يې د پښتونخوا په مثال وګړيږم.

انګريزانو نږدې ۲۱کلونه وړاندې د ۱۹۴۷ زيږيږکال په اوړي کې ټول هند په «اينډيا» او «پاکستان» وويشه او په دې ډول يې دواړه هيوادونه له خپل تمدني هويت نه محروم کړل. د هند نوم د «اينډوس» يا اباسين سره تړاو لري. پاکستان يو ترکيبي نوم دی چې دوه الفونه يې افغانستان او افغانيه(صوبه سرحد )تمثيلوي. د «بنګال» د نوم استازي توری د «پاکستان» له ترکيبي نوم نه لويدلی و. انګريزانو د پاکستان په نوم دولت د يوه جبهيي دولت په څير راوتوږه چې د کمونيزم نفوذ ته پاټک واچوي.

اليکس فون تانزلمن په خپل مهم کتاب کې ليکي چې برتانيه د هند نه وتلی نشي خو دا چې «د مسلمانانو لپاره يې يو جلا هيواد» جوړ کړی وی. فون تانزلمن زياتوي چې که محمد علی جناح ته «د پاکستان د پلار په سترګه کتل کيږي، چرچل بايد د پاکستان د تره مقام ولري.»[455]

د اليګر کالج د مدير ارکوبالډ(۱۹۰۵تر۱۹۱۰) په تشويق د اغاخان(۱۸۷۵تر۱۹۵۸) په مشری د جګ پوړه مسلمانانو يوې ډلګۍ د هند د ويسرا سردار مينټو سره وکتل. (۱/ اکتوبر/ ۱۹۰۲). له دينه درې مياشتې وروسته(۳۰ د سمبر۱۹۰۲) د نواب وقار الملک په مشرۍ د مسلم ليګ ګوند جوړشو، او د ۱۹۴۷ د اګست په ۱۴ پاکستان خلق شو.

د انګريزو اکمنانو دغې سياسي جادوګرۍ ته پخپله يو انګريز «د تاريخ معجزه» وويله، او ملي شاعر محمد امين ملنګ جان(۱۹۰۸تر۱۹۵۷م، ۱۲۸۷تر ۱۳۳۲المريز) ورته په خپل شعر کې «د مکرګوډی» وواېه. ولولی: زيرک يار (راويستونکی)، ملنګ جان د بې درباره ملي ژبې ملي شعر، کب ۱۳۷۳المريز، فبروری۱۹۹۵، مخونه ۸ تر ۹.

په دې ډول «د تاريخ د معجزې» او «د مکرګوډي» په راتوږلو سره د پښتنو دا حق چې خپل برخه ليک په خپله وټاکي، غصب شو.

مخکې له برتانوی هند نه، په هند کې مغلی واکمنی چې په اردو او فارسی ژبو چليد له، د اليګر د خوځښت لپاره هويتی چينه وه. د دغه خوځښت د پلويانو په فکر کې اردو ژبې غښتلی مقام لاره، او دغه مقام يې د خپل راتلونکی مغل ډوله سياسی نظام لپاره مناسب ګاڼه. همزمان د برتانوی هند په اوتارپراديش او بيهار سيمو کې د هنديانو ژبنې

---

[455] - Winston Churchil " must qualify as its uncle, and therefore, as a pivotal figure in the resurgence of political Islam" Alex von Tanzelmann, Indian summer: The secret history of on Empire. New York, 2007, p.128.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي ګري (لنګویج نیشنلیزم) احساس راوټوکیده چې په مغلي هند کې د اردو ژبې د امتیاز سره په ټکر کې شو. د هند ژبنیو ملي ګرانو غوښتل چې په هند کې د مغلي اردو امتیاز پای ته ورسوي، او پر ځای یې خپله هندي غښتلې کړي چې په «دیوانګري» پټې (الفبا) او له سانسکریټ نه په راوتلو الفاظو به ودانه وي. په دې هندي – ژبنې خوځښت کې دا احساس هم غلې شوی و چې هند دې د هندیانو لپاره وي. دغه احساس د مسلم لیګ مفکران دې ته لا زیات وهڅول چې اردو ژبې ته دغتې هویتي چیني یاني «د مسلمانانو د ژبې» په سترګه وکسي (لنګویج اف مسلیمز). که د مسلم لیګ د مشرانو لپاره د اردو ژبې ملي کولو «دیني اهمیت» (ریلیجس زیګنیفیکنس) لاره، هم مهال دغه ډول اهمیت ته د هند د ویش نورو پلویانو (ختیزو بنګالیانو) سرنه ټیټاوه. هغه مهال ختیز بنګالیان په ټول پاکستان کې ډیرکیان وو (۵۶٪). [456]

دا چې پاکستان د بنګالیانو لپاره «څه مفهوم لاره» ، الیسا ایریس په یو لمن لیک (فوټ نوټ) کې سپارښتنه کوي چې د فیلیپ اولډینبورګ لیکنه ولولو: [457]

دغه سپارښتنه موږ ته په ګوته کوي چې د ژبې مسلې په دې کې یو غټ رول ولوباوه چې ختیز پاکستان (ختیز بنګال) له پاکستان نه په ۱۹۷۱ زییږ کال کې جلا شي. په

پاکستان کې د قاید اعظم پوهنتون د ژبپوهنې پوهاند طارق رحمن لیکي چې د بنګالي ژبې خوځښت (۱۹۴۸ تر ۱۹۵۲) په ختیز پاکستان کې د بنګلادیش جوړولو ته لار پرانیستله. [458]

د مسلم لیګ مشرانو اردو ژبه چې ډیر کوچنې اقلیت یانې او وه اعشاریه دري سلنو (۷،۳٪) مهاجرو ژبه وه، د ملي اسلامي ژبې په څیر په پاتې ټول ولس وروتپله (مهاجر هغه څوک وو چې له هیند نه پاکستان ته کډوال شوي وو او په غټه کچه په کراچۍ او حیدراباد کې میشت شوي دي).

الیسا ایریس لیکي چې د ژبنې پیژاند (هویت) په سر کړکیچونه «ځانله» د ژبې په موضوع نه راڅرخي، بلکه د دغو کړکیچنو سره هغه مبارزې هم غبرګیږي چې قدرت په رسیدلو راچاپیره وي. په اوسني پاکستان کې د قوم له مخې جګ پوړه دولتي – اداري مقامونه په دې ډول اټکل شوي دي: پنجابیان (تقریبا ۴۹٪)، پښتانه (نژدې ۸

---

456 - " According to the 1951 census, 56 percent of Pakistan`s population counted Bengali as their mother tongue." Alyssa Ayres, " The politics of language policy in Pakistan", in Michael E. Brown and Sumit Ganguly(eds.), Fighting words: Language policy and Ethnic Relations in Asia. Harvard university preses, 2003, pp. 55 – 57.

457 - Philip Oldenburg, " < A place In sufficiently Imagined>: Language, Belief, and Pakistan crisis of 1971", Journal of Asian studies, Vol.44, No.4* August 1985), pp. 711 – 733.

458 - " The Bengail language movement of 1948 – 52 in East Pakistan fulled the emergence of Bengali ethno – nationalism, which lead to the creation of Bangladesh and the breakup of Pakistan in 1971." Tariq Rahman, "language, power and ideology", JSTOR : Economic and political weekly, Vol. 37, No.44(Nov. 2 – 15, 2002), pp.4556 – 4560.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٪) ، مهاجر(۳۰ عشاريه۲۹٪) ، سيندي(دوه نيم ٪) ، بلوڅ(صفر عشاريه۲۵٪) ، بنګالي(نهه عشاريه ۳۵٪ ):[459]
دپاکستان دخپلواکۍ له اعلان(۱۴اګست۱۹۴۷) نه څه کم دوه مياشتې وروسته، محمدعلي جناح د «شمال لويديزسرحدي صوبې» ايالتي اسامبلۍ شنډه کړه –ددې لپاره چې دپښتنو د زياتې خودمختارۍ غوښتنې ته پاتک واچوي. دلته يوځل بيا وينو چې د ژبې هويتي رول اهميت لري ! په دې اړه اليسا ايريس داسې کاږي:[460]
د ۱۹۵۲ په جنورۍ کې چې په ختيزبنګال کې اردو رسمي ژبه اعلان شوه، سمدلاسه يې د پوهيدونکو (محصلينو ) مخالفت او مظاهره راوپارول. له دې امله د شپې قيودات وضع شول. دهمدغه کال دفبرورۍ په ۲۱ نيټه چې پوهيدونکود پوليسو له امر نه سرغړاوه، د پوليسو له خوا په ډزو کې څلور پوهيدونکي ووژل شول. دغه ورځ په بنګلاديش (په پخواني ختيزبنګال=پخواني ختيز پاکستان) کې «د ژبې ورځ» په څير نمانځل کيږي.[461]
ختيزبنګال چې په ۱۹۷۱ کې خپلواک بنګلاديش(دبنګالينو هيواد ) شو ، پخوانی لويديزپاکستان په اوسني پاکستان واوښت. دپاکستان په پايتخت اسلام اباد کې د قايد اعظم پوهنتون د ژبپوهنې پوهاند طارق رحمن د ملي او رسمي ژبې په اړه داسې نظر لري: دپاکستان په بين المللي الوتنو کې اعلان سربيره په اردو ژبه، په انګريزي ژبه هم کيږي. په سړکونو کې دتجارتځايونو لوحې په انګريزي او اردوژبو ليکل کيږي. دې وايي چې اردو دپاکستان ملي ژبه ده، او انګريزي يې رسمي.
دپاکستان دليکلي اساسي قانون(۱۰ اپريل ۱۹۷۳) په ۲۵۱ ماده کې هم په څرګندو الفاظو راغلي دي چې اردو يې «ملي ژبه» ده او انګريزي يې «د رسمي هدفونو» لپاره کارول کيږي (ياني: انګريزي رسمي ژبه ده ).[462]
دپاکستان اووه نوي سلنې(۹۷٪ ) وګړي مسلمانان دي چې په ۷۲ ژبو غږيږي. اردو په ښارونو کې دغتې راشې درشې ژبه ده، او انګريزي په پاکستان کې د سروالې پتې (ايليټ) د رسمي او غير رسمي راشې درشې ژبه ده. په رسمي راشه درشه (کمونيکشن ) کې شخصي خبري اترې، تفريحي موضوعګانې، لوستل او سفرکول شميرل کيږي. انګريزي ژبه د پخوا په کچه (دانګريزانو د پير په کچه) ، نن ډير زيات چلن لري:[463]

---

[459] - Punjabi (48.89%), Pashtuns(8.12%), Mahjir(30.29%), Sindhi(2.50%), Baluchi(0.25%), Bangali(9.35%).

[460] - The Pakhtun movement sought the official use Pashto in the provincial Assembly as well as in the schools.(p.57)

[461] - "This event has been memoralized in Bangaladesh as language day ( or Ekushe)" (ibid., p.59).

[462] -Article 251
"1. The national language of Pakistan is Urdu, and arrangements sha"be made for its being used for official and other purposes..."
"2. Subject to clausel, the English language may be used for official purposes until arrangements are made for its replacement by Urdu."

[463] - " It is perhaps more today entrenched than it was during the British period." Tariq Rahman, " The Role of English in Pakistan with special reference to tolerance and Mititary", in Amy B.M Tsui and James W.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند طارق رحمن په پښتو نخواکی «پښتو ژبه او هویت سازي» په مشخص ډول د خیړنی لاندی نیولی دی:[464]
مخکی له دی چی ددی لیکنی د مهموټکو سره لوستونکی اشناکړم، د پاکستان د اساسی قانون(۱۰ اپریل ۱۹۷۳) د ۲۵۱ مادی د ریم بندته د هغوی پام راګرځوم: «بی له دی چی د ملی ژبی موقف ته زیان ورسیږی، ایالتي اسمبلي (جرګه) اجازه لری چی سربیره په ملی ژبه د قانون له لاری د یوی ایالتی ژبی د تدریس، غښتلتیا او کارولو لپاره اقدامونه وټاکی»:[465]

د اسی بریښی چی د ۱۹۷۳ اساسی قانون به له هغې ژبنۍ ویرې نه الهام اخیستلی وی چی په ۱۹۷۱ کی یی په ختیزبنګال کی د بنګلادیش جوړولوته لارپرانیستله

مادپاکستان د ۱۹۷۳ کال د اساسی قانون د ۲۵۱ مادی د ریم بند د پوهاند طارق رحمن د پورتنی لیکنی تلی ته واچاوه: سره له قانونی اجازی او وعدی، پښتو په پاکستان کی د قدرت په قلمرو (اداره، عسکری، قضایی، تجارت، تحصیلات، تعلیمات، او تحقیقات = ریسرچ) کی ددی وس ونه مینده چی پاپې واخلي. د مغلوله برکته اردو چی ډیرکوچنی اقلیت(اووه عشاریه ۳٪) ژبه وه هم ملی شوه او هم اسلامی.

د پښتو ژبی د خوځښت لاربنود د خدایی خدمتګار سازمان وچی غړو یی ځانونه د لیکنو ، شعرونو ، غونډو ، ډرامونو ، ښوونځیو او خپرونو له لاری د خپل قوم او ژبی خدمت ته چمتو کړي وو. په ۱۹۲۸م کی یی د «پښتون» په نوم مجله راوویستله. دغه مجله د «انجمن اصلاح الافاغنه»(۱۹۲۱م ) د ترجمان په څیرپیل شوه. د باچاخان (فخر افغان) د مشرځوی عبدالغني غني لومړی شعربه په پرله پسی ډول د پښتون مجلی په تندی خپریده:

چی خازې شنې مې په قبروي ولاړې که غلام مړشوم راځئ توکئ پرې لاړې
چی پـه خـپلو وینونـه یم لمبـید لـی مـورې ماپـسې په کوم مخ به بیا ژاړې

د ۱۹۴۲ په اپریل کی عبد الغنی غنی د «زلمی پښتون» په نوم یو تنظیم جوړ کړ. د باچاخان خورزی پوهاند جهان زیب نیازلیکی چی د دغه تنظیم د جوړولو «هدف د شیرشاه سوري او احمدشاه ابدالي په تګ لاره د عمل تابیاکول وه.» په بنوکی د لویی جرګی پریکړه(۲۱ جون ۱۹۴۷ ) په پښتو ولیکل شوه. په دغه پریکړه کی کوټلي سیاسي مطالب خوندي شوی وو. د دغه حقوقی او تاریخی سند د اصل د کوپی (فکسیميلې ) لپاره ولولئ دا لمن لیک:[466]

---

Tollefson(ed.), Languages policy, culture, and Identity in Asian context. New Jersey: Earlbaum Assoc., Inc., Publisher, 2007, 219 - 220

[464] - Tariq Rahman, “ Pashtu language and identity – formation in Pakistan,” Contemporary south Asia, Vol.4, No.2 (July 1995, pp. 151 – 20)

[465] - “ without prejudice to the status of the national language, a provincial assembly may be law prescribe measures for the teaching, promotion and use of a provincial language in addition to the national language.” (Article 251,3)

[466] - Rahmat Rabi Djan – Zirakyar, Stammesgesellschaft, Nationalstaaat und Irredentismus am Beispiel der Pashtunistanfrage. Frankfurt am Main: Haag+Herchen Verlag, 1978, p.332.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته به را وګرځم د پوهاند طارق رحمن څیړنې ته: دی لیکي چې په «پاکستان کې پښتو دولتی(رسمي) ژبه نه ده. او په شمال غربي سرحدي صوبه کې هم ډیر کوچنی رول لوبوي.» که څه هم پاکستان په ګڼ ژبتوب(مالتي لینګو الیزم) سترګې نه پټوي په د ۱۹۷۱ م په وګړشمیرنه کې د ژبې په اکله پوښتنه «نه وه خوندي شوې».[467]
پاکستان کې د حاکمې طبقې(«سالاریت») جګ پاړکي انګریزي استعمالوي، او د دې لپاره چې لږه پر مختللې صوبايي(ایالتي) حاکمه طبقه(«پرووینشل «سالاریت») په خپله ولکه کې وساتي، د حکومت له لارې اردو ژبه نیغه نیغه کوي. هغه ازاد ښوونځي(ازاد سکولز) چې باچاخان جوړ کړي وو، په پښتو چلیدل. د باچاخان مشرځوی او د پښتو ژبې وتلی فیلسوف شاعر عبدالغني غني وایي[468] چې هلته د پیل کوونکو شاګردانو لپاره د تدریس ژبه پښتو وه. پخپله باچاخان هم د ملت کیدنې لپاره د ژبې په اهمیت پوهیده.
عبدالغفور خان په(سیدو) کې په ۱۸۵۴ کې لومړی ضد امپریالستي اخبار د اسلام په نوم راوویست چې په پټه به چاپیده او ویشل کیده. په دې اخبار کې به د امپریالیزم په ضد، خود پښتو او اسلام لپاره تبلیغات کیدل. طارق رحمن په دې چینه حواله ورکوي: سلطان صابر، پشتو صحافت(په اردو ژبه کې)...[469]
یو څو ارلس ورځنۍ مهالیزه هم د «انګار» به نوم خپریدله چې زیاته برخه به یې پښتو او لږه برخه به یې په اردو ژبه کې وه. چلونکی یې خدایي خدمتګار امیرنواز خان جالیه و(د سلطان صابر ذکرشوی اثرچې په پورتنی ۴۷۰لمن لیک کې ښودل شوی دی، مخ ۱۸۹). طارق رحمن لیکي چې په ټولو کې اغیزمن ارګان د «پښتون» خپرونه وه چې د پښتو ژبې لپاره د ژب پلان په موضوع یې ټینګار کاوه. د لته به په پښتو ژبه د پښتون قوم د هویت د غښتلي کیدلو لپاره ټینګار کیده، او د غه شان پښتنو او ادارو ته به یې سپارښتنه کوله چې پښتو د ې په رسمي او غیری رسمي ساحو کې وکاروي. باچاخان د پښتون مجلې په دوه ګڼو کې (اګست او سپتمبر ۱۹۲۹م) د انګریزانو په تعلیمي نظام نیوکه کړې وه چې خلک «اجنبي» کوي او خپل حاکمیت «دایمي» کوي. د غه شان د باچاخان غوښتنه دا وه چې پښتو ژبه د ې په لومړیو زده کړو کې د «تدریس» وسیله وي[470]
د غه شان یو بل چا هم وړاندیز کړی و چې هرڅوک د ې خپل ورځنیکارونه پخپله په پښتو کوي. له حکومت نه هم هیله شوې وه چې یوه «پښتو اکیډیمي» دې جوړه کړي او هرکال دې ورته څلویښت زره روپۍ لګښت حواله کړي. د غه شان غیري پښتون خلک هم د پښتو زده کړې ته رابلل شوي وو، «خاصتاً که هغوی غواړي چې شمال غربي سرحدي

---

467 - " ….. the census of 1971

468 - دغني خان سره دطارق رحمن مرکه په اتمانزوکی(۲ / نومبر/ ۱۹۹۳)

469 - Sultan Sabir, " Pashto sahafat" (Urdu: Pashton Journalism) in Nawaz M. Tair, Suba sarhad par paehli Lisani aur Saqafati Conferece ke Muqalat ka Majmua(Urdu: A collection of papers on the first linquistic and cultural conferece of the frontier province) ( Peshewar: Pashto Academy, 1986), p.186.

470 - According to Tariq Rahman, pashtun magazine " gaineal widest popularity …. Badshah Khan criticized the Britsh school system for "alienating" the people and :perpetuating" their rule. Prof. Rahman" ( Pashtu Government schools and the pakhtuns). Also, see para 417 of the police abstract of Intelligence: Acc 479(NDC)

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوبه کی کاروکړي.» پوهاند رحمن په دی چینه حواله ورکوی:[471]
ډاکټرخان صاحب(د باچاخان مشرورور) هم غوښتل چی پښتون ماشومان دی په پښتو زده کړه وکړي(د رای بهادر ایشارداس او رای بهادرمهرچند خاننا ویناګانې، د صوبی د قانون سازی اسمبلی بحثونه[472]
په ۱۹۳۸م کی د ډاکټرخان صاحب حکومت په دی بریالی شو چی د پښتنی سیمو په ښوونځیو کی لمړنۍ زده کړې(پرایمري ایجوکیشن) په پښتو شی.[473]
خو عملاً د غسی ونشول. یانی پښتو د تدریس ژبه نشوه، بلکې پښتو به د یو مضمون په حیث ښودل کیدله. پوهاند رحمن په لاندی چینه حواله ورکړی ده:[474]
زما په اند، انګریزانو غوښتل چی پښتو ژبه دې د پښتو د پیژاند(هویت) په غښتلی کولو کی رول ولوبوي. ښکیلاکګر حکومت په ۱۹۰۱ کی په پښتونخوا بې خونده نوم (شمال غربی سرحدی صوبه) وروتا په چی د اصلي هیواد افغانستان سره یی د خپلوۍ او وروروليۍ مزي غوڅ کړي او د بې هویتۍ په سیند یی لاهو کړي. ولې به ښکیلاک ګره برتانیه د ومره لیونی شی چی د پښتو ژبی د پرمختګ په واسطه دې د پښتنو هویت تأمین کړي.
پښتو خو لا څه کوئ چی انګریزانو فارسي ژبه هم په قضایی محکمو کی نشوه زغملی – ښایی په دې دلیل چی د افغانستان دربار خیلو پښتنو خپل دربار په فارسی چلاوه؟ ښکیلاک ګروانګریزانو پښتو ژبه یواځې په غیر مهمو، د طارق رحمن په وینا په «څنګونو ساحو کی» زغملی شوه چی «تمثیلی ارزښت» یی لاره. «نه به د قانون سازې اسمبلۍ قوانین په پښتو کی چاپیدل» او نه به یې د هغې هغو غړوته «د پښتو اجازه ورکوله چی په انګریزی پوهیدل»
د سوات میاګل عبدالودود چی د یو سفزو مشرو، په ۱۹۲۶ کی د انګریزانو لخوا د والي په حیث په رسمیت وپیژندل شو. هغه د پښتو لپاره د پام وړ ژب سیاست غوره کړ:
۱ – پښتو یی په سوات کی رسمی حکومتی ژبه اعلان کړه. خاصی فورمی او لیسټونه یی په پښتو چاپ کړل چی په دفترونو او محکمو کی به استعمالیدل.
۲ – ولس او مامورین باید ساده لیکلی ژبه په خپله ورځنۍ وظیفه کی وکاروي، او په لنډ ډول دې خپل اصلي ټکي معرفي کړي.
۳ – د سوات د والی عبدالودود په هڅه یو خو کتابونه د بیلابیلو ژبو نه په پښتو وژباړل شول. خو د نورصوبه سرحد په شان، په سوات کی هم د تدریس ژبه اردو او انګریزي پاتی شوې.
په ۱۹۴۷ کی د مسلم لیګ ګوند مشرانو غوښتل چی په پښتونخوا کی دی ریفرنډم په پاکستان او هندوستان وشي.

---

[471] - M. Mosharaf Babar, " Zamung Jaba o Mung" ( Pashto: We and our language), Pakhtun)1 Nov. 1945) pp. 17 - 18
[472] - Legislative Assembly Debates: F28 september 1937, p.622, quoted in Rahman
[473] D.G. Tendulkar, Abdul Ghafar Khan: Faith is battle(Gandhi press foundation), p. 229, quoted in Rahman.
[474] - Report on public Insrution: N.W.F.P. 1940 – 41(Peshawar: Manger of Government printing, 1941), p.61

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې په ضد ، باچا خان غوښتل چې دغه ریفرنډم دې په پښتونستان او پاکستان وشي. دلته طارق رحمن د باچاخان په کتاب(«مای لایف انډ ستړګل» ، نویډیلی ، ۱۹۶۹ ،مخ ۱۷۸) حواله ورکړې ده.
نصرالله خان نصرد «ادبي ټولي» منشي وچې په زییز ۱۹۴۳ کی جوړشوی و. دی په دې کې لګیاوچې پښتو دې دژوند په ټولو ساحوکی عملي شي. نصرالله خان نصر «دپښتو شهید» نوم ګټلی دی(مارټراف پښتو)ـله جنوبی وزیرستان نه د سیاسی ایجنټ له خوا دصوبه سرحد دحکومت مشرسکرټری ته لیک ، ۱۹جنوری ۱۹۵۰ ، ډی او نمبر۱۲/ایس۸ / ۴۹ ، نیشنل ډاکیومنټیشن سنټر –دپوهاند رحمن په حواله
په ۱۹۵۰ کی دصوبه سرحد قانون سازې اسمبلۍ چی دعبدالقیوم خان مسلم لیګ ډله پکی برلاسی وه، په محکموکی دانګریزی ژبی په ځای داردو ژبی داستعمال وړاندیزوکړ. خواردو ژبه په لومړیو(ټیټو ) محکموکی کاریدله، اولوړې محکمې د پخوا په شان په انګریزی ژبه چلیدلې. دپوهنی وزیرمیاجعفرشاه کاکاخیل په اسمبلۍ کی داسی دریځ ونیو: دپښتني سیموپه ټولولومړنیواومنځنیوښوونځیوکی اوپه پوهنتون کی دې دپښتو مضمون درس ورکول کیږي.
خوواقعیت داوچی پښتو ژبه دمعتبروښوونځیوانګړته نشوه ورننوتلی:[475]
دغه شان په حکومتی ښوونځیوکی چی پښتو پکی په لومړی اودوهم ټولګی کی د تدریس ژبه وه اوترپنځم ټولګی پوری حتمی مضمون و ، پښتوپکی«سمه نه ښودل کیدله» (ډیډ ناټ ټیچ پښتو وېل). کله به دښوونکوکمښت واوکله به زده کوونکي دېته نه تشویقیدل چی په خپله خوښه دپښتو مضمون په لوړوټولګیوکی(شپږم ترلسم ) تعقیب کړي.
لیکوال پوهاند طارق رحمن کاږی چی پښتو دتدریس دوسیلې(میډیم اف اینسټرکشن ) په څیرحتی په لومړیوښوونځیوکی(۱ –۴ټولګیو ) هم د۱۹۸۴ کال پوری نه وه استعمال شوی. داهغه وخت چی دشوروي فوځونو په ضد دافغانانو دجهاد چیغه توده وه اوپه میلیونونو افغانان پښتونخواته کډوال شوي وو. که دپښتو وضعې ته په پاکستان کی کلک پام وکړو ، دې پایلې ته به ورسیږوچی دپښتو مشکل د ژبې په سیاسي اقتصاد کی پروت دی: داواقعیت چی کارپه انګریزي اواردو ژبو کی میندل کیږي، کورنۍ ولې دخپلو ماشومانواوځوانانو وخت په پښتو ضایع کړي. په بله وینا ، په پښتو کی زده کړه اودپښتو زده کړه د قدرت او اقتصاد قلمروته نشي ورننوتلی او مولده اوګټوره وظیفه نه لري. په پاکستان کی دپښتو ژبی دپرمختګ هڅوسینګاری (کاسمیټک ) جنبه لرله، نه واقعی وظیفوی. دپوهاند طارق رحمن په وینا:[476]
ډاکټرطارق رحمن په خپله څیړنه(پښتو لنګویچ اینډ ایډینټیټی –فورمیشن اِن پاکستان ) کی دی پایلی ته رسیږي:

---

[475] - Actually, "Pashto could not be introduced in the elite schools at all…..Thus, the English medium schools of the NWFP never included Pashto in their curricula."
[476] - "Pashto – speakers still cannot aspire to positions of power in Pakistan without learning Urdu and English."

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې دپښتو «خوځښت دامپریالیزم په ضدو ، برتانویانو یې دبریالیتوب مخه ونیوله.»[477]
پاکستان هم چې دلویدیزدګټولپاره دجبهې دلیکې هیواد (فرنټلاین کنټري) دی، دپښتنو اود دوی د ژبې په ضد هغه لار خپله کړې ده چې انګریزان پرې روان وو.

زرغیږی (تو زند أکس) ، کلیفورنیا ، **۲۵**جولای ۲۰۰۸. ډاکټر رحمت ربی زیرکیار

[477] - "As the movement was anti – imperialist, the British did not allow it to succeed."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پــــا یـــله

له ډیر پخوا راهیسې انسانانو د غوره(کمال مطلوب) ټولنو په اکله بشپړ خوبونه لیدلي دي خو له بدې مرغې ترنن پورې رښتوني شوي نه دي. د نورو ټولنو په شان، افغاني ټولنه هم بې عیبه نه ده. نسبتا کلکه ملي ټولنه په نسبي مساواتو چلیږي او مساوات په حساب. په حساب کی د یوې ټولـنې وګړي، شتمني او عایدات، د سیاسي قدرت مقامونه،ټولنیز اتبار، او د کلتوري هویت اسانتیـاوې او امتیازونه راځي.

نن د نړۍ د وګړو ستر اکثریت خپله راشه درشه په هغو هیوادونو کې چلوي چې څو قومونه پکې ژوند کوي او ګڼ ژبتیا پکې برلاسې ده. په بله وینا، د نړۍ خورا ډیر هیوادونه ګڼ ژبي دي، او په مقابل کی یې یو څو ګوتې په شمار یو ژبي دي

افغانستان هم د نړۍ په هغو ګڼ شمیر هیوادونو کی راځي چی په قومي لحاظ نامتجانس دي(د افغانستان خلک په څه د پاسه دیرش ژبو/لهجو غږیږي). افغانان هم باید د نړۍ د ګڼ شمیر نامتجانسو ټولنو په شان لار وباسي او د خپلو لرې او نږدې ګاونډیو یا نو نه زده کړه وکړي.

ژبه له دینه ډیره ده چې یوازې او یوازې د افهام او تفهیم(پوهاوي راپوهاوي) په وظیفه کې رالنډه شي. ژبه یوه «معجزه» ده چې په وینا کې نه ځاییږي، توپیر نه لري چې له کومې څنډې نه ورته وګورو.

که ژبه نه وای، دینونه به ناشونی وای او انسانان به یو بل ته پردیان وای. بې له ژبې به استعدادونه پټ وای او فکرونه به شړ وای. کمپیوټر نیټ(کمپیوټري جال) نن سبا یوه اریانوونکې پرمختیاده او د پخواني بې جسمه واقعیت(ژبې) سیوری دی.

ژبه هغه بې وسلې او بې لښکره امپراتوري ده چی په ټوله نړۍ یې د خپل حاکمیت وزرې خپرې کړې دي. ژبه هغه بې جسمه نړیواله امپراتوري ده چې د خپلو اتباعو د معنوي کلتور دیره یې توده ساتلې ده او احساس یې ټکوروي.

ژبه یوازې د پوهاوي راپوهاوي(افهام او تفهیم) لوښی نه دی، بلکې د هویت چینه هم ده، او له همدې امله ده چې هیوادونه ملي او/یا رسمي ژبې لري. د بریښنا ییزې ټکنالوجۍ په مټ د ژبې د پوهاوي راپوهاوي وظیفه اسانه شوې ده، خو د هویت سازۍ وظیفه یې لا تر اوسه د هیوادونو او ملتونو په اوږو بار ده. ګډه خاوره، ګډه ژبه، ګډ دین او ګډ تاریخ د قبیلوي ملاتړ او ملي–سیاسي تړون په رامنځته کولو کې اغیزمن رول لوبولی شي. هرڅومره چې د ملت کیدا عناصر ګڼ او غښتلي وي، هغومره د ملي-سیاسي تړون بنسټ کلک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برتانوي پاکستان د خپلې هویت سازۍ لپاره د مغلو د دربار ژبه (اردو) مناسبه وګڼله چې د یوه غیر قابل ملاحظه اقلیت( اووه عشاریه د رې سلنو ) ژبه وه، خو په مقابل کې یې پښتو ژبې ته د دې مجال ورنکړ چې د قدرت په قلمرو کې پاېې واخلي. له دې امله په پښتونخوا (افغانیه) کې پښتانه مجبور شوي دي چې « په اردو یې وګټي او په پښتو یې وخوري». په غټې ګمان سره اروانښاد ګل پاچا الفت به هم په لاندې شعر کې د پښتو ژبې کرغیړنې وضعې ته ګوته نیولې وي چې په اوسني افغانستان کې هم د قدرت او اقتصاد قلمرو ته نشي ورننوتلی:

سر او کار د خلکو دی د ژبې له سرکار سره

کله به غریبه پښتو ژبه د سرکار شي

دېته د ژبې سیاسي اقتصاد (پولیټیکل ایکانُمي آف لنګویج) ویل کیږي.

دا ناشوني ده چې په نړۍ کی د نړدې شپږ زره ژبو/لهجو له مخې دې بیل بیل هېوادونه جوړ شي. ماشومان او تنکي ځوانان په اسانۍ سره کولی شي چې ژبې په طبیعي ډول (د ژبو په چاپېریال کی) زده کړي. اوسني افغان نسل او راتلونکو افغان نسلونو ته باید په ورکتون، ښوونځي او پوهنځي کې د دې زمینه برابره شي چې دوه غټې ملي/رسمي ژبې او لږتر لږه یوه مهمه بهرنۍ ژبه زده کړي. دا کار دوه غټې ګټې لري: یوه ګټه یې ملي ده، په دې مانا چې د دوه غټو ملي/ رسمي ژبو زده کول ملي نږدې والي ته لار پرانیځي. دوهمه ګټه یې شخصي ده، په دې مانا چې په دوه ملي/رسمي ژبو او لږتر لږه په یوې مهمې بهرنۍ ژبې مسلط افغانان په اسانۍ سره د ټول افغانستان په بیلا بیلو سیمو کې کار میندلی شي او هم مهال خپل مسلکي کفایت عملا په خپل ملي کفایت غښتلی کولی شي. دې ته زمنه ویلی شو.

زما په اند، افغان ملت ننسبا د دې اقتصا دي وس نه لري چې زده کوونکو ته دې په کوچنیو محلي مورنیو ژبو کې د رس ورکړي، په داسې حال کې چې د دوه غټو ملي/رسمي ژبو په منځ کې د انډ ول لپاره کوم تدبیر نه لیدل کیږي.

په اوږده ډګر کی به روغه دا وي چې په ټول افغانستان کی دې د درې(۳) ژبو نصاب پلی شي: دوه غټې ملي/رسمي ژبې او یوه بهرنۍ ژبه (لکه انګریزي او/یا عربي).

د دې لپاره چې ژبه دې د بېلتون په ځای د غبرګون لوښی (وسیله) شي، بویه دا چې د ژبې سیاسي اقتصاد دې د عدالت په ستنو ودریږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه افـغانـستان کې دې په لو مړي پړاو کې جـګ پـوړي دولـتي اوعلمي مقامونه هغو افغانانو ته ور وسپا رل شي چې په دواړو رسـمي ژبو کی لیکل، لوستل او ویل کـولی شـي او بـې له ژبـاړن نـه خـپلې رسـمـي وظیـفـې اجـرا کـولی شي. دلـته دواړه مــلي کفایت او مسـلکي کـفایت د یو بـل سـره اوږه په اوږه روانـیـږي ، او پـه دې ډ ول د ژبـې سیاسي اقـتصا د د عـدا لـت په سـتـنو و دریـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ملـــــــــونـــــه

(الف) د هغو هیوادونو د نومونو لړی،چې په اساسي قوانینو کی یې د ژبې په اکله مقررات خوندي شوي وي

**Alphabetical List of Countries with constitutional provisions related to language:**

**Afghanistan Barbados Burundi**

**Albania Belarus Cambodia**

**Algeria Belgium Cameron**

**Andorra Belize Canada**

**Antigua and Barbuda Benin Cape Verde**

**Argentina Bolivia Central African Republic**

**Armenia Bosnia & Herzegovina China**

**Austria Botswana Comoros**

**Azerbaijan Brazil Congo (Democratic Republic of)**

**Bahamas Brunei Darrusalam Costa Rica**

**Bahrain Bulgaria Croatia**

**Bangladesh Burkina Faso Cuba**

**Cyprus Iraq Mauritania**

**Djibouti Ierland Mauritius**

**Mexico Italy Dominica**

**Micronesia (Federated States of) Ivoray Coast East Timor**

**Moldova Jamaica Ecuador**

**Monaco Jordan Egypt**

**Mongolia Kazakstan El Salvador**

**Morocco Kenya Equatorial Guinea**

**Mozambique Kiribati Eritrea**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Namibia Estonia Korea(People's Democ Republic)**

**Nauru Kuwait Ethiopia**

**Nepal Kyrgeyzstan Fiji**

**New Zealand Laos Finland**

**Nicaragua Latvia France**

**Niger Lebanon Gabon**

**Nigeria Liberia Georgia**

**Norway Libya,Arab Jamahiriya Germany**

**Oman Liechtenstein Greece**

**Pakistan Lithuania Grenada**

**Palau Luxembourg Guatemala**

**Macedonia(Former Yugoslav Rep of) Panama Guinia**

**Papua New Guinea Madagascar Guyana**

**Paraguay Malawi Haiti**

**Peru Malaysia Honduras**

**Philippines Maldives Hungary**

**Poland Mali India**

**Portugal Malta Inndonesia**

**Qatar Marshall Islands Iran**

**Romania**

**Tuvalu Russian Federation**

**Uganda Rwanda**

**Ukraine Saint Lucia**

**United Arab Emiraets Saint Kitts and Nevis**

**Uzbekistan Saint Vincnet and the Grenadines**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Samoa**

**Saudi Arabia**

**Senegal**

**Seychelles**

**Singapoe**

**Slovakia**

**Slovenia**

**Solomon Islands**

**Somalia**

**South Africa**

**Spain**

**Sri Lanka**

**Sudan**

**Suriname**

**Sweden**

**Switzerland**

**Syrian Arab Republic**

**Tajikistan**

**Thailand**

**Togo**

**Tunesia**

**Turkey**

**Vanuatu**

**Venezuela**

**Viet Nam**

**Yemen**

**Yugoslavia**

**Zambia**

**Zimbabwe**

(ب) د هغو هیوادونو د نومونو لړۍ چې اساسي قوانین یا د ژبې په اکله مقررات پکې نه لري

**Alphabetical List of Countries without Constitutions or constitutional provisions related to linguistic rights:**

**Sierra Leone**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Swaziland**

**Angola Tonga**

**Australia**

**Bhutan**

**Chile**

**Czech Republic**

**Denmark**

**Dominican Republic**

**Guinea Bissau**

**Iceland**

**Israel**

**Japan**

**Korea (Republic of)**

**Myanmar**

**Netherlads**

**San Marino**

**Trinidad and Tobago**

**United Kingdom**

**United States of America**

**Uruguay**

**Source: www.unesco.org/most/ln2nat.htm**

**Most Clearing House Linguistic Rights National Constitutions**

- - - - - - - - - - - - - - - د کتاب پای - - - - - - - - - - - - - - -

LARAWBAR

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**